د پښتون بابا کهړنی: بېټ نیکه، اسماعیل، خرښبون.

شیخ اسعد سوري، شیخ تیمن کاکړ، ښکارندوی‌غوري، ملکیار غرشین، تایمني، قطب الدین بختیار

نثر: د سالو وږمه.



دوهمه برخه: شیخ متي، بابا هوتك، شیخ ملکیار هوتك، زمینداوری اکبر، سلطان بهلول لودي، خلیل خان نیازي، زرغون خان نورزی، زرغونه کاکړه، رابعه، دوست محمد کاکړ، شیخ عیسی مشواني، شیخ بستان بړیڅ، علي سرور لودي، مېرمن نېکبخته، شیخ محمد صالح الکوزی.

نثر: د سلیمان ماکو تذکره، د شیخ متي د خدای مینه، د محمد بن علي بستي تاریخ سوري، د احمد اخبار لودي، د شیخ کټه لرغوني پښتانه، د شیخ ملي دفتر، د کجوخان د پښتنو تاریخ، د بابړ خان تذکره غرغښت، د زرغوني بستان، د دوست محمد غرغښت نامه، د نیکبختي ارشادالفقرا، د شیخ قاسم تذکره الاولیا، د شیخ بستان بستان الاولیاء، د الله یار تحفه صالح.

د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك ښاغلي محمد حسن ضمیر ساپی "چې هغه وخت په پښتو ټولنه کښې د ادبیاتو د څانګې مدیر ؤ د کابل مجلې له ګڼو ګڼه راټول کړ، دغه مجموعه په دیارلس سوه اته دېرشم کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوه. ارواښاد ګل پاچا الفت (چې هغه وخت د ټولنې مشر ؤ) یوه لنډه مقدمه پر وکښله ددې چاپ د مخونو شمېر یو سلو شپږ او یا دی.

دا وخت لوی استاد علامه حبیبي په وطن کښې نه ؤ، تر راستنېدلو وروسته یې په دیارلس سوه څلوېښتم لمریز کال دغه دوهم ټوك بیا وکوت څه نوي مطلبونه یې پر زیات کړل او د دوهم چاپ له پاره یې پښتو ټولنې ته وسپاره.

ارواښاد علامه حبیبي ددغه کتاب په پای کښې کښلي دي:

"دا کتاب ما په دیارلس سوه پنځه ویشتم شمسي کال په کابل کښې لیکلی ؤ، خو د ټول کتاب په نشر موفق نه شوم او اوس مې په سر کښې څو نوې څېړنې پورې ونښلولې او دا دی پښتو ټولنې ته د خپرولو له پاره وړاندې شو.

امید لرم چې دغه مباحث به ښاغلو لوستونکو ته ګټور وي او که ژوند پاتې وو نو به ددې لړ دریم او څلورم ټوکونه هم ولیکم.
لسم د حوت، دیارلس سوه څلوېښتم کال- عبدالحی حبیبي"

د پښتو ادبیاتو تاریخ د دوهم ټوك دغه وروسته نسخه په دیارلس سوه دوه څلوېښتم شمسي کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوه، په دې چاپ کښې د مخونو شمېر له یو سلو شپږ اویا څخه دری سوه اته شپېتو ته جګ شوی دی. اروانښاد ګل پاچا الفت ددغه چاپ په مقدمه کښې کښلي دي: "د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوك- په دغه نامه یو کتاب د پښتو ټولنې له خوا په دیارلس سوه اته دېرشم کال کښې خپور شو. چې د پښتو ژبې محقق او پیاوړي لیکوال عبدالحی حبیبي څو کاله پخوا لیکلی او په کابل مجله کښې پرله پسې خپور شوی و. اوس چې دا کتاب دوهم ځل چاپېږي، له لومړي ځل نه په کښې دومره زیاتوالی راغلی دی چې یو نوی مهم تالیف یې بللی شو. دا کتاب په لومړي چاپ کښې یو سلو شپږ اویا مخه و او په دوهم چاپ کښې د کتاب حجم دری سوه اته شپېته مخه دی. ددې کتاب په سر کښې له دوو عنوانو لاندې زره پارسو، دوه نیم زره کلن شعر څو مخه زیات شوی دی او بیا له لومړي څپرکي نه وروسته د دوهم څپرکي له عنوان لاندې د لویکانو د کورنۍ یو اهم بحث زیات شوی (دی) چې د پښتو ژبې په تاریخ کښې ورته نوی کشف ویلی شو. ددې کتاب په آخر کښې د پیر روښان برخه علاوه شوې ده، چې د معلوماتو او تحقیقاتو په لحاظ یې په اوس وخت کښې وروستی تحقیق او د پښتوادب د یوې مهمې دورې څېړنه بللی شو.

انصافاً باید ووایو چې حبیبي صاحب د پښتو ژبې د تاریخ په روښولو کښې ډېر ستر موفقیتونه ګټلي دي او د لویې برخې خاوند دی. ددې کار آغاز او ادامه تر ډېره حده دده د همت او زحمت ثمره



ده چې دده د قلمي او علمي خدمت پله یې ډېره درنه کړې ده. خدای دې دروند لري او دده د اعمالو پله دې تل درنه وي"

اروانښاد لوی استاد علامه حبیبي د دیارلس سوه پنځه څلوېښتم لمریز کال په شاوخوا کښې بیا د کابل پوهنتون د ادبیاتو په پوهنځي کښې د پښتو ادبیاتو د تاریخ استاد و. ده د څلورم ټولګي له پاره چې کوم درسي نوټونه تیار کړي وو هغه په دیارلس سوه اووه څلوېښتم لمریز کال د ادبیاتو د پوهنځي له خوا په کتابي شکل چاپ شول او د پښتو ادب لنډ تاریخ یې ونومه. دغه مجموعه په لویه قطع دوه اویا مخه او زموږ تر زماني پورې یې په خورا اجمال د پښتو ادب تاریخ څېړلی دی.

اروانښاد لوی استاد علامه حبیبي د پښتو ادبیاتو د تاریخ دریم او څلورم ټوکونه په هغه تفصیل چې ده غوښته ونه لیکلی شوای. ددې مهم تکل او تحقیق بشپړاینه دده ارمان و، خو دا ارمان هم لکه نور ارمانونه نیمګړی پاتې شو

*(خدای دې یې وبخښي)*

## پایلیکونه:

۱ - ملا فرح الدین. د پښتو تعداد الکبائر مؤلف او علامه حبیب الله محقق قندهاري، د پښتو سهاج العابدین ناظم دی.

۲ - د کندهار پښتو انجمن ادبي د دیارلس سوه یوولسم هـ ش کال د لیندۍ په میاشت کښې جوړ شو. پښتو مجله له دغه انجمن څخه خپرېدله. دا انجمن تر دیارلس سوه خوارلسم هـ ش کاله پورې په کندهار کښې وپایېدی.

۳ - د پښتانه شعرا د لومړي ټوک. له لیکنې څخه اروانښاد علامه حبیبي د دیارلس سوه نولسم ش کال د مرغومي په لومړۍ ورځ فارغ شوی دی. دا کتاب د

پښتو ټولنې له خوا د کابل په عمومي مطبعه کښې چاپ شوی دی. چاپي نسخه یې ۳۳۳ مخه ده او سل تنه شاعران پکښې معرفي شوي دي.

۳ - ددغه توک لنډیز په نولس سوه یو پنځوسم ع کال د پېښور د اشاعت سرحد له خوا په یوسلو اوو کوچنیو مخونو کښې چاپ شوی دی دغه لنډونه محمد تقویم الحق کاکا خېل کړې ده. د کتاب حیسې کلمې یې په خپله لهجه اړولې دي. او دغه عمل یې په علاقایي ژبه ترجمه بللې ده. (؟) اړوانساد مولف له دغې کرغېړنې مداخلې څخه ناخوښه و (وګورئ ددغه کتاب د درېیم چاپ مقدمه).



پوهاند محمد کاظم آهنگ

# سیاست عنعنه یی افغانستان

درین نوشته پیرامون ابر مردی حرف میزنیم که به حیث مؤرخ، ادیب وادب شناس، باستان شناس، زبان شناس، ژورنالست، سیاست دان، متن شناس و غیره در سرزمین باستانی و مرد خیز افغانستان قد برافراشت و داد خدمت گذاری را به کلتور و فرهنگ این دیار بداد. این علامهٔ روزگار شاد روان عبدالحی حبیبی بوده است که در سال ۱۳۲۸هـ ق به روز پنجشنبه هفده ربیع الثانی در شهر کندهار متولد گردید. دانش و ذکاوت و حافظهٔ او را در ساحه های یاد شده قابل هرگونه توصیف و ستایش میدانیم دانش پژوهان و محققان از سراسر افغان زمین و از سرزمینهای بیرون افغانستان فراسوی او پیوسته می شتافتند و از فیض دانش وی بهره ها می بردند. دانشمندان و محققان خارجي یا شخصاً یا به وسیله نامه ها پای صحبتهای ارزشمند او می نشستند و اطلاعات مورد نیاز خود را از این شخصیت شخیص دانش و علم افغانستان به دست می

آوردند در محافل و مجالس بزرگ علمی ملی و بین المللی، اشتراک کننده گان، سراپا گوش می شدند تا سخنان ارزنده و منحصر به فرد علامه حبیبي را استماع نمایند و بدینوسیله اطلاعات خود را تصحیح و تکمیل نمایند.

شاد روان علامه عبدالحی حبیبي با فهم و آگاهی کامل از زبان پشتو و دری و اردو؛ و با آشنایي نسبی به زبان عربی وانگلیسی و آشنایي به الف بای زبانهای قدیم جهان و منطقه به خواندن کتیبه های کشور می پرداخت و اطلاعات با ثمری را به علاقه مندان عرضه می کرد رسالهٔ "مادر زبان دری" که از خوانش کتیبه معبد سرخ کوتل به میان آمده است یکی از مثالهای جالب در این راستا به حساب می آید.

اثر های تاریخی و ادبي علامه حبیبي چون تاریخ مختصرافغانستان در دو جلد، افغانستان بعد از اسلام، پته خزانه، تاریخ ادبیات پشتو و امثال آن به مانند اثر های تا بناک وی بر تارک کلتور و فرهنگ افغانستان می درخشند.

علامه عبدالحی حبیبي ژورنالست و سیاست دان بودند. وی برای بیش از ده سال نشریه "طلوع افغان" (تأسیس ۱۳۰۰هـ ش مطابق ۱۹۲۱م) را با کمال ثمرباری نشر کرد و هفته نامهٔ "آزاد افغانستان" (تأسیس اول جدی ۱۳۳۰هـ ش مطابق ۲۳ دسامبر ۱۹۰۱م) را در عالم غربت و مسافرت در پشاور به نشر رسانید. در همین دو نشریه داد سیاست بداد و "داد خود را از کهتر و مهتر بستاند". درین نوشته تنهای روی یک خاطرهٔ جالب و ارزندهٔ سیاسیشاد روان حبیبی خود را متمرکز می سازیم که از کار و تجارب ژورنالستی جناب شان منشأ می گیرد.

علامهٔ بزرگ کشور ما ریاست و رهبری انجمن تاریخ افغانستان را به عهده داشتند و من هم افتخار همکاری ایشان را داشتم. اعضای انجمن تاریخ روز ها در محضر فیض اثر استاد حبیبي قرار می



گرفتند و از سخنان والاء عالمانه و دلپذیر شان استفاده هامی بردند. روزی در یکی از محافل حضور استاد، با سایر اعضا قرار داشتم. علامه حبیبي پیرامون در اکیت و خبره گی مردم افغانستان صحبت می کردند، درین صحبت به خصوص دربارهٔ آگاهی مردم این سرزمین پیرامون رموز ودقایق سیاست حرفهای ارزشمندی ارائه می نمودند. استاد حین صحبت خیلی صمیمانه حرف میزدند و با چهره متبسم و ملیح خود تاثیر بخشایی کلام شانرا چندین بار می افزودند. در جریان صحبتهای همین روز خود به یک باره گی ذهن شان به حادثه یی انتقال نمود که هنگام زمامداری "مستعجل حبیب الله کلکانی به آن مواجه شده بودند.

استاد فرمودند: "درین هنگام (۱۳۰۷هـ ش) من به حیث معاون طلوع افغان (درآنوقت به نام مؤید الاسلام تغییر نام داده و نشر می شد) در کندهار مصروف کار بودم والي دولت مستعجل به نام عبدالقیوم (از بوبنه قرهٔ کله کان بود) همه آمران مرکزی ولایت را در مقر ولایت به حضور خود خواسته بود تا آنانرا متوجه مسؤولیتهای شان بسازد وهم با آنان شناسایی حاصل کند."

مرحوم علامه حبیبی ادامه دادند: "آمران اداره ها یک یک به نزدیک والي می شدند و حرفهای او را می شنیدند. تا آنکه همه آمران و مسوولان این کا را بکردند و تنها من باقی ماندم درین هنگام والي مذکور ضمن اشاره به من از موظفان پرسید که "آن جوان کیست؟"

یکی از مؤظفان پاسخ داد که او مسوول نشر اخبار است.

والي با حرکت ولهجه خاصی گفت: خو! او "اخبارچی" است!؟

و توأم با این لهجه و حرکت مرا به نزدیک خود خواست و گفت: تو "اخبارچی هستی!"

گفتیم. بلی!

گفت: برو اخپار ته جاری کو ولی هوشت باشد که نه "اوره" (به اشارهٔ دست به سوی هند بریتانوی) و نه "اوره" (اشاره به سوی کشور شوروی) بد بگویی.

وقتی استاد علامه حبیبي این حرفها و دیالوگ ها را ادا فرمودند خندهٔ معنی داری را سردادند و گفتند: این است همان سیاست عنعنه یی افغانستان که ماشاء الله تا هنوز هم ادامه دارد.



عبدالرحیم هاتف

# لوی استاد عبدالحی حبیبي

د استاد د ښي پېژندني له پاره دغه عربي شعر چې وايي:

*تلك آثار نا تدل علينا    فانظروا بعدنا الى الآثار*

تر هر څه ښه لاربښوونه کولی سي څکه چې د استاد په اوزبعدي شخصيت کښي تر هر څه وړاندې د هغه د تحقيق او تتبع برخه راځي پر کومه چې د نوموړي د برکتناك ژوندانه لويه برخه لګېدلې او د هغه له برکته يې افاضات او افادات عام سوي دي.

د لوی استاد معرفي د نوموړي د آثارو په رڼا کښي د پوهانو او عالمانو کار دی او پټ منې پښتنې مېرمنې رحيمې دا کار پيل کړی او د خپلې علمي درجې د اثبات او تحقق له پاره يې يوه په زړه پورې رساله د استاد د پېژندګلوۍ په منظور ليکلې ده که څه هم د هغې کار د درنښت وړ دی او په دې لړ کښي لومړی ګام پورته سوی دی.

خو دا ورشو ډېره ارته ده او د بشپړولو له پاره يې د ډېرو نورو

تحقیقي لیکنو له پاره لاهم ځای تش پاتې دی او هیله ده چې د هېواد پوهان به دا خلا پر دغه حال نه پرېږدي

زه چې د علمي څېړنو له پاره نه وس لرم نه وسیله خو ماته له ورکتوب څخه د هغه مرحوم د صوري پېژندنې او له خوانۍ څخه د هغه د شاګردۍ ویاړ را په برخه دی د خپل دغه معرفت سره سم به څه څه د استاد د ژوندانه پر نورو اړخونو ورغبرګم هیله ده چې څه نوبنت ولري او د نورو علمي څېړنو په ترخ کښې د یوې وقفې ځای ونیسي.

استاد د۱۵ کالو په عمر کښې د کندهارد لومړني تاسیس سوي ښوونځي څخه چې په هغه وخت کښې یې" مکتب تجار" او وروسته یې "د شالیمار مکتب" او په آخر کښې یې د سردار مهر دلخان د تخلص په تعقیب[1] "مشرقي ښوونځی" وباله، چې په وروستنیو کلونو کښې یې په هغه نامه لېسې ته ارتقا وکړه. په لومړۍ درجه لومړنی فارغ التحصیل ؤ او د خپل فراغت سره سم په هغه ښوونځي کښې ښوونکی وټاکل سو

د استاد سره یو ځای له دغه صنفه څخه څو تنه نور هم فارغ سوه خو د معلمۍ په وظیفه کښې یې دوه تنه نور هم وټاکل سول چې په هغو کښې زما پلار مرحوم مولوي محمد ویس خان هم ؤ او د استاد سره یې ملګري او اندیوالي تر ډېره وخته باقي پاتې وه.

استاد د خپلو ځینو همصنفیانو خلاف هېڅکله ځان فارغ التحصیل نه وګاڼه او د دغې مقولې په مصداق یې چې وایي.

اطلبوا العلم من المهد الی اللحد د ژوندانه تر پایه ځان طالب العلم باله چې زه به ددې خبرې د اثبات له پاره یو دوه مثاله وړاندې کړم.

---

۱ - سردار مهر دل خان مشرقي د فارسي ژبې ښه شاعر ؤ. د سردار پاینده خان زوی او د کندهاري پنځو وروڼو له جملې څخه یو ؤ. (مشرقي مکتب د هغه په ژوند کښې د هغه کور ؤ)



لوی استاد د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي مؤسس او لومړنی رئیس ؤ. پر هغه سربېره یې په پوهنځي کښې د پښتو ادب د تاریخ درس هم ورکاوه. هغه وخت په اوونۍ کښې څو محدود ساعتونه د سانسکریت ژبې درس هم لوستل کېده. استاد د خپل پلټونکي طبیعت سره سم د هغه درس د اورېدو له پاره د یوه محصل په توګه ټولګي ته راته او د یوه زده کوونکي په څېر به کله زما اړخ ته او کله د بل تر څنګ ناست ؤ او د ډاکټر بهل هندي استاد درس ته به یې غوږ نیوه. یا به یې د دیو ونا ګري د رسم الخط تمرین کاوه. په دې نه ؤ ویشتلی چې په یوه ساعت کښې به خپله پروفیسر ؤ او په بل درسي ساعت کښې به د خپلو شاګردانو سره همصنفي ؤ.

استاد کله چې په کندهار کښې د معارفو رئیس وټاکل سو، پر ګڼو مشاغلو سربېره یې هم په خپل علمي شهرت غاړه نه ایسته او د فضل او کمال له طلبه یې لاس وانه خیست او د عربي ادب درس یې پر حجت الاسلام شیخ محمد طاهر کندهاري شروع کړ پته دې پاتې نه وي چې مرحوم شیخ محمد طاهر پر مذهبي علومو سربېره په عربي ادب کښې منلی استاد ؤ.

استاد خلیل الله خلیلي هغه وخت په کندهار کښې د دولتي انحصاراتو مدیر ؤ هغه پر فارسي ادبیاتو سربېره په عربي ژبه هم پوهېده او شعرونه او قصیدې یې پکښې ویلې، استاد خلیلي د لوی استاد سره د شیخ په درس کښې ورشریك سو. کله چې مرحوم شیخ محمد طاهر د خپلو دغو دوو نومیالیو شاګردانو پرتله کوله په خپل قضاوت یې استاد حبیبي تر استاد خلیلي لایق بللی ؤ. دا خبر ما هغه وخت (غالبا ۱۳۲۵ یا ۱۳۲۶هـ ش) له استاد میرحسین شاه جوادي څخه اورېدلی وه.

استاد ډېر شاګردان روزلي او ثمر ته رسولي دي چې ځینې یې د استاد، پوهاند، اکاډمیسنان علمي رتبو ته رسېدلي او د استاد په

ژوندانه کښې یې د هغه ځنګ ته په علمي مراکزو کښې کارونه وړاندې ېږول او یو بل پوړ شاګردان یې روزل. چې پوهاند میر حسین شاه جوادي، اکاډمیسن عبدالاحمد جاوېد، استاد واصف باختري، استاد سرور همایون له هغې جملې څخه څو مثالونه کېدای سي او دا چې مرحوم لوی استاد د عنصري په دود چې د هغه په شان کښې استاد استادان زمانه عنصري ویل سوی. د لوی استاد په نامه نومل سوی دي لوی دلیل یې دا ؤچې د التباس مخه نیوله سوې وي.

استاد د پښتو ژبې له پاره بې ساري خدمتونه کړي دي. ژبه یې وپېژندله د ژبې جوهر یې وځلاوه، په ژبه کښې یې لیکنې وکړې. د پښتو لغاتو له پاره یې استقراء وکړه. هغه کلمات یې د لیکنې ژبې ته ور دننه کړه چې یوازې یې د محاورې په ژبه کښې تداول درلود، د تحقیق او تتبع یې هېڅ کمی نه ؤ، مختلفې لهجې یې داسې واورېدې چې یوې ته یې پر بلې ترجیح نه ورکوله. د کلماتو په رېښو یې ځان خبر کړ. هغه بسیا والی چې په بدایه پښتو کښې موجود ؤ په هغه یې کفایت وکړ. هغه د ژبې سره د یوه ملي امانت په توګه سلوك کاوه. هېڅکله یې جاري کلمات په منحرفو معنی ګانو نه استعمالول او که به یې کله مناسبه پښتو کلمه په ګوتو نه ورغله له عربي او فارسي کلماتو راوړلو څخه یې هم ډډه نه کوله. پر خپل سر یې کلمات نه وضع کول. د شخصي اشتقاق کار خانه یې نه پرانیستله. ژبه او ویونکي یې تر خپل حکم نه لاندې کول او هېڅکله یې د خپلې لیکنې په تل کښې د خپلې نوشتې تفسیر نه لیکه ځکه چې هغه ته یې کله ځان نه اړایست او نه یې د خپلو وضع کړو کلماتو د تفسیر له پاره تر خپلو لیکنو وروسته د توضیح په غرض خپل بل قاموس لیکه. کلمات یې د وضع خلاف نه کارول. د سیال درنه کلمه یې په منحرفه توګه د دښمن په معنی نه کاروله. غوښته یې چې پښتو پردو ته ورنږدې کړي نه دا چې له پښتنو څخه یې



پردی کړي؛ د ژبې سره ناسالم برخورد، اولس له خپلې ژبې او خپل لیکوال څخه لیرې کوي.

د دغو اوصافو په درلودلو سره استاد د معاصرې پښتو د مقتدا حیثیت موندلی دی، که څه هم استاد په خپله دغه مقام د منشي احمد جان له پاره منلی دی او دا نو د استاد څرګنده تواضع وه.

استاد که څه هم پښتون ؤ، پښتو ته یې نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي خو د هغه شخصیت یوازې په پښتنو پورې اړه نه لري؛ هغه افغان ؤ د هېواد تاریخ ته یې ډېر کار کړی، د تاریخ پټې زاویې یې روښانه کړې، تاریخي رجال یې په ښه توګه معرفي کړي دي همدغه ډول یې د هېواد په دري ژبه کښې درانه تحقیقي آثار لیکلي دي پر دغه سربېره یې شخصیت د افغانستان په سیاسي محدوده کښې محدود نه دی پناتې سوی په سیمه او منطقه کښې د یوه مرجع او علمي شخصیت په توګه داوړ ستایلی او منلی وو لکه څه ډول چې په خپل مورني هېواد کښې منل کېده، د ایران، هند، پاکستان او ماوراالنهر په علمي محافلو کښې په درنه سترګه ورته کتل کېدل. یونیسکو د درانه منلي عالم په دود پېژاند او د هستوګنې کور یې د درنښت، حرمت او ضمني حراست په غرض ورته په نخښنه کړی ؤ او په دې توګه استاد د بین المللي پوهانو په شمېر کښې ګڼل سوی ؤ.

د استاد د مطالعې او تتبع فن ډېر ښه زده ؤ، هغه به یوازې د سترګو له لارې مطالعه کوله او یو کتاب به یې په ډېره چټکی داسې لوست چې پاڼې به یې ورو ورو په ګوتو اړولې او د دواړو مخو تصویر یې سمدلاسه ذهن ته سپاره.

استاد په داسې وخت کښې چې د لالټین (هریکین) رڼا او د صندلۍ تودوخه لوکس مصارف ګڼل کېده او د استاد حبیبي په شان د یوه مسکین ځوان کورنۍ په وس پوره نه وه، هغه وخت کتاب او کتابتون د عنقا په حکم کښې وو، لاړښود استاد او علمي مراکز او محافل چا نه پېژندل، ځان د پوهنې دغو لوړو پوړیو ته رسولی

دی که چېرې ددې زماني سهولتونه ورمیسر وای د هغه نبوغ به نور هم ځلېدلی وای.

استاد ډېر متواضع انسان ؤ خو هېڅکله یې متکبر ته د الکبر مع المتکبر عبادت (پر بنا) غاړه نه کږېدله.

استاد ډېر ښه مستمع ؤ، په خبرو اترو کښې یې د هر چا سره د هغه په سویه او د هغه په ژبه خبرې کولې، داسې چې ډېر ځله به په مجلس کښې مقابل طرف دا خیال کاه چې د خپل یوه هم سویه انسان سره رغېږي.

استاد ډېر مېلمه پال انسان ؤ، مشر ؤ که کشر، عالم ؤ که عامي هر څوك چې د استاد صحبت ته ورتلل، په استقبال کښې دروازې ته ورته راووت او په وداع کښې یې تر وره دباندې سپاره، چې مارنګه چا ته به د خجالت موجب ګرځېده او په دغه نسبت به مې کله کله ځان له صحبته څخه لا هم محروماوه.

استاد د ټول علمي مصروفیت سره هم ځان ته مشغولا، یا په اروپايي اصطلاح (Hobby) درلوده او هغه د خوندورو شربتونو او شیریني جوړول او د دوستانو او اراداتمندانو په استقبال کښې هغو ته وړاندې کول وو. په عام صورت د خوړو په پخولو او ارزیابي کښې یې ډېر مهارت درلود. استاد به کله کله زما کور ته په خپلو راتلو سره ماته ویاړ را په برخه کاوه. په زړه مې دي چې یوه ورځ یې په کابل کښې زما د درېیمې کارتې کور ته تشریف راوړی ؤ، تر پوښتنې ګروېږنې وروسته ما خپلې پوښتنې پرې عرض کړې، قناعت بخښونکي ځوابونه یې راکړل. زما سره ډېرې نوې خبرې نه وې چې استاد مصروف وساتم څه چې وې هغه مې وړاندې کړې. دغه وخت ما یو ډول ترکیبي حلوا پخه کړې وه هغه مې د استاد د تبصرې له پاره حاضره کړه.

استاد څو کاچوغې ورو ورو وخوړلې او په عین حال کښې یې د هغې پر ترکیب هم دقت کاوه، وروسته یې ماته وویل چې. "دا دې له څه شي څخه او څه ډول جوړه کړې ده؟" ما عرض وکړ چې دا اصلاً اته جزه لري چې ټول یې زواید دي. د شیدو اوړه(پوډر)، د منې پوستکی، خاشخاش، بوره، غوړي... او د هر یوه تفصیل مې ورته عرض کړ. د پخولو د ډول سره زما تر ځواب وروسته استاد دا کیسه راته وکړه چې:

"مولوي عبدالواسع خان به د سهار تر لمانځه وروسته شاګردانو ته درسونه ورکول، تر هغه وروسته به هم په مسجد کښې یوازې یو چېرې پر غالیچه پر کومه چې به کور بچه غوړېدلې وه کښېنوست او دده په مقابل کښې به پر یوه څکل هغه خلك کښېناستل چې له هغه سره به یې کار ؤ.یا به د هغه وساطت په کار ؤ یا به یې کومه علمي پوښتنه راوړې وه ...زه (حبیبي) به عادتاً د دغو مراجعینو په لړ کښې د مولوي صاحب د کشر په توګه ناست وم څو د هغه په امر کوم دولاړې کار یا دباندې ته څه خبر ورسوم.

یوه ورځ له دغو ورځو څخه د مراجعینو په لړ کښې یو نوی او نابلده طالب په پاکو سپینو کالیو کښې هم راغلی ؤ، مولوي عبدالواسع (چې استاد به تل مولوي عبدالواسع خان باله) د خپلو عادي پوښتنو او اجراآتو په ترځ کښې پر دغه نوي راغلي مېلمه رغ وکړ چې طالب جانه ته مې ونه پېژندلې؟

هغه په ادب ورته وویل: جناب مولوي صاحب زه فقط ستا لیدو ته راغلی یم ابوالو فانو مېږم. د هندوستان دکن ته د مذهبي علومو او د قرائت د علم د زده کړې له پاره تللی وم اوس نوی کور ته راغلی یم.

مولوي صاحب ورته وویل چې: زه په خپله د قرائت سره ډېره مینه لرم که تکلیف نه وي موږ ته به یوه رکوع ووایې؟

مولوي ابوالوفا ورته وویل: په سترګو، پیل یې وکړ او ډېر ښه قرائت یې ووایه، مولوي عبدالواسع خان ته یې بلنه ورکړه چې دعا وکړي. د دعا د ختم سره سم مولوي عبدالواسع خان راولاړ سو

مولوي ابوالوفا يې لومړی په غېږ کښې ونيو وروسته يې تر لاس نيولی د مراجعينو له منځه خپل اړخ ته بوته او له ځانه سره يې پر کور بچه ورسره کښېناوه او دا کار ما پخوا له مولوي عبدالواسع خان څخه نه ؤ ليدلی. له سره يې بيا په درناوي پوښتنه ورسره وکړه او تر هغه وروسته يې مولوي ابوالوفا ته وويل چې که ستا خوښه وي زه به هم يوه رکوع درته تېره کړم. مولوي ابوالوفا ورته وويل ډېر به ښه سي مهرباني وکړئ! مولوي عبدالواسع خان هم نسبتاً ښه قرائت ووايه او د دعا له پاره يې مولوي ابوالوفا ته مخ وروااړاوه وروسته يې د خپل قرائت په باب له هغه څخه قضاوت وغوښت. مولوي ابوالوفا ورته وويل: نور قرائت دي ډېر ښه ؤ خو يو څه اصوات زائده يې درلودل." تر دغه وروسته لوی استاد ماته وويل چې ستا نسخه او خواره هم ډېر ښه وو خو په ترکيب کښې يې زايده خوندونه موجود وو.

لوی استاد تر پېژندګلوي وروسته د مولوي عبدالواسع خان په اشاره د څه وخت له پاره د دغه مولوي ابوالوفا صاحب[۲] شاګرد سو؛ خدای تعالی دې دزی واړه وبخښي.

## مبارز حبيبي:

غالباً ۱۳۳۲ لمريز کال ؤ زه د کابل په عالي دارالمعلمين کښې معلم وم او مرحوم حاجي عبدالغفور خروټی د کندهار له ښاره څخه د اولسي جرګې (هغه وخت شورای) په اتمه دوره کښې نماينده ؤ، موږ په دواړو د ميوند په جاده کښې د شير محمد خان کتوازي په اپارتمان کښې د منګوی په خوله کښې يوه کوټه په اندېوالی کرايه

۲ - مولوي ابوالوفادډېر وخت له پاره په دکن کښې د نظام په شاهي مدرسه کښې مدرس پاتې ؤ، د ۱۵-۲۰ کالو په وقفه کښې به په کندهار کښې خپل کور او کلي ته راته، په دکن کښې پر تبليغ او تدريس سربېره د نادرو مذهبي کتابونو چې به له طبع خارج سوي وو په طبع او تکثير او تصحيح هم مصروف ؤ.



کړې وه، تر موږ وراندې په دغه کوټه کې محترم استاد عبدالشکور رشاد او ښاغلی نور احمد شاکر اوسېدل.

موږ د خونې سربېره نه صفايي وکړه او خپل لوښي لرګي مو ورته راوچلول. د دغې کوټې کړکۍ مخ پر سهيل د ميوند جادي لور ته پرانيستلې وې، د يوې کړکۍ د دېوالـه په تل کښې يوه چوله موجوده وه په کومه کښې چې د کاغذو ټوټې ښکارېدې. محترم شيخ عبدالغفور لګيا سو چې دغه پارچې راوباسي او زه بازار ته ښکته سوم چې د اړتيا وړ مواد راوړم او خوری برابر کړم.

کله چې زه له سودا څخه راستون سوم ګورم چې عبدالغفور خان د هغو ټوټو يوه پارچه پر يوه بالبنت منظمه اوډلې ده او لګيا دی پاتې برخې هم اوډي. دا کار يې ختم کړ او زه يې د لوستلو له پاره وروبللم ومې کوت چې هغه د مرحوم لعل محمد خان کاکړ يو مکتوب دی چې د استاد رشاد په نامه يې ليکلی او لنډ مضمون يې دا ډول دی:

"ښاغلی رشاد صاحب!

زه اوس هم د پخوا په شان ټينګه ويښ زلمی يم هغو اصولو ته ټينګه عقيده لرم، دا چې څوک او څوک وايي چې زه اوښتی يم دا بې بنسټه خبره ده، منم چې فشارونه زيات دي خو زه داسې کمزوری نه يم چې پر ګونډو مې کړي. په تا ويسا لرم هيله ده که چېرې دغه منفي تبليغ تر تاسې دروسېږي لطفاً يې ترديد کړئ. ستاسې وينا درنه ده او هر څوک يې مني.

مخلص لعل محمد کاکړ"

تر دغې پېښې پورې مرحوم شيخ عبدالغفور خان دا لاندې کيسه راته وکړه:

"غالباً چې ۱۳۱۰ هـ ش کال ؤ، زه په چمن کښې خپل د اکا زوی عبدالحکيم خان خروټي سره په تجارت لګيا وم او د هغه سره په

کور کښېنې اوسېدم، عبدالحکیم خان د اخبارونو سره مینه درلوده او په ډېرو اخبارو کښې یې اشتراك درلود.

د ژمي وخت و، حبیبي صاحب چې د څه رسمي کارونو د اجرا له پاره کابل ته تللی و د کارونو تر اجرا وروسته له هغه ځایه د پېښور او لاهور له لارې د کندهار په لور چمن ته راورسېد او څکه چې تر ډېر وخت وروسته مې لیده په راتلو یې ډېر خوښ سوم. دری څلور شپې یې راسره تېرې کړې او د تګ پر وخت یې یوه سرتړلې لفافه په لاس راکړه او راته وې ویل چې زما تر تلو یې دری څلور ورځې وروسته واستوه. ما هغسې وکړل. لس یوولس ورځې وروسته د عبدالحکیم خان په اخبارونو کښې د "افغانستان" په نامه فارسي اخبار چې په لاهور کښې نشرېده هم راورسېد.

ګورم چې د "پریشان" په قلم د نادر خان او کورنۍ یوه مفصله او مدلله غندنه لیکلې سوې ده. (پرېشان هغه وخت د عبدالهادي خان داوي تخلص و).

څو ورځې وروسته محمد ګل خان مومند هم له کابله د کندهار په اراده پر هغه لاره چې حبیبي صاحب راغلی و راورسېده. څکه په هغو وختونو کښې چې به ډېره واوره اورېدله لارې به تړلې کېدې په دې دلیل چې سړکونه اومه وو د پاکولو له پاره یې غښتلي وسایل نه وو. لارو ته څېرمه د شاو خوا کلیواوسېدونکو به درست ژمی د سړکونو پاکولو بېګارونه کول هغه هم داسې چې وریسې واورې به د دوی خواري حبطه کړې او بېګار به له سره پرې نوی سو.

زه پخپله هم څه وخت وروسته کندهار ته ولاړم، حبیبي صاحب چې روغبړ ته راغلی و، راسره پر اړخ سو او ویې پوښتلم چې هغه زما پاکټ دې واستاوه؟ ما ورته وویل هو! ستا د فرمایش سره سم هغسې سرتړلی. بیا یې وویل چې څنا خو به لوستی نه وي؟! ما ورته وویل:



[کله چې ته کندهار ته را رهي سوې زه هغې خونې ته ورغلم په کومه کښې چې ته اوسېدې. کالي او شی مې سره ځای پر ځای کول، د خونې ددروازې دلخك سره یوه وړه چوله راپه سترګو سوه چې د کاغذ ځېرې سوې توټې پرتې وې هغه مې راوکښلې په دوې درې ورځې مې سره ترتیب کړې هغه د استقلال اخبار، د پرېشان مضمون ورڅخه جوړ سو. بیا مې هغه کاغذونه وسوځل او اوس مې دا دی فقط تاته وویل. که ته دا ویل یا لوستل بولې نو ما ویلي دي لاغیر]

هغه پر ما ویسا درلودله زما خبره یې ومنله، نو ما پوښتنه ورځنې وکړه چې څه پېښه ده؟ خیر دی؟ حبیبي صاحب راته وویل:

تا ولید چې تر ما څو ورځې وروسته وزیر صاحب محمد ګل خان مومند هم له کابله پر هغه لار کندهار ته راورسېد او غالباً د استقلال اخبار یې هم له ځانه سره راوړی و، زه یې وروغوښتم او وې پوښتلم چې د پریشان په نامه د استقلال په اخبار کښې تا دغه ډول مضمون کښلی دی؟!! زه ورته ناګاره سوم.

وروسته یې راته وویل چې پښېمانه کېدل ګټه نه لري، زه ستا په قلم لیکل سوی مضمون هم راغوښتلای سم هغه وخت به نو ستا انکار په سند باطل سوی وي؛ خو دا کار څو ورځې وخت نیسي. دا به ښه وي چې اوس یې ومنې او اعتراف وکړې! حبیبي صاحب وایي چې دا خبر زما زړه ته ولوېده او پر دغه سربېره چې په درنه جزا یې پوهېدم اعتراف مې وکړ.

وزیر صاحب راته وویل چې: ددې خبرې پټ ساتل که څه هم ما ته خطر لري که چېرې ته وعده وکړې چې نور به دا ډول مضامین په دغه ډول نه لیکې. زه به قول درسره وکړم چې دا خبر به پر دغه ځای پرېږدم، دا څکه چې ته یو مستعد پښتون زلمی یې! او حبیبي صاحب ویل چې ما بول ورسره وکړ.

عبدالغفور خان ویل چې زما څخه یې هم وغوښتل چې دغه حال ونه وایم، خو اوس چې حبیبي صاحب په خپله په پاکستان کښې د افغانستان په نامه اخبار چلوي او داوي صاحب هم اوس پرېشان نه دی، د لال محمد خان کاکړ تر لیك پورې مې دا بیان تاته وکړ. خدای تعالی دې دوی درې واړه وبخښي.

## نتیجه:

۱. که څه هم استاد خپل اکثر علمي خدمات د نادر خان د کورنۍ په وخت کښې سرته رسولي دي خو زړه یې د هغو سره نه ؤ، نه یې دهغو سیستم تائیداوه بلکه هغه د اماني نهضت پلوی پاتې سوی وو.

۲. استاد پر "حبیبي" سربېره په نورو مستعارو نومونو هم لیکنې کړې دي چې ددې برخې پلټل او میندل د هر هاند غواړي.

د شاه محمود خان د صدارت په دوره کښې یو د تنفس مختصر مجال پیدا سو او د هغه وخت په شوری کښې یو عدد روشنفکره خلك هم (په اوومه دوره کښې) انتصاب یا انتخاب سوه، استاد حبیبي په ۱۹۴۹ع کال کښې غیاباً له کندهاره څخه د کندهار د ښار د مشرانو په اتفاق وټاکل سو.

هغه وخت یوازې په کابل کښې انتخابات په صندوق او کاغذ او پټو عامو رایو وسوه نور چېرې خصوصاً په کندهار کښې د مشرانو په مجمع کښې د یوه کاغذه پر مخ به هر چا خپل نظر امضا کاوه، هغه پاڼه به د وثیقې ضمیمه مرکز ته استول کېدله کله چې حاجي اختر محمد خان بارکزي خپل لاسلیك کاوه تر هغه وړاندې یې د تائید په غرض هغه بیت چې د مولانا جلال الدین بلخي په ستاینه کښې ویل سوی وو وکیښ، چې وایي:



من چه گویم وصف ان عالیجناب
نیست پیغمبر ولی دارد کتاب

اوس به زه هم په خپل وار پر هغه روایت کفایت وکړم. استاد د ۷۴ کالو په عمر د کابل د جمال مېنې په کور کښې د بیکسۍ په حال کښې وفات سو. د کورنۍ او دوستانو له جملې څخه یې فقط خپله مېرمن پر حاضره وه. د استاد جسد په کابل کښې د شهدای صالحین په هدیره کښې چېرې چې د شهید مولوي عبدالواسع مرحوم هډونه ښخ دي خاورو ته په درنښت وسپارل سو. په کابل کښې موجود پوهان او فاضلان یې پر جنازه او هدیره حاضر وواود قبر پر سر یې چا وچا د استاد مناقب وویل. استاد رشاد د خپلې داعیه وینا په ترڅ کښې د ابو شکور بلخي هغه شعر چې د شهید بلخي د مړینې په مناسبت یې ویلی وو ښه پر ځای تضمین کړ چې وایي.

کاروان شهید رفت از پیش
زان ما رفته گیرو مي اندیش
از شمار دو چشم یک تن کم
وز شمار خرد هزاران بیش

عبدالهادي حبيبي

# په زړه پورې يادونه

۱۳۱۲المریز کال و او زه به د لسو یا یوولسو کالو وم د کندهار د کلا فیصل سره نژدې د بامیزو په کوڅه کښې د حضرت مسجد سره سم یو لوی مشهور خاندان او سیده ددې خاندان مشر شهید مولوي محمد عبدالواسع اخوندزاده و چې د مفسد باغي او غله بچۀ سقاو په حکم سره په توپ کښې والوزول شو او وایي چې د والي علي احمد خان سره یې یو ځا یې شهید کړ. د مرحوم شهید مولوي محمد عبدالواسع اخوندزاده وراره محترم مرحوم استاد جناب عبدالحی حبیبي هم په دغه کوڅه کښې د مور او خور سره یو ځای اوسېده، دده پلار زما نه دی په یاد، شاید هم چې هغه وخت وفات شوی وي. دده مشهر ورور مرحوم عبدالباقي خان لادمخه په ځواني کښې د استسقا په مرض وفات شو، ځکه نو مرحوم حبیبي صاحب یوازې مور ته پاتې شو. حبیبي صاحب زما د پلار د اکا زوی دی او زما د کور او دده د کور تر منځ تش یو دېوال حایل و خو



بامونه مو مشترك وو او د دېوال له خوا هم یو د بل کورونو ته ورتلای شوو.

زه چې هغه وخت یوولس کلن وم نو مرحوم حبیبي صاحب به هغه وخت ۲۵ یا ۲۶ کلن و. د حساب په مضمون کښې ډېر کمزوری وم او تقسیم مې نه زده کېده نو مور مې چې خدای دې جنتونه ورنصیب کړي زه مرحوم حبیبي صاحب ته ولېږلم چې تقسیم راوښیي. زه د دېوال له خوا وروختم او دده د خونې په مخ کښې په لوی دالان کښې ننوتم بیا د حبیبي صاحب د خونې دروازې ته چې خلاصه وه ودرېدم، عجیب یو منظر و، درسته خونه له دروازې نه تر پایه پورې په اخبارونو، جریدو او کتابونو سره پته وه د خونې پر فرش باندې اخبارونه، جراید او کتابونه هرې خوا ته غورېدلي وه تیت و پرك وو. حبیبي په یوه ګوټ کښې ناست او په مطالعه کښې ډوب و. خو ماته یې وکتل او ویې ویل چې پر اخبارونو باندې په احتیاط سره ورسم. بیا یې نو ما ته تقسیم رازده کړ او یو خود رنګه قلم یې هم راوباخښه چې زه ډېر خوشاله شوم او مورته په خندا راغلم. په دې وخت کښې غالباً حبیبي صاحب د طلوع افغان د جریدې معاون و او مرحوم عبدالعزیز خان یې مدیر و. له دې نه وروسته مونږ کابل ته کډه وکړه او د حبیبي صاحب سره مې تعلق نه درلود.

شپې ورځې او کلونه تېر سول په ۱۳۳۰المریز کښې زه پاکستان ته راغلم خو څه وخت وروسته حبیبي صاحب هم پېښور ته راغی او د هغه ځای نه یې د "آزاد افغانستان" اخبار خپور کړ په پېښور کښې یې د پاکستان حکومت ښه مېلمستیا وکړه او په عزت او احترام سره یې ومانه. وروسته بیا دی له مېرمنې او ماشومانو سره زما په کور کښې په کراچۍ کښې یوه یادوې میاشتې پاتې شو او بیا یې پر جناح روډ باندې ځان ته بېل کور واخیست زه به په هفته کښې ضرور یو یا دوه ځله د ده کره تلم.

منورین لکه راشدي صاحب د پیر علي محمد راشدي ورور او نور لیکوال هم حبیبي صاحب ته ورتلل. بیا په کراچۍ کښې د "سروش" په نامه حبیبي صاحب یوه ماهنامه خپره کړه زما مضمونونه او ترجمې هم پکښې وې، زه به دفتر ته هم ورتلم.

حبیبي صاحب د عالم فاضل او لوی مذهبي پیشوا او زموږ د کورنۍ مشر مولوي محمد عبدالواسع شهید اخوند زاده څخه چې دده اکا وُ ابتدایي دیني او عربي تعلیم وموند. د مولوي صاحب زوی مولوي عبدالخالق واسعي او حبیبي دواړو به په ګډه د لوی مولوي صاحب څخه سبق زده کاوه خو د حبیبي صاحب د خولې نه هر کله به واسعي صاحب د مولوي صاحب نه پر سبق باندې ملامتېده او مولوي صاحب به حبیبي صاحب ته ترجیح ورکوله.

دیني، اخلاقي او عربي ابتدایي معلومات حبیبي صاحب د لوی استاد شهید عبدالواسع اخوند زاده نه راټول کړل او سبق یې تر پنځم جماعته پورې ووایه او بس. خو معلومات او علم او فضل یې دومره ډېر وُ چې د ایران استاد نفیسي او نورو استاذه وُ دده ډېر تعریف کړی دی. دا هم د حبیبي صاحب له خولې نه: ما ته یې یوه ورځ په کراچۍ کښې وویل چې ګوره د ځانه سره د ډاکټر لقب هم وتړي او نه شرمېږي چې زما مضمون یې کټ مټ او پوره غلا او پخپل نامه یې چاپ کړی دی!

ما ورته وویل چې حبیبي صاحب پر ده به دعوه وکړو حبیبي صاحب وویل: دی په دې نه ارزي! د حبیبي صاحب معلومات او تېر دواړه ډېر پراخ او وسیع وو!

حبیبي صاحب ډېر یو حلیم الطبعه، مهربانه او خواخوږی سړی وُ. د اخلاقي ناوړو څخه بېزار وُ او پرهېزګاره وُ خود داري او پر ځان باندې د اعتماد غریزه یې خورا ډېره وه. یو وار ممتاز حسن صاحب چې هغه وخت د پاکستان د مالیې وزیر وُ د ځانه سره تېتې ته بوته



چې یوه پخوانۍ پر دېوال باندې کتیبه ووایي او تحلیل یې کړي. حبیبي صاحب وویله او تحلیل یې هم کړله.

د حبیبي صاحب تاریخي، علمي، ادبي او مذهبي فرهنګي معلومات زښته ډېر وو، دده آثار ډېر چاپ شوي دي. دمخه تر دې چې بېرته افغانستان ته لاړ شي ما ورسره وکتل. هغه وخت دده د بدل کلي جوړوله او ما ته یې وویل چې دا کار یو عمر غواړي او نیمګړی به پاتې شي.

دده د نامه په مهر سره اوس هم د امیر خسرو وروکی دېوان د ایران چاپ زما سره پروت دی چې پر ما ډېر ګران دی ځکه چې د ګران او محترم حبیبي صاحب یادګار دی.

دده یاد به هر کله زما سره وي او خدای دې وبخښي او په جنت کښې دې ځای ورکړي!

امین

لیکوال : میرویس حبیبي

# د علامه عبدالحی حبیبي دوه تنه استادان

## اول حکایت:

## د کندهار د ماجتو (جوماتونو) عالي اصول څه سوه؟

زموږ آبائي ماجت د کندهار د بامیزو په کوڅه کښې وو. زموږ نیکه شهید مولوي عبدالواسع آخندزاده چې به کوم وخت په کندهار کښې استوګنه درلوده نو هلته به يې شاګردانو ته لوست وایه. پلار به مې ویل چې شهید مولوي عبدالواسع اخندزاده ډېر عالم او پوه شخصیت ؤ. په دیني علومو کښې يې په ټول افغانستان کښې چا ته تن نه ورکاوه او خپل پر زده کړو باندې يې ډاډ درلود. پلار مې حکایت کاوه چې یوه ورځ موږ په ماجت کښې په لوست بوخت وو چې یو بېګانه سړی ماجت ته راننووت، سلام يې واچاوه او ګوښه کښیناست. مولوي عبدالواسع اخندزاده پام ورته ونه کړ او درس ورکولو ته يې ادامه ورکړه. یو څه موده وروسته چې د لوست ورکولو نه فارغ سو نو يې سر راپورته کړ او د هغه سړي څخه يې پوښتنه وکړه، چې څوک يې او څه کوې؟

سړي ځواب ورکړ چې نوم مې ابوالوفاء او د پلاني زوی او په پلانۍ کوڅه کښې اوسم. د علم د زده کړې له پاره هندوستان ته تللی وم او د څو کلو وروسته بیا خپل وطن ته راغلی یم: اخندزاده صاحب په ډېر ساړه ډول ورته ووېل چې د یوه قرائت وروسته د هغو مبارکو آیاتو تفسیر خو وکړه. دې سړي قرآن عظیم شان راواخیست او د قرائت وروسته يې د هغو مبارکو آیاتو تفسیر وکړ. مولوي عبدالواسع صاحب هېڅ ورته ونه‌ویل او چوپ پاتې سو. د مازیګر د لمانځه وخت ؤ، یو چا اذان وکړ او جماعت ته ټول ولاړل. عادتاً که به مولوي صاحب په ماجت کښې ؤ نو لمونځ به يې ورکاوه. په دې پلا يې د لمونځ په ورکولو کښې څه ځنډ وکړ او بیا يې موږ ټولو ته مخ راواړاوه او ویې ویل، ابوالوفاء چې د هغو آیاتو قرائت او تفسیر بیان کړ د اداء له نظره يې غلطي نه درلوده او په تفسیر کښې يې داسې مطالب وو چې زه تر اوسه په ژوند کښې هغو مطالبو ته نه وم متوجه سوی او داسې يې ادامه ورکړه: په اسلام کښې هر څوک چې عالم وي نو هغه د رهبرۍ لایق وي. ځنګه چې ابوالوفاء تر ما عالمتر دی نو د امامت حق لري. هغه يې مخ ته کړ او دی يې شاته ودرېد او لمونځ يې پسې وکړ. تر هغه وروسته هر وخت چې به مولوي ابوالوفاء په ماجت کښې ؤ نو به يې امامت کاوه.

مولوي ابوالوفاء په حیدر آباد دکن کښې لویه اسلامي مدرسه درلوده. مولوي ابوالوفاء زما د پلار د مروجه علومو استاد ؤ او د عمر تر آخره يې زما د پلار سره مکاتبه درلوده. تل به يې پوست کارډ رالستاوه. مولوي صاحب ابوالوفاء د حنفي مکتب متخصص ؤ او په هندوستان کښې يې ډېر شاګردان روزلي دي. شهید مولوي

عبدالواسع اخندزاده او اروابناد مولوي ابوالوفاء د اروابناد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي استادان وو او پلار مې په نهایت ډېر درناوي ورته کتل.

## دوهم حکایت:

### د قدرت له خاوندانو سره ټکر:

پلار به مې حکایت کاوه چې کوم وخت شهید مولوي عبدالواسع اخندزاده د اماني دوري نظامنامه (Constitution) تکمیله کړه نو یې اعلیحضرت امان الله خان ته وروسپارله. امان الله خان په نظامنامه کښې لاس وهل پیل کړه. مولوي صاحب ورته وویل چې په کومو موضوعاتو چې اعتراض لري ماته یې ووایه چې زه یې په شرعي اصولو، درته برابر کړم. که پر شرعي اصولو برابر نه وي نو بیا تر انتقاد لاندې راځي. اعلیحضرت امان الله خان په ځواب کښې ورته وویل چې زه او لوالامریم او د دې حق لرم چې په نظامنامه کښې بدلون راوړم. مولوي صاحب ورته وویل چې بېشکه ته او لوالامر یې او ما بیعت درته کړی، که زه ستا اطاعت ونه کړم نو باغي بلل کېږم. خو په اسلام کښې اولوالامر دا معنی نه لري چې یو سړی دې په ټولو علومو او فنونو کښې اولوالامر وي. ته بې شکه زموږ لوی اولوالامر یې خو ستا تر ټولو ښه بنا په بنایي کښې او تر ټولو ښه ترکاڼ په ترکاڼي کښې اولوالامر دی او زه دې په شرعي چارو کښې اولوالامر یم. امان الله خان په غصه سو او په کوتوالي کښې یې بندي کړ. مولوي صاحب د بند نه له خوشي کېدو وروسته کندهار ته ولاړ او د کندهار د اولس په وکالت یې د پغمان په لویه جرګه کښې ګډون وکړ او پر نظامنامه یې سخت انتقادونه وکړل.

پلار مې ویل کوم وخت چې د سقاو زوی باغي سو نو مولوي صاحب په کندهار کښې د امان الله خان په پلوي شرعي فتوی ورکړه او هغه وخت چې د سقاو د زوی لښکرو کندهار ونیوه، نو یې



مولوي صاحب زنځیر او زولانه کابل ته واستاوه. هلته د سقاو زوی ورته وویل چې بیعت وکړه، خو مولوي صاحب په ډېر جرئت ورته وویل چې ته غل یې! د سلطنت غاصب یې! ستا قتل جواز دی. نو هغه ؤ چې د والي علي احمد خان سره یې یو ځای په توپ کښې والوزاوه. په دې ډول مولوي عبدالواسع اخندزاده شهادت ته ورسېد.

## دریم حکایت

### پر علم تمسک:

د مولوي عبدالواسع اخندزاده یو مهم تالیف "تمسك القضات" نومېږي. اروابناد محمد موسی شفیق صدر اعظم دا حکایت زما پلار ته کړی ؤ. شفیق صاحب ویل: کوم وخت چې دی د عالي زده کړو له پاره الازهر پوهنتون ته تللی ؤ نو دا کتاب یې له ځان سره مصر ته وړی ؤ او هلته یې دا کتاب خپل د فقه لوی استاد ته ښکاره کړی ؤ. هغه استاد ورته ویلي وو چې دوی په عربي ژبه کښې داسې جامع د فقه کتاب نه لري او موسی شفیق یې د هغه کتاب په ژباړه هڅولی ؤ. هغه وخت چې موسی شفیق د عدل په وزارت کښې ماموریت درلود نو تل به یې ددې کتاب څخه د ماخذ په توګه ګټه اخیستله.

داکټر خوشحال حبیبي

# د پلار یاد

زه څلور کلن کوچنی وم؛ پلار به مازیګرد قدم وهلو له پاره ته او زه به یې له ځان سره بېولم. دا د پنځوسو کالو پخوا کیسه ده او زما ډېر لږ په یادېږي دا چې موږ په لاره کښې څه سره ویله زما سم نه دي په یاد خو دومره مې یادېږي چې دا زما د زده کړې لومړۍ ورځې وې. موږ چې به په بېلو بېلو سړکو ګرځېدلو پلار به ماته لومړی زده کړې راکولې. ما ته به یې ویل چې مخامخ شمال دی، شا ته دي جنوب، راسته لاس ته دې مشرق او چپه لاس ته مغرب دی. بیا به بله ورځ موږ دا خبرې تکرار کړې چې زما په حافظه کښې ښه ثبت سي، همدا ډول نور ګټور درسونه یې را زده کول چې هغه زما نه په یادېږي. همدغه لومړنۍ زده کړه وه چې ما د علم سره مینه پیدا کړه.



شپږ یا اووه کاله وروسته یوه ورځ ما د کتابتون څخه یو کتاب راوړی و او هغه مې لوست. پلار چې ولیدلم چې زه د یوه کتاب په ویلو کښې ډوب یم نو ډېر خوشاله سو ما ته یې څو روپۍ انعام راکړ او راته یې وویل چې زویه دا ډېر ښه کار دی او دا ډول لوستو ته دوام ورکړه. دی به تل ورځ یا د کتاب په لیکلو یا په ویلو اخته و.

زه لوی سوم او د کابل پوهنتون د علومو پوهنځي څخه فارغ سوم. څو کاله مې کار وکړ او په ۱۳۵۶ لمریز کال کښې امریکې ته د نورو لوړو زده کړو له پاره راغلم، زه خپله د نیو مکسیکو په ایالت کښې په علمي مطالعاتو بوخت وم. په یوه لیک کښې مې پلار داسې را ته لیکلي وو:

"اوس نو تا ډاکټر بولي، خو دا زده کړه چې سړی په دې کاغذ نه عالم کېږي. پخپله باید مطالعه او ځان پوهنه پرې نږدې علم پای نه لري او انسان تر مرګه پورې زده کوونکی دی."

رښتیا چې دا ټکي د هغه سړي دي چې جامعې ډېر علمي لقبونه ورکړه، بعضو استاد بللی، نورو پوهاند ورته وایه او چې خاورو ته وسپارل سو نو د علامه لقب یې ورکړ، اما تر آخره دمه پورې زما پلار خپل ځان یو زده کوونکی باله او په دغه هڅه کښې و چې یو نوی کتاب مطالعه کړي او د هغه نه فیض واخلي هم دغه مینه وه چې سهار به په پنځو بجو ویښ سو او خپل د مطالعې کوټې ته به ولاړ؛ هلته به په لیکنو اخته و تر څو به د سهار چای تیار سو. د چای وروسته به بیا خپل د مطالعې خونې ته ولاړ او تر لسو بجو به هلته بوخت و؛ کله کله به یې خپل کتابونه او لیکنه له ځانه سره د ډوډۍ کوټې ته راوړه او مېز به یې په کتابو ډک کړ. ما دعوه ورسره درلوده چې د لوښو ایښولو له پاره ځای نه دی پاتې. دا د مطالعې ځای نه دی. ده به په ټوکه راته ویل ته خو د حیواناتو په زده کړه مشغول یې ولاړ سه په غرونو کښې غرځې دې مطالعه کړه په دغه شیانو نه پوهېږي!

دغه توکي هم يو عميق مفهوم درلود، دېرش کاله وروسته زه په دغه لته يمه چې د پلار آثار پيدا کړمه او په بېلو کتابونو کښې ګرځم. د ده دوه سوه مقالې مې پيدا کړې دي دده شاګردان او دوستان راته وايي چې د استاد د مقالو شمېر يو زر ته رسېږي. بې شکه چې په ځوانۍ کښې زه خپل د پلار په تحقيقاتو او مطالعاتو سم پوه نه وم.

زموږ کور ته به اشنا او پردي راتله او غوښتل يې چې زما د پلار سره خبرې وکړي، ده هېڅ وخت چا ته ځواب نه ورکاوه او خپل پند او له ارزښته ډکې خبرې يې ټولو ته کولې، خلکو ته به يې په ډېره ساده ژبه علمي لارښوونه کوله، دی نه يواځې لوی مؤرخ او د پښتو او دري ژبو ليکونکی و کله کله به يې پخلی هم کاوه، ما د ګازرو حلوا پخول له ده څخه زده کړې ده

داسې ښکاري چې پلار مې نورو ته لارښودنه د ژوند تر وروستۍ ورځو پورې ادامه ورکړې ده، ده په خپل وروستي ليک کښې چې ما ته يې په ۹ ثور ۱۳۶۲ کښلی و داسې ليکي:

"اوس چې ته د يوه زولوجست د کتور په ډول منلی سوی يې خپل فن او معلومات او څېړنې زياتې کړه او ښايي چې ژر خپل وطن ته راسې، خپله مېنه مه هېروه، زه ناجوړه يم اووه مياشتې وسوي چې له کوره نه يم وتلی. پام کوه چې غير له علمي کاره، د سياست په مردار ډګر کښې داخل نه سې، د علم په وسيله هم ځان، هم وطن هم بشريت ته خدمت کولای سې او بايد يو حقيقي زولوجست سې!"

په آخر کښې زه خپل د محترم پلار دا ياد د ده په يوه شعر پای ته رسوم:

**نن خو ستاسې کارنامې دي چې به زموږ د ژوند اساس وي**
**که مو دا لاره کړه تينګه، نو پښتون به ضرور پاس وي**



حبيب الله رفيع

# "د علامه حبيبي د څېړنو مرکز"

لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي (۱۲۸۹-۱۳۶۳لمريز) د افغانستان، سيمې، ختيځ او د علم د نړۍ يو نابغه، وتلی او منلی شخصيت و چې يو عمر يې د علم ډېوه د خپل فکر په پلوشو روښانه وساتله او د شلمې پېړۍ د منځ شپېته کلونه يې د علمي تکلونو، هڅو او هاندونو شاهدان وو او دا ټول وخت يې په تدريس، تعليم، تأليف، تصنيف او علمي خدمت کښې تېر شو؛ دی عالم و، مؤرخ و، اديب و، محقق و، نقاد و، ژورنالست و، شاعر و او د ټولو اجتماعي علومو ماهر ده په علمي څېړنو، تحليلونو او ارزونو کښې د نبوغ تر حده استعداد درلود او ورسره يې پشت کار، زحمتکښي او ابتکار.

لوی استاد د علم او تحقيق په ناپايه سمندر کښې داسې اوږد، ژور، مثمر او ګټور سفر وکړ چې ډېرې اصيلې مرغلرې او حتی بې جوړې او "يتيم درونه" يې ترې ترلاسه او رابرسېره کړل، پټې خزانې يې رالوڅې کړې، ټول عمر يې د علم په لټه کښې زړه څپاند او

تپاند ؤ او قلم يې روان او چلان. ده خپلو هېوادوالو او په نړيواله کچه د علم مينه والو ته يوه لويه علمي پانګه جوړه او رامنځ ته کړه.

علامه حبيبي تر پنځوسو زياتو علمي نړيوالو او ملي سيمينارونو کښې برخه درلوده. هر يوه سيمينار ته يې علمي رسالې وړاندې کړې او د اکثرو سيمينارونو رياست او مشري به هم ور په غاړه وه، ده به په ډېر لږ وخت کښې د هر سيمينار له پاره داسې تياري نيولې ؤ چې د سيمينار د موضوعاتو په ټولو تيارو به يې رڼا اچولې او ټولو راولاړو شويو پوښتنو ته به يې ځوابونه ورکولای شول؛ استاد تر سل ټوکو زيات ژور او ګټور علمي کتابونه او رسالې ليکلې او ژباړلې وو او يا يې هم د ګټورو، نادرو متونو په توګه په علمي سريزو او سپړنو پسوللي وو. چې دده دا آثار د کيفيت له اړخه دومره درانه، وزين او پاخه وو چې نه يوازې په هېواد کښې دننه بلکه له هېواد نه بهر د سيمې په هېوادونو او حتى په نړيوال کچ د يونسکو په علمي مراکزو کښې منلي وو او د پخو سندونو په توګه تکيه پرې کېدله او د کميت له اړخه يې هم ډېر تاليفات داسې وو چې د مخونو شمېر يې تر يوولس دوولس سوه مخونو پورې رسېده؛ پر دې سربېره يې تر (۱۰۰۰) زياتې داسې ژورې او علمي مقالې ليکلې وې چې د ابتکار، احتوى او دقت له مخې يې هرې يوې له يوه پنډ کتاب سره سيالي کوله او هره يوه يې د يوه لوى علمي اثر ارزښت لرې ځکه ده پر خپله هره مقاله زياته خواري کړې، په لسهاؤ منابع او مآخذ يې ورته کتلې او د نوښت او ګټور توب خوا ته يې زياته پاملرنه کړې ده. استاد پر دې سربېره ګڼې علمي اداري چلولې او ګڼې علمي دندې يې سرته رسولې دي.

د ختيځ او اسلامي نړۍ په تاريخ کښې به داسې عالمانو ته چې د خپل وخت په ټولو علومو کښې به يې تبحر درلود د "علامه" لقب ورکول کېده، چې تفکر به يې ژور ؤ مفکر او فيلسوف به بلل کېده او د يوې پېړۍ د وتلي علمي شخصيت په توګه به پېژندل کېده؛



لوى استاد دا ټول اوصاف او شرايط درلودل نو ځکه دی په هېواد او سيمه کښې د شلمې پېړۍ علامه، مفکر، فيلسوف او نابغه و او دا پېړۍ به دده په نامه وياړي او پرې ياده به وي.

زموږ ګران هېواد افغانستان د تاريخ په اوږدو کښې د لويو عالمانو، مفکرانو، اديبانو، فيلسوفانو، مبارزينو او فاتحينو هېواد دی خو له بده مرغه په هېواد کښې داسې دورې ډېرې لږ راغلې چې دوی پالل شوي، روزل شوي او قدرول شوي وي له همدې کبله زموږ هغو پوهانو او مخورو زيات شهرت تر لاسه کړی چې له هېواده وتلي او نورو هېوادونو ته تللي دي، د نمونې په توګه مولانا جلال الدين بلخي، علي هجويري غزنوي (مشهور په داتا ګنج بخش) خواجه معين الدين چشتي، سيد جمال الدين افغاني هغه وخت په نړيواله سطحه پېژندل شوي چې له هېواده وتلي او په نورو هېوادونو کښې يې خپل د علم او فضل فيض خور کړی دی. نو ځکه علامه حبيبي له خپل نړيوال شهرت سره- سره په هېواد کښې دننه نه يوازې دا چې نازول شوی نه دی بلکه دده د لوړ علمي مقام او منزلت په تناسب يې هېڅکله هم حق نه دی ادا شوی او کله کله د حکومتونو له غچ او انتقام سره هم مخامخ شوی دی.

لوى استاد يو هېواد پال او د خپل هېواد په ملي ګټو او ازادۍ مين او د هېواد د ودانۍ، هوسايۍ او پرمختګ لېوال عالم او پوه و او په دې لاره کښې يې عملي مبارزه کړې او قربانۍ يې ورکړې وې نو کله چې په هېواد کښې د غوايي خونړۍ کودتا وشوه او د کمونيزم ټکه راولوېده، دی د خپل تاريخي او ملي بصيرت له مخې پوهېده چې نور به څه کېږي او هېواد به پر کومه خوا ځي همغه و چې د وطن له مينې ډک زړه يې ټکانو نه وخوړل او د زړه په درنه ناروغۍ اخته شو او بالاخره يې همدې ناروغۍ له علم، مينې، احساس، درد او درک نه ډک زړه له غورځنګه وغورځاوه او

سپېڅلې اروا يې د جنت هوا وکړه او د بلې تلپاتې دنيا په لور يې جامې بدلې کړې.

دى بايد په ژوند نازول شوى واى او تر مړينې وروسته يې لوى علمي مراکز په نامه جوړ شوي او دده د آثارو او پر ده د آثارو د خپرولو او رامنځ ته کولو يوه لويه اداره پرانستل شوې واى. خو څرنګه چې په هېواد کښې ملي اراده او ملي اداره واکمنه نه وه او په عوض کښې يې پردي او د پردو مزدور حکومتونه پر هېواد مسلط وو نو ځکه په رسمي کچه دا کارونه شو. په انفرادي توګه دده شاګردانو او مخلصينو څه نا څه هڅې وکړې لکه هارون خپل چې د "آفريده هاى مهجور علامه حبيبي" په نامه کتاب خپور کړ. ښاغلي زلمي هېوادمل په کابل کښې "د استاد ياد" په نامه د مقالو مجموعه نشر کړه او ما هم په همدې نامه (د استاد ياد) په پېښور کښې يو کتاب د لوى استاد په نامه چاپ کړ خو دا هڅې ډېرې محدودې وې او د لوى استاد د لويو کارنامو يوه وړه ګوښه يې هم نه شواى روښانولاى.

موږ له نه لسو کالو راهيسې هڅه درلوده چې د علامه حبيبي د څېړنو مرکز جوړ او فعال کړو خو حالاتو سمى نه خوړاو دا کار تر تېر کال پورې وځنډېده، تېر کال چې زه کاناډا ته راغلم راته څرګنده شوه چې ډاکټر خوشحال حبيبي د لوى استاد د ناچاپ آثارو په ترتيب، تهيه، تنظيم او چاپ ته برابرولو لاس پورې کړى او په کار بوخت دى، زه يې امريکې ته له ځانه سره بوتلم، د علامه حبيبي د څېړنو د مرکز بنسټ مو کښېښود او دده دوه آثار مو چاپ ته تيار کړل چې يوه د سليمان ماکو تذکره الاولياء وه چې استاد سريزه، سمونې او سپړنې پرې کښلې او ډاکټر خوشحال حبيبي د هغه متن او ملحقات ټول په انګليسي ژباړلي وو او دوهم دده د شعر دوې وړې وړې رسالې وې چې يوه "درد دل" د مولانا جلال الدين بلخي د مثنوي په سبك او بله "پيام عصر" د علامه اقبال د جاويد نامې په



سبك وه، دواړې مو په يوه ټوك کښې سره يو ځاى او چاپ ته چمتو کړې.

د نوي کال او يوويشتمې پېړۍ په رابرېدلو سره لوى خداى برى را په برخه کړ چې د شلمې پېړۍ ددې نابغه عالم په نامه "د علامه حبيبي د څېړنو مرکز" پرانيزو او دا دواړه کتابونه ددې مرکز د لومړۍ او دوهمې نومرې کتابونو په حيث خپاره کړو، په دې ترتيب د انجنير ميرويس حبيبي، ډاکټر خوشحال حبيبي او کاتب الحروف په هلو ځلو دې مرکز خپل کارونه پيل کړل او د خپلې کړنلارې له مخې د لنډ مدته او اوږد مدته چارو د سرته رسولو پروګرام لري، په لنډ مدته پروګرام کښې د لوى استاد د يوه ناچاپه اثر "تاريخ تجزيه شاهنشاهي افغان" د خپرولو کار دى چې چاپ ته چمتو شوى او ان شاءالله ډېر ژر به چاپ شي او په دې پسې "زر مقالې- د علامه حبيبي" يا "هزار مقاله- از علامه حبيبي" کتاب دى چې په شلو ټوکونو کښې به خپرېږي، په هر ټوك کښې به يې په يوه موضوع پنځوس مقالې وي لکه د افغانستان تاريخي ځايونه، د افغانستان تاريخي کسان او نور، د درې مقالو نوم به يې "هزار مقاله" او د پښتو "زر مقالې" وي او په ګډه به شل ټوکونه ترې جوړېږي، ددې مقالو لومړى ټوك تر چاپ لاندې دى او د نورو ټوکونو د ترتيب او راغونډولو لړۍ روانه ده، همدا راز د لوى استاد "د پښتو ادبياتو تاريخ" هم په څلورو ټوکونو کښې د چاپ له پاره چمتو کېږي.

د علامه حبيبي د څېړنو د مرکز په اوږدمدته پروګرام کښې دده د ټولو آثارو راغونډول او په ښه صحافت چاپول شامل دي، ورپسې به هغه آثار خپرېږي چې د استاد پر ژوند، آثارو او افکارو ليکل شوي او يا تر دې وروسته ليکل کېږي، په اوږد مدته پروګرام کښې دا هم شته چې د علامه حبيبي د څېړنو مرکز په هېواد کښې دننه يوه ځانګړې ودانۍ ولري، دا ودانۍ به د دوى د موجوده کور پر ځاى يا بل ځاى کښې جوړېږي چې يو لوى کتابتون او د څېړنې کوټې او

وسایل به لري او ځوانان به ددې مرکز په ودانۍ کښې د لوی استاد پر ژوند او آثارو څېړنې کوي، د ماسټریو او ډاکټریو تېزسونه به دلته برابروي او ددې مرکز په پرمختیا یې پراوونو کښې به بیا دا مرکز د افغانستان د تاریخي څېړنو د مرکز بڼه غوره کوي او له همدې مرکز نه به د افغانستان په عمومي تاریخ کار او څېړنې کېږي.

موږ په همداسې سپیڅلي نیت د علامه حبیبي د څېړنو د مرکز کار پیل کړی او په دې لاره کښې له لوی خدای نه توفیق غواړو او د خواخوږو، په علم او هېواد مینو هېوادوالو د تشویق، مرستو، ملاتړ او همکارۍ هیله لرو!

و من الله التوفیق




سر محقق زلمی هېوادمل


# استاد حبیبي

# د معاصر فرهنګي بهیر سرلاری

زموږ په هېواد کښې زموږ د دواړو عمده ژبو د معاصر ادبي دوران پیل د امیر حبیب الله له دورانه (۱۹۰۱- ۱۹۱۹م) کېږي. خو زما په پوهه زموږ په هېواد کښې د فرهنګي ودې معاصر بهیر په اساسي ډول له ۱۳۰۸هـ ش نه پیلېږي، ځکه دا وخت له یوې کورنۍ غایلې وروسته د اماني دوران د فرهنګي کار پروګظامونه په خورا احتیاط په نوي ډول له ځینو نورو نوښتونو سره مله پیل شول.

لوی استاد پوهاند علامه عبدالحی حبیبي له همدغه وخته په خورا پخه اراده، اورنۍ مینې او علمي مایې سره د فرهنګ ډګر ته رانووت. په مینه یې کار پیل کړ، په ملي او وطني مینه یې خپلې چارې پر مخ بوتلې، تجربې یې زیاتې شوې او ورسره یې علمي پانګه هم مخ په بره روانه وه. استاد د خپل نوښتګر دماغ په مرسته

ځینې داسې کارونه وکړل چې تر ده دمخه چا نه وو کړي. لومړنی بنستیزه یې دده پر لاس کښېښوول شول او نورو بیا دده پر اېښي بنسټ په بېلا بېلو برخو کښې د فرهنګ د مانۍ په لوړولو کښې خپلې هڅې منسجمې کړې، مانا دا چې استاد حبیبي زموږ د معاصر فرهنګي بهیر په ډېرو برخو کښې د پیلوونکي، مبتکر او سرلاري حیثیت لري او په دې ساحو کښې د لومړیتوب حق ده ته حاصل دی. زه په دې لیکنه کښې هغه فرهنګي ساحې درښیم، چې په معاصر فرهنګي بهیر کښې یې پیلوونکی استاد دی.

١ موږ پوهېږو چې په افغانستان کښې لومړنی پښتو اخبار "طلوع افغان" دی، چې په ١٣١٠هـ ش کال کښې بشپړ پښتو شو دا مهال زموږ استاد عبدالحی حبیبي د دغه اخبار مدیر و، نو ځکه پښتو اخبار لیکنه په افغانستان کې استاد پیل کړه، چې بیا وروسته د هېواد په مرکز او ولایتونو کښې نورې بشپړې پښتو خپرونې پیدا شوې.

٢ استاد لا په کندهار کښې و او د طلوع افغان اخبار یې چلاوه، چې د اخبار د چلولو تر څنګه یې د هغه ځای په نشتو امکاناتو کښې ځینو نورو ابتکاري کارونو ته لاس واچاوه. ده په ١٣١٤هـ ش کال کښې "تاریخچهٔ شعر پښتو" نومې اثر وکیښ او په دې توګه یې لومړی ځل د پښتو ادبي تاریخ لیکنې بنسټ کښېښود. "تاریخچهٔ شعر پښتو" د هغه وخت شرایطو ته په پاملرنه یو تمام عیار ادبي تاریخ دی چې په دري ژبه یې کښلی دی او د طلوع افغان د اخبار د ١٣١٤- ١٣١٥هـ ش کلونو په ځینو ګڼو کښې خپور شوی دی. زموږ استاد اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد هم "تاریخچهٔ شعر پښتو" لومړنی ادبي تاریخ ګڼلی دی.

استاد حبیبي نه یوازې په افغانستان کښې د پښتو ادبي تاریخ لیکنې بنسټ اېښوونکی دی. بلکه د پښتنو په نورو فرهنګي حوزو، لکه: پېښور او کوټه کښې هم تر ده دمخه چا ادبي تاریخ لیکلو ته



اقدام نه و کړی. وروسته بیا استاد د پښتو ادبیاتو تاریخونه په څلورو ټوکونو کښې ترتیب کړل، چې لومړی او دویم ټوکونه یې حروفي چاپ شوي دي، دریم او څلورم ټوکونه یې د کابل پوهنتون له خوا د درسي مقاصدو له پاره د ګستتنر له لارې تکثیر شوي دي. په استاد پسې وروسته بیا په افغانستان، پېښور او کوټه کښې په بېلابېلو سویو دا ډول هڅې وشوې.

٣ په پښتو کښې د انتقادي متونو د ترتیب او نشر کار هم په استاد حبیبي پورې اړه لري. دوی په ١٣١٧هـ ش کال دخوشحال کلیات (د خوشحال مرغلرې) چاپ ته آماده او په کندهار کښې چاپ کړ. د عبدالقادر خان دېوان هم دوی دغلته چاپ ته آماده او په خوشال مرغلرې پسې چاپ کړ دې کار ته یې د احمد شاه بابا د دېوان (لوی احمد شاه بابا) په چاپ سره په پښتو ټولنه کښې هم ادامه ورکړه (١٣١٩هـ ش کابل) د تذکره الاولیا او پټې خزانې د متونو د آماده کولو له لیارې یې دا کار وپاله. او د ژوند په وروستیو کلونو کښې یې د سواتنامې د تحقیقي متن آماده کول ددې لړۍ وروستنی کار و. استاد چې د تحقیقي او انتقادي متونو د نشر کار پیلاوه، نه په افغانستان، نه په پېښور او نه په کوټه کښې چا دا ډول کار ته لاس اچولی و. تر ده وروسته بیا په کابل او پېښور کښې ډېرو نورو فرهنګیانو دا لاره وپالله. خو دا باید وواېو چې تر استاد دمخه د ځینو ختیځ پوهو پښتو پوهانو په کارونو کښې د انتقادي او تحقیقي متن څېړنې ځرک ایستلای شو، لکه د پروفیسور برنارد دورن (١٨٠٥-١٨٨١ع) په پښتو منتخبات (١٨٤٥- بېل اډېشن ١٨٤٧م) او د هانري جارج راورټي (١٨٢٤-١٩٠٦م) په ګلشن روه کښې په تېره د رحمن بابا منتخب.

٤ لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبي لومړنی افغان دی، چې د خوشحال پېژندنې د کار بنسټ یې په اساسي توګه اېښی دی. ک
څه هم د استاد تر کارو د مخه اروابناد غلام محی الدین افغا

(۱۳۰۰هـ ش مړ) په سراج الاخبار کښې پر خوشال خان یوه لیکنه نشر کړې او ارواښاد امین الله خان زمریالی (۱۲۷۳- ۱۳۶۱هـ ش) په ۱۳۱۵هـ ش کال کښې پر خوشال خټك ځینې کارونه وکړل. خو استاد دا کارونه په تاریخچهٔ شعر پښتو کښې په ابتدایي ډول پیل کړل، د خوشال مرغلرې او د عبدالقادر خټك دېوان په مقدمه کښې یې پسې وپالل، چې تاریخچهٔ سبکهای اشعار پښتو، پښتانه شعراء لومړی ټوك، د پښتو ادبیاتو تاریخ دویم جزء (د ادبیاتو پوهنځی د پښتو څانګې د دویم صنف له پاره)، د خوشال د جهاندارۍ نظریه نومي اثر کښې یې ورته انکشاف ورکړ. د خوشحال د سواتنامې (د ۱۳۵۸هـ ش کال چاپ) د چاپ ته برابرولو او د خوشال بابا د درې سوم تلین له پاره د خوشال په اشعارو کښې انتقادي پانګه نومي اثر په لیکلو سره یې له خوشال پوهنې سره خپله مینه اثبات ته ورسوله.

تر ده وروسته بیا په افغانستان، پېښور او کوټه کښې ډېرو پوهانو په دې لاره کښې د یادونې وړ کارونه وکړل، چې د ارواښاد استاد دوست محمد کامل (۱۹۱۵- ۱۹۸۱م) کارونه په دې لړ کښې ډېر او ابتکاري دی، ارواښاد استاد الفت (۱۲۷۸- ۱۳۵۶هـ ش) او ارواښاد استاد بېنوا (۱۲۹۳- ۱۳۶۳هـ ش) په دې لړ کښې ځانګړي آثار لري. د ارواښاد استاد رښتین (۱۲۹۷- ۱۳۷۷هـ ش)، ارواښاد استاد روهي (۱۳۱۲- ۱۳۷۵هـ ش) او د اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد هغې هم خپلې ځانګړې ښېګنې او ځینې نویتوبونه لري.

۵. د پښتو اشعارو د سبکونو د ښوولو او وېش کار هم د پښتنو په فرهنګي حلقو کښې لومړی ځل استاد عبدالحی حبیبي پیل کړی دی. دوی په ۱۳۱۹هـ ش کال کښې تاریخچهٔ سبکهای اشعار پښتو نومي رساله ولیکله د هغه وخت معلومو پښتو منظومو آثارو سبکونه یې وټاکل. دا رساله هم استاد په دري ژبه لیکلې ده، چې بشپړه د کابل کالنۍ د ۱۳۱۹هـ ش کال په ګڼه کښې چاپ ده.



لنډیز یې په پښتو ژبه د پښتانه شعراء د لومړي ټوك په مقدمه کښې چاپ شوی دی. تر استاد وروسته بیا استاد الفت او استاد رښتین هم په دې لاره کښې کارونه وکړل.

۶. معاصره تذکره لیکنه هم د ارواښاد استاد حبیبي په ابتکار او هلو ځلو پیل شوې ده. دی چې کله په ۱۳۱۹هـ ش کال کښې د پښتو ټولنې مشر شو. نو یې د پښتنو شاعرانو د احوالو په ټولولو پیل وکړ..نور ملګري یې هم په دې لاره په کار واچول او د پښتانه شعراء سلسله یې شروع کړه. ددې سلسلې لومړی ټوك په ۱۳۲۰هـ ش کال په کابل کښې چاپ شو. دا سلسله بیا پسې وپالل شوه تر اوسه یې پنځه ټوکه چاپ دي. او له دې سلسلې سربېره په کابل، پېښور او کوټه کښې په لسګونو تذکرې ولیکل شوې، خو اساس یې استاد حبیبي کښېښود.

۷. له تحقیقي برخو چې تېر شو په تخلیقي برخو کښې هم استاد څه داسې تخلیقي تجربې وکړې، چې په افغانستان کښې یې تر ده دمخه ساری نه درلود. که څه هم په ټول پوره پښتو لنډه کیسه تر استاد دمخه په پښتونخوا کښې ارواښاد راحت زاخیلي لیکلې وه، مګر په افغانستان کښې دا تجربه په لومړني شکل استاد حبیبي وکړه. دغه راز د آزاد شعر تجربې هم په افغانستان کښې ده خلکو ته ورانډې کړې دي.

۸. له پښتو چې ورتېر شو استاد په دري ژبه هم ځینې داسې کارونه وکړل، چې د افغانستان د دري ژبو په فرهنګي حلقو کښې یې بل ساری نه لیدل کېږي او ابتکاري اړخونه یې ثابت دي. په دري ژبه کښې ده د تحقیق په بېلا بېلو ساحو کښې قلم چلولی دی، چې البته په هغو ساحو کښې نورو افغان دري ژبو عالمانو او فرهنګیانو هم تجربې کړې وې. اما د دري ژبې د ځینو عمده متونو په تصحیح او تحقیق کښې د استاد کارونه په افغانستان کښې بې ساري دي.

د خواجه عبدالله انصاري د طبقات الصوفيه؛ د قاضي منهاج السراج جوزجاني د طبقات ناصري؛ د عبدالحی ګردېزي د زين الاخبار؛ د حکيم سنايي غزنوي د حديقې (يوه برخه يې چاپ ده)؛ د سواد اعظم، فضايل بلخ او روضه الفريقين د متونو تصحيح او چاپ ته ورانديز کول هغه علمي کارونه دي چې په افغانستان کښې يې بل عالم د سرته رسولو جوګه شوی نه دی.

له علمي کارونو چې ورتېر شو د ځينو علمي، تحصيلي مؤسسو د لومړني مشرتابه وياړ هم د استاد حبيبي په برخه دی.

الف: که څه هم پښتو ټولنه په ۱۳۱۶هـ ش کال کښې جوړه شوه، خو اساسي کارونه يې هغه وخت پيل کړل چې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي په ۱۳۱۹هـ ش کال کښې د پښتو ټولنې مشر وټاکل شو. په حقيقت کښې هم دی د پښتو ټولنې لومړنی مشر و، چې د علم او تحقيق په بېلابېلو ساحو کښې يې د دې ټولنې له پاره اساسي کړنې وټاکلې او بيا د همده پر ايستلو کرښو آينده کارونه تنظيم شول.

ب: لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي د ادبياتو پوهنځي مؤسس او لومړنی مشر هم دی. ده په ۱۳۲۳هـ ش کال کښې د وخت د حکومت له غوښتنو سره سم دا کار په ډېر ښه ډول سرته ورساوه. پوهنځی يې تاسيس کړ او د پښتو ادبياتو تاريخ لومړی ټوک يې ورته د لومړني درسي اثر په توګه وکيښ، چې بيا په ۱۳۲۵هـ ش کال کښې چاپ شو.

لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي په خپل پر باره ژوند کښې تر سلو زيات کتابونه او رسالې او دغه راز د اتو سوو په شاوخوا کښې علمي تحليلي او اخباري مقالې او يادښتونه ليکلي دي او په دغو آثارو کښې يې ځينې داسې تاريکي نکتې روښانه کړې دي او ځينو داسې باريکيو ته متوجه شوی دی چې تر هغه وخته پام نه و ور اوښتی. استاد د خپلو دغو ارزښتمنو علمي کارونو او د فرهنګ



په ځينو ساحو کښې د لومړي ت‌نه د حقوقو د درلودلو له امله په حقه د افغانستان د معاصر فرهنګي بهير د سرلارو په سر کښې ولاړ دروند علمي شخصيت دی، چې نوم او تلپاتې آثار به يې د افغانستان د فرهنګ او تاريخ په آينده څېړنو کښې تل په دېرې او د هر چا د استفادې مرجع به وي

زه د استاد د ستر شخصيت د يوه څنګ په باب د نوړلنده کي يادښت په پای کښې دا هم په زغرده وايم، چې د شاګرد په رهنمايي او د شاګرد په روزنه او پالنه کښې ښايي ډېر لږ خلك د استاد حبيبي مقام ته ورسي. هغو شاګردانو چې د استاد له علمه فيض موندلی دی په دې پوهېږي چې استاد پر خپلو شاګردانو څومره مهربان، څومره زړه سواند او تر کومې درجې د خپل شاګرد د رسولو او پوهولو طرفدار او غوښتونکی و. استاد له خپلو شاګردانو سره ډېر مخلصانه برخورد درلود، چې شاګرد به يې کور ته ورغی، له ځايه ورته جګېده او په مينه يې روغبړ ورسره کاوه. د احوالو پوښتنه به يې تري کوله او په دې توګه به يې خپلو شاګرانو ته خپل صميميت ښوداو شاګرد به په رواني لحاظ خوراً آماده شو. د تکبر او ځان لوړ ښوونې هېڅ ډول احساس به يې په خپل استاد کښې نه کوت. چې کله به شاګرد کار خلاص کړ او له استاده به رخصتيده، استاد به بيا هم نېغ له ځايه راولاړ شو او د انګړ تر دروازې به له خپل شاګرد سره روان و.

استاد د خپلو شاګردانو ټولو پوښتنو ته په ډېره مينه ځواب وايه. ټول هغه معلومات چې به په موضوع کښې ورسره وو. هغه به يې په ډېر خلوص د شاګرد مخې ته ايښودل. د مآخذو لست به يې ورته برابراوه. د کتاب د پيدا کېدو ځای به يې ورښود او له دې سربېره خپل ډېر قيمتي ځاني يادښتونه به يې ورته سپارل. د خپلې کتابخانې ناياب کتابونه يې ورته ورکول. که به شاګرد خپل تکميل کړی کار استاد ته يووړ، دا کار به يې دقيق کوت. زياتونې او

کموني به يې پکښې کولې او حتی نوي معلومات به يې پکښې زياتول، په مطبوعاتو کښې به يې د خپلو شاګردانو خپرې شوې مقالې لوستې، چې کله به يې خپل شاګرد وليد، نو د هغه د کار ستاينه به يې کوله او آينده څېړنو ته به يې تشويقاوه. که به يې په کار کښې څه خامي يا تېروتنه وه، د سمون خبره به يې هم ورته کوله. ما خپله د استاد حبيبي په څېر مهربان او ملګری استاد ډېر لږ ليدلی دی. بويه چې افغانستان بيا بل دغسې استاد پيدا کاندي.

*اروا دې يې ښاده وي.*



څېړنمل محمد عارف غروال

# د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي

# دروند ياد

د پسرلي له نري نري باران او خوږو ورمو سره يو ځای د هېواد په ګوټ ګوټ کښې د وطن په دين او وطن مين بچيان له روسي يرغلګرو پوځونو سره په ډغرو بوخت وو او د پسرلي د باران له څاڅکو سره يو ځای وربانديې د روسي الوتکو د بمباريو ګولۍ اورېدې د هېوادد بچيانو په مخونو او ګرېوانونو سرو وينو لکه د غاټولو په شان داغونه جوړ کړي وو. دا د ۱۳۶۳ المريز کال د غويي نولسمه نېټه وه چې موږ د يو شمېر شهيدانو د تکفين او تدفين او ځينو زخميانو د زخمونو د ټکورولو چارې سنبالولې، موږ د يوه لوی ارمان د ترسره کېدو له پاره متې راپورته کړې وې، موږ په دې باور در. لود چې ددې بې شمېره او بې ساري قربانۍ تر شا زموږ د سر لوړي بري لمر راختونکی دی ځکه مونو دا هر څه او هر ډول مشکلات منلي وو او اوږه مو ورکړې وه.

موږ چې د ورځې تر تېرېدو وروسته د شپې د آرام کولو له پاره تابيا نيوله نو د نړيوالو او سيمه ايزو راډيوګانو څخه مو يو زړه

بوږنوونکی خبر واورېد چې ورسره زموږ د ورځې ستړيا څو برابره زياته شوه، دا خبر د شرق د علامه لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي د مړينې خبر و، زما فکر د لوی استاد د يو شاګرد په توګه شل کاله مخکښې هغه خاطرې په خپل مخکښې انځور کړې چې د ادبياتو په پوهنځي کښې د پښتو ادبياتو د استاد په توګه به لکه د غر په شان زموږ په مخکښې ولاړ و او په ډېر عالمانه او له خواخوږۍ نه په ډك انداز کښې به يې د پښتو ادبياتو بېل بېل اړخونه او بېل بېل پړاوونه راته تشريح کول او چې کله به يې دا احساس کړه چې شاګردان يې ستړي ښکاري، نو به يې د يوې داسې تاريخي پېښې په بيان شروع وکړه چې هم به يې زموږ پام بدل کړ او هم به پکښې زموږ د اذهانو د لاروښانولو ځرکونه ښکارېدل.

هو! لوی استاد د خپل عمر په (۱۵) کلنۍ کښې د هېواد خدمت ته ملا وتړله او د خپل پاتې ژوند **۵۹** کلونه يې د لوی عالم، فاضل مؤرخ، محقق، ژورنالست، مدبر استاد او پياوړي شاعر په توګه خوب او راحت پر ځان حرام کړی و او زموږ د ټولنيز ژوند په بېلو بېلو اړخونو کښې يې موږ ته دومره زياته معنوي سرمايه په ميراث پرېښوده چې زموږ نسلونه نسلونه به ورځخه ګټه اخلي. لوی استاد د ۱۳۲ علمي، تاريخي او ادبي آثارو د ليکلو تر څنګ څه له پاسه زر مقالې وليکلې چې هره مقاله يې د يوه با ارزښت تيزس حيثيت لري.

زه د لوی استاد د يوه شاګرد په توګه.په دې اعتراف کوم چې دا لږ و ډېر ليك لوست چې کولی شم دا دده اود درانه استاد اکاډميسن پوهاند عبدالشکور رشاد د هغو لارښوونو او خواخوږيو برکت دی چې د خپلو شاګردانو په اړه.يې درلودل زه په دې باور لرم چې د لوی استاد شاګردان به همدا نن د نړۍ په ګوټ ګوټ کښې خواره واره، خو د يوه ښه استعداد په لرلو سره ژوند کوي.



د لوی استاد د علمي او اجتماعي شخصيت په اړه چې څومره زياتې خبرې وشي بيا به هم لږې وي، خودده د يوه عالمانه تقرير يوه خاطره مې اوس هم په ذهن کښې انګازې کوي او هغه دا چې د غويي له کرغېړنې کودتا نه ډېر دمخه په **۱۳۵۳** کال کښې د پښتو ټولنې له خوا د پښتو څېړنو علمي سيمينار جوړ شوی او هغه ته د نړۍ له زياتو هېوادونو څخه عالمان او پوهان راغلي وو، د سيمينار علمي غونډې د کابل پوهنتون د کتابخانې د تالار په پاسني پوړ کښې رواني وې، د سيمينار د غونډو په وروستۍ ورځ بهرنيو مېلمنو پوهانو دا مينه درلوده چې د سيد جمال الدين افغاني زيارت وکړي، نو د سيمينار برخه وال پلي زيارت ته ورغلل، هلته چې ورسېدو لوی استاد علامه پوهاند حبيبي د زيارت په پاسنۍ پوړۍ ودرېد او د حضرت سيد جمال الدين افغاني د علمي او اجتماعي شخصيت په اړه يې يوه داسې هر اړخيزه عالمانه وينا واوروله چې د سيمينار برخه وال ورته ګوته پر غاښ پاتې شول ځکه ده د سيد جمال الدين افغان د ژوند ټول اړخونه د تاريخي تسلسل له په پام کښې نيولو سره داسې يو په بل پسې تشريح کړل چې د ګوتنيونې ځای پکښې پاتې نه شو

اوس چې لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي زموږ په منځ کښې جسماً نشته خو معنوي پانګه يې دومره زياته راپاتې ده چې دده د علمي او اجتماعي شخصيت ياد به تل ورباندې تازه ساتو افغانان د خپلو عالمانو او پوهانو قدر کوي، هغوی که ژوندي وي نو له علمي فيوضاتو څخه يې ګټه اخلي او چې وفات (مړه) شي نو بيا يې په علمي او تحقيقي آثارو خپله علمي بډاينه لاپسې بډايه کوي چې علامه پوهاند حبيبي هم د هېواد له هغو د ګوتو په شمېر پوهانواو عالمانو څخه يو تن و. روح دې يې ښاد او نوم دې يې ياد وي.

سپېره ګردونه د وطن په غرو رغو پرېوتل
چې پنځه ستوري د افغان په سردرو پرېوتل

الفت، خادم او بېنوا چې سرمايه وه د قوم
په بېلتانه يې ځاځکي ځاځکي له لېمو پرېوتل
چې لوی استاد[1] په دوی پسې جامې بدلې کړلې
خاورې ګردونه يې په ډېرو کتابو پرېوتل
پوهاند رښتين وُ په رښتينې خدمتګار د وطن
د غم له پاسه يې غمونه په غمو پرېوتل
اوس يو رشاد[2] دی راته پاتې چې پرې وياړو به موږ
کنه غرواله! نور مو هر څه له ماغزو پرېوتل .

۱۳۷۹/۹/۲۶

پېښور/ کبابيان

[1] - علامه پوهاند عبدالحی حبيبي.

[2] - پوهاند عبدالشکور رشاد.



محمد معصوم هوتک

# د لويانو يادونه

کله چې د ارواښاد علامه حبيبي په ياد د ليکنې په سوچ کښې وم او همدې سوچ خپل هېواد، خپلو مفاخرو او خپلو خاطرو ته ورسولم، خپل غفلتونه او د نورو بېداری، خپلې بېقدری او د نورو قدردانی مې را په زړه کړې او په دې لړ کښې نه پوهېږم په څه راز مې د مولوي ابوالوفای افغاني کندهاری (۱۹۷۵م مړ) نوم ذهن ته تداعی سو ښايي يو علت به يې داوُ چې ارواښاد علامه مولوي ابوالوفا صاحب د علامه حبيبي مرحوم استاد وُ.

علامه حبيبي ليکي چې له دغه استاد څخه مې "ادبيات، علم قرائت او هغه کتابونه لوستي وو چې منتهيان يې لولي"[1] او بله انګېزه به يې دا وه چې يو وخت د تورنتو ښار په مدينه مسجد کښې له هندوستان څخه يوه راغلي خطيب د خپلو خبرو په ترځ کښې د مولوي ابوالوفا صاحب ياد په ډېره درناوی وکړ، هغه يې خپل استاد وباله او د خپل بيان د استناد له پاره يې د نوموړي مرحوم نقل قول د يوه پاخه سند په توګه راووړ. په حاضرينو کښې يوه زياته برخه افغانان هم ناست وو او حتی د ارواښاد مولوي صاحب خپل

ښاریان او د کوڅې او محل اوسېدونکي هم ناست وو. خو څوك خبر نه وو چې دا نامور عالم څوك و؟ دې خبرې زه ډېر خواشینی کړم او د همدې خواشینۍ اغېزه ده چې اوس غواړم د علامه حبیبي مرحوم له یاد سره د حضرت مولوي ابوالوفا صاحب په باب هم لږ څه وړغېږم

حضرت مولوي ابوالوفا افغاني د معاصر افغانستان له نومیالو علمي او ادبي مشاهیرو څخه دی اصل نوم یې محمود شاه او د پلار نوم یې مبارکشاه قادري و. پلار و نیکه یې د کندهار د ارغسان له بارکزو څخه و خو دی په کندهار ښار کښې اوسېدی او د تدریس حلقه یې د علامه حبیبي مرحوم د کورنۍ په مسجد کښې فعاله وه.

مولوي ابوالوفا صاحب ستر فقیه و، د قرآن ښه قاري و، مفسر و، محدث و، په علم تجوید کښې یې د "دلیل القرآن" په نامه یو کتاب په پښتو ژبه کښلی دی. مولوي صاحب په ۱۳۴۸ق په حیدر آباد دکن کښې د "احیاء المعارف نعمانیه" په نامه یوه علمي موسسه جوړه کړه چې له دغې موسسې څخه د اسلامي ثقافت شل کتابونه د مولوي ابوالوفا صاحب په تصحیح او تنظیم خپاره سول. مرحوم ابوالوفا صاحب ته د افغاني دانشمندانو درناوی له هغه قطعې څخه اټکلولای سو چې زموږ فاضل استاد پوهاند رشاد صاحب د نوموړي مرحوم د یوه لیك په ځواب کښې له ډیلي څخه دکن حیدرآباد ته ورلېږلې وه (۱۳۶۹ق) په دغه لیك کښې مولوي مرحوم د خپلې ناروغۍ یادونه کړې وه. فاضل استاد رشاد صاحب ورته کښلي چې

زیبایي دواړه باغ ورسره درومي
مه راوینې افسرده د ګلو بوټي
د ګل څوب مو راولي د بڼ صحنې ته
که نه څه کړو وچې ګرګې سپېرې لوټي



دا جهان په ښایسته وو ښایسته دی
ښایسته راځه په مرګ مه سه مخ پوټي
زه "رشاد" به د خوبانو لار پرې نږدم
که مې پښې سي له طلبه غبرګې شوټي[۲]

اروابناد مولوي ابوالوفا صاحب شاعر هم و. ښتو شعرونه یې په طلوع افغان کښې خپرېدل علامه حبیبي مرحوم چې کله په کندهار کښې د "طلوع افغان" اخبار چلاوه (۱۳۱۰-۱۳۱۹ش). دکن حیدرآباد ته یې د مولوي ابوالوفا صاحب د مطالعې له پاره منظم ورلېږي.

د طلوع افغان د دغو ګڼو یوه برخه ما په ۱۹۹۲م کال په کراچي (پاکستان) کښې د علامه آدم بنوري ح مدرسې ته نږدې په یوه کتابفروشي کښې وموندله چې په یوه مجلد کښې ګنډلي سوې وې. پر ځینو ګڼو باندې دمولوي ابوالوفا صاحب آدرس لیکل سوی و. ابوالوفا صاحب په هند کښې تر مرګه پورې افغاني پاسپورټ له ځانه سره ګرځاوه او هر کال یې ویزه ورنوې کوله. د کابل له پښتو ټولنې سره یې منظمه رابطه درلوده او په ځینو ادبي برخو کښې یې علمي لارښوونې ورته کولې او خپل نظریات یې ورته لیکل. په یوه لیك کښې چې د پښتو ټولنې لوی مدیر ښاغلي پوهاند صدیق الله رشتین ته یې لیکلی دی (۱۳۳۱ش) او په هغه کښې یې د رحمان بابا د دېوان د چاپ له امله خوښي ښودلې ده، داسې لیکي: "... الحمدلله چې زما ارزوګانې او تمناوې ما په خپل ژوند کښې ولیدلې. د عبدالرحمن بابا دېوان داسې ښکلی چاپ شوی دی چې مثل نه لري، سترګې یې په دید نه مړېږي لېکن د ډېرو قلمي او چاپي نسخو سره مقابله او د اختلاف د جمع کولو او د تحقیق کار ددې دېوان لا پاتې دی. خدای دې وکړي چې ګانده ټولنه ددې مهم کار دپاره موفقه شي...

په انګلستان کښي د پښتو ډېر کتابونه شته چې ډېر نادر او نایاب دي... د داسې کتابونو عکسونه باید راوغوښتل شي، چې دا د قوم د ژبې لوی خدمت دی."[3]

زموږ دا روښان فکر روحاني په ۱۳۵۴ش کال په دکن حیدر آباد کښي له فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې. د ابدیت جزْ سو او دا دی څه له پاسه دېرش کاله وروسته یې موږ د دنیا په یوه داسې برخه کښي یاد تازه کړ چې د علامه مرحوم په زرګونو هېوادوال پکښي اوسېږي خو له بده مرغه پر اتلسو لارو سره بېل روان دي، هېواد یې په جګړو کښي سوځي او هېوادوال یې په نفاق کښي.

ما غوښتل چې د علامه مرحوم د علامه شاګرد اروانباد عبدالحی حبیبي پر پښتو ایجادیاتو څه ولیکم، خو خبره راڅخه اوږده سوه. پښتو ژبې او ادب ته د لوی استاد علامه حبیبي د کار درنښت موږ د پښتو ژبې د یو بل خدمتګار او وتلي شاعر اروانباد ګل پاچا الفت له دې وینا را پېلوو چې ویلي یې وو. "انصافاً باید وواېو چې حبیبي صاحب د پښتو ژبې د تاریخ په روښولو کښي ډېر ستر موفقیتونه ګټلي دي او د لویې برخې خاوند دی. ددې کار آغاز او ادامه تر ډېره حده دده د همت او زحمت ثمره ده چې دده د قلمي او علمي خدمت پله یې ډېره درنه کړې ده، خدای دې دی دروند لري او دده د اعمالو پله دې تل درنه وي."[4] د اروانبا الفت دا خبرې تشې کلیشه یې جملې نه دي چې معمولاً په مقدمو او سریزو کښي کښل کېږي. لوی استاد حبیبي د پښتو فرهنګ په دغو سترو برخو کښي لومړني خو اساسي ګامونه اخیستي دي:

- په هېواد کښي یې لومړنی پښتو اخبار (طلوع افغان) لس کاله په پرله پسې توګه وچلاوه. په دې اخبار کښي یې د پښتو ژبې، پښتو ادبیاتو، پښتو شعر او پښتنو شاعرانو په باب درنې څېړنې وکړې. د پښتو لیکدود د یووالي له پاره یې پاخه بنسټونه



کېښېښوول. په طلوع افغان کښي یې د نورو همکارانو تر څنګ د اروانباد استاد قیام الدین خادم ونډه ډېره درنه ده.

- په دغه اخبار کښي علامه حبیبي د لومړي ځل له پاره د آزاد پښتو شعر خښته کېښېښووله.
- په هېواد کښي یې د پښتو ادبي ټوټې د لومړي وار کښلو ویاړ هم په برخه سو.
- په افغانستان کښي یې د لومړي ځل له پاره پښتو لنډه کیسه ولیکله.
- پښتو داستان یې (توریالی پښتنه) د لومړي ځل له پاره وکیښ. دا لیکنه که څه هم په اوسني لیکوال نومي کتاب کښي "ډرامه" بلل سوې ده، خو زموږ د زماني غښتلي لیکوال او محقق ښاغلی زرین انځور پکښي "د داستان او ډرامې ځینې ګډې ځانګړتیاوې" ویني.[5]
- د پښتو ادبیاتو تاریخ یې د لومړي ځل له پاره ترتیب کړ.
- "تاریخچه سبکهای شعر پښتو" د لومړي ځل له پاره د دوی په لاس ولیکل سوه.
- د روښاني تحریک لومړنۍ پرله پېیلي او منظمه څېړنه دده په قلم وسوه. که څه هم تر ده وړاندې هم په دې باب څېړنې سوې وې، خو په دې برخه کښي د علامه حبیبي تحقیقات پخپل وخت کښي بېساري وو.
- پټه خزانه او د سلیمان ماکو تذکرة الاولیاء دده له خوا د تحقیق ډګر ته راووتل.

اروانباد حبیبي ته په ډېرو نړیوالو سیمینارونو کښي د نړۍ د بېلابېلو پوهانو له خوا په علمي موضوعګانو کښي مراجعه کېدله او دده نظر ته د صایب نظر په سترګه کتل کېدل. علامه مرحوم د افغاني فرهنګ له پاره ۱۳۲ کتابونه وکښل او تر زرزیاتي تحقیقي مقالې څنې پاتې سوي. زما د معلوماتو له مخې د علامه حبیبي

لومړی چاپ سوی اثر "تاریخچهٔ سبکهای شعر پښتو" (د چاپ کال ۱۳۱۱ش) او وروستی یې "جنبش مشروطیت در افغانستان" دی چې لومړي پروفونه یې د علامه تر وفات دوې هفتې دمخه له چاپخانې راووتل.[۶]

نن ورځ لوی استاد زموږ په منځ کښې نسته خو د علم او فضیلت نخښې یې د نړۍ د کتابتونو زیب دی. ما (هوتک) په ۱۹۹۳ کال په مونټریال کښې د مګل پوهنتون د اسلامي څېړنو د انستیتوت د خطي آثارو زېرمه کتله. یوه ورځ د کتابخانې مسوولې مېرمنې د خپل کتابتون د غنا په برخه کښې خبرې کولې او په دې ترځ کې یې فارسي کتابونه راښوول چې زما سترګې واردواره پر آریانا دایره المعارف او د علامه حبیبي پر یوه اثر ولګېدې او د کتابتون مسوولې مېرمنې ته مې په ویاړ وویل چې دا کتاب زما یو هېوادوال کښلی دی. (دا مېرمن عراقي الاصله کاناډايي وه مېرمن سلوا نومېدله. زما سره یې د کتابتون د خطي آثارو په کتلو کښې ډېر نېك چلند کاوه.)

علامه مرحوم د یو کتاب په سریزه کښې دا بیت کښلی وُ:

بڼ د ګلو به سمسور وي موږ به نه یو
د بلبلو به پرې شور وي موږ به نه یو

زه دا کرښې په داسې حالت کښې کاږم چې په هېواد کښې مو نه د ګلو بڼ سمسور دی او نه هم د بلبلو پرې شور. بلکې پر دې جنتي خاوره چې له کومه وخت د روسي طاعون بلا لنګه سوېده، تر ننه لا هم ورباندې د شامتو ناولې څپه خپره ده، ګلان یې مړاوي او بلبلانو ته یې رانجه ورکول سوي او له شوره لوېدلي دي. افغانان یوازې د "لاتقنطوا من رحمه الله" په حکم راتلونکي ته ګوري او د نامېندیو سره مجادله کوي.

(۲۱مارچ ۱۹۹۸)



## اخځلیکونه:

۱ - ژوندون مجله... د ۱۳٦۱ش کال د اسد ګڼه
۲ - د زړه وینې، د پوهاند عبدالشکور رشاد شعري مجموعه، ۱۰۰مخ. کابل. ۱۳۷۰ش
۳ - ادبي لیکونه. پوهاند صدیق الله رښتین، ۳۵ مخ، د ۱۳۷۳ چاپ
۴ - د پښتو ادبیاتو تاریخ. دوهم توک ته د ارواښاد کل پاچا الفت مقدمه. ۱۳۴۲ش.
۵ - د استاد یاد، د ښاغلي رزین انځور مقاله، ۱۸۵ مخ. کابل. ۱۳٦۴ش
٦ - هماغه اثر. د پوهاند رشاد مقاله. ۲۰۰ مخ.

عبدالودود کـــرزی
کلیفورنیا، امریکا

# د مرحوم علامه عبدالحی حبیبي
# په یاد

ته لوی کان د معرفت وې ته حساب نه یې په مړو کښې
د پوهنې تاج به تل ستا، افغانان ساتي په زړو کښې

اروابناد مرحوم علامه عبدالحی حبیبي ملا عبدالحق اخندزاده زوی، د مولوي عبدالرحیم لمسی.د علامه مولوي حبیب الله مشهور په حقق کندهاري کړوسی او د ملا فیض الله د ملا بابر زوی کودی دی د کال ۱۳۲۸ هجري قمري،د پنجشنبه په ورځ د ربیع الثاني ۱۷، مطابق ۱۲۸۹ هـ ش د ثور میاشت او یا ۱۹۱۰م کال د مې میاشت دکندهار ښار د بامیزایي په محله کښې دنیا ته راغی، د کوچنیوالي په سن کښې د خپل پلار د مهر او عطوفت څخه محروم پاتې سو او په ډېر کم نظیره متانت سره یې د علم او



فرهنګ مقدس لار تعقیب کړه او د ژوند تر پایه پورې یې خپله خط مشی وګرځول. دغه عالي او علمي شخصیت د کاکړو قبیلې ته منسوب وو. څرنګه چې د حبیبي کورنۍ دافغانستان یوه علمي او ادبي کورنۍ وه نو علم او عرفان د خپلو نیکه ګانو څخه په میراث ورته پاتې شوي وو دغه مدبر او پوه انسان د خپلو نیکه ګانو دغه علمي میراث په ښه توګه سره وساته او د علم، پوهې او معرفت لوړ معراج ته یې ورساوه.

مرحوم استاد عبدالحی حبیبي خپلې لومړنۍ زده کړې د کندهار په لومړنیو ښوونځیو کښې تر پنځم ټولګي پورې سرته رسولې دي تر پنځم ټولګي وروسته په ۱۳۰۶ هـ ل کال همهلته د لومړني ښوونځي ښوونکی وټاکل سو. په ۱۳۰۷ هـ ل د کندهار د "طلوع افغان" اخبار مرستیال وټاکل سو چې بیا په ۱۳۱۰ هـ ل کال د طلوع افغان اخبار بشپړه چلونه دده ته وسپارل سوه. لس کاله پر له پسې یې دغه اخبار د چلوونکي په توګه کار وکړ او هغه اخبار یې په ښه عالمانه توګه وچلاوه په تیره یې بیا د پښتو ژبې او ادب دپاره روښانه خدمتونه وکړل هلته یې د پښتو څو قلمي آثار لکه د خوشحال خان ختك کلیات او د عبدالقادر خان ختك دیوان تدوین، تصحیح مقابله او له اوږدو سریزو سره چاپ کړل او هم یې د پښتو یو قاموس د "سپېڅلي پښتو" په نامه چې لس زره لغتونه لري له دري ژباړې سره ترتیباو خپور کړ، سر بېره پر هغه یې د "تاریخچه شعر پښتو" تر سر لیك لاندې د پښتو ادب مفصله تاریخچه او تذکره په دري ژبه ولیکل چې د طلوع افغان په اخبار کښې په پر له پسې ډول خپاره سول او د هغه اخبار د لارې یې د پښتو ژبې د ډېرو پخو لیکوالانو او شاعرانو همکاري جلب او هم یې نوی لیکوالان او شاعران وهڅول.

په ۱۳۱۹ هـ ل کال کابل ته راوغوښتل سو او د پښتو ټولنې مشر وټاکل سو چې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مرستیال په

توګه يې هم کارکاوه. د پښتو ټولنې تر مشر تابه وروسته په ۱۳۲۰هـ ل کال د پوهنې وزارت مشاور وټاکل سو تر دې وروسته دده په هاندو هڅو په ۱۳۲۳هـ ل کال په کابل پوهنتون کښې د ادبياتو پوهنځی پرانيستل سو چې همدی يې رئيس وټاکل سو. په ۱۳۲۵هـ ل کال د کندهار ولايت د پوهنځي رئيس او بيا په ۱۳۲۶هـ ل کال په "چمن" کښې افغاني وکيل التجار مقرر سو. په ۱۳۲۷هـ ل کال چې د ملي شورا وکيلان ټاکل کېدل حبيبي صاحب په ملي شورا کښې د کندهار ښار د خلکو له خوا وکيل انتخاب سو. په ۱۳۴۴هـ ل کال په کابل پوهنتون کښې د پوهاند په علمي رتبه د ادبياتو د پوهنځي استاد وټاکل سو. په ۱۳۴۵هـ ل (۱۹۶۶م کال) د پوهنتون پر استادۍ سربېره د تاريخ د ټولنې رئيس هم سو. په ۱۳۵۱هـ ل ۱۹۷۲م کال د عظمی صدارت د فرهنګي چارو مشاور وټاکل سو. په ۱۳۵۲هـ ل کال بيا د ادبياتو پوهنځي استاد سو. په ۱۳۵۶هـ ل د ادبياتو په پوهنځي کښې د ماسترۍ د دورې استاد سو. په ۱۳۵۷هـ ل کال د افغانستان د علومو اکاډمۍ علمي مشاور او په ۱۳۵۹هـ ل کال د افغانستان د اطلاعاتو او کلتور وزارت علمي مشاور سو

دغه فاضل علمي شخصيت د دنيا په ۳۶علمي او بين المللي سيمينارونو او کنفرانسونو کښې برخه اخيستې ده او ګډون يې پکښې کړی دی. طبع سوي آثار يې ۱۱۵ ټوکو ته رسېږي.

لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي څه کم شپېته کاله د افغانستان د فرهنګ د خدمت له پاره شپه او ورځ پر ځان يوه کړې وه او داسې آثار يې افغاني فرهنګ ته وړاندې کړل چې له ستاينې نه يې قلم عاجز دی. استاد علامه عبدالحی حبيبي په پای کښې د ۱۳۶۳هـ ل کال د ثور پر ۱۹ په کابل کښې وفات سو او هم هلته ښخ کړای سو انالله و انا اليه راجعون.



په ۱۳۷۲هـ ل د مرحوم علامه عبدالحی حبيبي د وفات د نهمې کاليزې په خاطر د کندهار ولايت په سالون کښې د پوهانو، سپين ږيرو، مشرانو، استادانو او ښاريانو، همدا رنګه د راډيو تلويزيون د منسوبينو له خوا يوه لويه غونډه جوړه سوې وه چې د قرآن پاک تر تلاوت وروسته، د دغې غونډې ګډون کوونکو په نوبت سره خپل مضمونونه، مقالې او شعرونه ولوستل او د غونډې په پای کښې يې د دغه عالم او مبتکر انسان پاك روح ته درودونه ولېږل دا دی د دغې غونډې د هغې مرثيې يو نقل چې محترم عبدالمجيد بابي په دغه غونډه کښې قرائت کړه تاسو ته د دغه ليك سره درلېږم چې چاپ ته يې وسپارئ. (دا مرثيه د ساندو په برخه کښې راغلې ده.)

په پای کښې خپلې نيکې هيلې هغو محترمو افغانانو ته وړاندې کوم چې د خپل ګران هېواد افغانستان د پوهانو، عالمانو او مورخينو د لمانځلو په خاطر مجلسونه ترتيبوي او د دوی ياد تازه ساتي او يا د ورځپاڼو او يا مجلو د لارې څخه د خپلو مشرانو قدر او درناوی کوي، دا د افغانانو ملي او سپېڅلې دنده ده چې خپل کلتور او فرهنګ ژوندی کړي او د خپلو ملي مشاهيرو قدر او احترام وساتي.

و من الله التوفيق

۴/۷/۲۰۰۰

افضل ټکور، هالنډ
۲۳ مې، ۲۰۰۰

# لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي

# او

# د هغه شاعري

درېغه نـن د شـلم قـرن بـيروني ؤلاړ
د پښتون ولــس لــه ټولـه حبيبـي ولاړ

*اکاډمیسن رشاد*

وايـي چـې اسـمان پـه سـتورو ښه ښکـاري، خـو ټول سـتوري يـو ډول نـه وي، ځينـې ډېر روښانــه او ځلېدونكــي وي، ځينــې بيـا كـم او ځينــې بيـا بـالكل تـت او تيـاره وي. زمـوږ د هـېواد د معــاصرو ادبيـاتو اسـمان لـه سـتورو ډك دی خـو همدغـه پورتنـۍ خبـره دلتـه هـم د كولـو ده چـې د ځينــو رڼا زياتــه او د ځينــو كمــه ده پــه ځانــګړي ډول زمــوږ د هــېواد د معــاصر ادبـي بـهير پـر اسـمان خـو پينـځه سـتوري داسـې روښانـــه او ځلېدونكــي دي چـې رڼا يـې تـر ډېره لـرې لـرې هـم رسـېږي. او كـوم سـتوری چـې پـر دغـو پينـځو سـتورو كـښې لا ډېر روښانـه او ځليدونكــی دی او تـر ټولـو سـتورو يـې رڼا زياتـه ده هغـه لـوی اسـتاد اروابـاد علامـه عبدالحـی حبيبـي دی. او زمـا داوينـا خـو د فـاضل اسـتاد اكاډميســن عبدالشـكور رشـاد دا خـبره نـوره هـم زياتـه كلكـوي چـې هغـه ورتـه د شلم قـرن بـيروني وايــي.

د لـوی اسـتاد د علميـت او فضيلـت رڼا نـه يـوازې زمـوږ د هـېواد معـاصر ادبـي بـهير روښانـه كـړی بلكـې د منطقـې پـر سـطحه او پـر ګاونډيو هېوادونـو يـې هـم خپلـې شـغلې خـورې كـړې او تـر ډېره لـرې لـرې يـې د يـو لـوی عـالم، فـاضل، مـؤرخ، محقـق، ژورنالسـت او شـاعر پـه عنـوان پـوره شـهرت ګټلـی دی. د داسـې لـوی عـالم او فـاضل د ژونـد او آثـارو پـه بـاب څه كـښل زمـا غونـدې كسـانو كـار نـه دی بلكـې د استاد د ژوند پـر هـر اړخ پـه لسـګونو آثـار ليكـل كـېدای شـي خـو خبره هغـه د يوسـف پـه خريدارانـو كـښې بـه د ځان د شـمېرلو يـوه نيمګړې هـڅه وكـړم. مخكـښې لـه دې چـې د لـوی اسـتاد علامـه عبدالحـی حبيبـي د شـاعرۍ پـه هكلـه څه ووايـو لازمـه ده د هغـه د ژونـد او آثـارو پـه هكلـه هـم يـو څه ووايـو. اروابـاد اسـتاد عبدالـروف بې‌نـوا! پـه خپـل كتاب اوسني ليكـوال كـښې ليكـي:

"ښاغلـی عبدالحـی حبيبـي د پښتـو ژبـې پـه اوسـنيو ليكوالـو كـښې د اوليت حق لـري، نـه يـوازې پـه پښتـو كـښې بلكـې پـه فارسـي كـښې هـم پـوخ ليكـوال دی او پـه دواړو ژبـو مـهم آثـار او پاخـه اشـعار لـري پـه تـيره بيـا د ده ادبـي، تـاريخي او علمـي څېړنـې ډېرې ګټورې او د قــدر وړ دي او همـدې علمـي تتبعـاتو دا پـوه ليكـوال پـه پښتـو او فارسـۍ كـښې د اسـتادۍ مقـام تـه رسـولی دی... ښاغلـی حبيبـي د ۱۳۲۸ هــ ق. كـال د ربيـع الثـاني پـه ۱۷ د پنجشـنبې پـه ورځ د كندهـار د ښار د بـاميزو پـه كـوڅه كـښې زېږېدلـی او پـه ختـه كـاكړ دی. ده خپـل لومړنـی تعليـم د كندهـار پـه ابتدايـي ښوونځيـو كـښې تـر پينـځم ټولـګي پـورې سـر تـه رسـولی دی. تـر پينـځم ټولـګي وروسـته پـه ۱۳۰۶ لمريـز كـال همهلتـه د ابتدايــي ښوونــځي ښوونكــی مقــرر شــو بــه ۱۳۰۷ لمريــز كـــال د

کندهار د طلوع افغان مرستیال وټاکل شو خو په ۱۳۱۰ لمریز کښې د طلوع افغان اخبار بشپړ چلونه ده ته وسپارله شوه او لس کاله یې پر له پسې د هغه اخبار د چلوونکي په حیث کار وکړ... په ۱۳۱۹ لمریز کال کابل ته راوغوښتل شو او د پښتو ټولنې مشر وټاکل شو، چې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مرستیال په حیث یې هم کار کاوه... د پښتو ټولنې تر مشرتوب وروسته په ۱۳۲۰ هش کال د پوهنې وزارت مشاور او په ۱۳۲۵ هش د کندهار د ولایت د پوهنې رئیس او بیا په ۱۳۲۶ هـ ش کال په چمن کښې افغاني وکیل التجار مقرر شو. په ۱۳۲۷ هـ ش کال د ملي شورا وکیلان ټاکل کېدل ښاغلی حبیبي په ملي شورۍ کښې د کندهار د خلکو له خوا وکیل انتخاب شو خو د وکالت رسمي دوره یې لا پوره نه وه چې په ۱۳۳۰ هـ کال له خپلې کډې او اولادو سره پاکستان ته ولاړ..."[1]

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي د خپل ژوند او ټاټوبي په هکله لیکي:

"زما نوم عبدالحی دی د عبدالحق اخوند زاْده کاکړ کندهاری زوی یم. کورنۍ مو مشهور پوهاند او محقق مولوي حبیب الله کندهاري ته منسوبه ده نو ځکه ځان حبیبي ګڼم.... زه په پښتو او پارسو څه لیکلای او ویلاێ سوای. د ابتدایي سواد خاوند یم په عربي او اردو هم پوهېږم او انګرېزي خو لږ لږ راځي. زه چې څو کاله د افغان اکاډیمي (پښتو ټولنې) او بیا د ادبیاتو د فاکولتې رئیس وم نو د معارفو دوهمه درجه نښان هم راکړ شو..."[2]

په دې توګه وینو چې لوی استاد د پښتو ادبیاتو په معاصر ادبي بهیر کښې ډېر ارزښتناکه او تلپاتې آثار لیکلي او د ډېرو ادبي ژانرونو د پیلامي ویاړ هم د ده په برخه دی. لوی استاد د خپل ۷۴ کلن عمر په اوږدو کښې "۱۳۲" کتابونه او رسالې لیکلي او د اته سوویه شاو خوا کښې یې په بېلا بېلو موضوعاتو مقالې لیکلی دي. د پښتو ژبې دغه لوی عالم د ۱۳۶۳ لمریز کال د ثور د میاشتې په



نولسمه نیټه له دی نړی نه سترګې پټې کړې دي روح د یې ښاد وي.

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي دخپل عمر په اوږدو کښې ښه او په زړه پورې شاعري هم کړې. سره له دی چې هغه شعر کم ویلی دی خو په معیار پوره او کره دی او زموږ د معاصر ادبي بهیر د شعر پیاوړې او تلپاتې بیلګی جوړوي:

د کور قاصده
د کور قاصده
راته ووایه
حال د یارانو
د وطن خپل
و ما پردېس ته

لوی استاد لکه څنګه چې په پښتو او فارسي ژبو یې علمي او تحقیقي آثار کښلي داسې یې شعرونه هم په دواړو ژبو لیکلي دي. اکاډمسین پوهاند جاوید داستاد د فارسي شاعرۍ په هکله وایي:

"هر چند استاد کمتر شعر میګفت و به قول بیهقي کمترین هنرش شعر بود اما باز هم اشعار استوار و دل انګیز به زبان دري دارد."[3]

لوی استاد زیاتره شعرونه هغه وخت لیکلي چې د وطن نه د باندې په پردیسۍ کښې اوسیده او په دغو شعرونو کښې یې د خپل وطن او خپلو خلکو سره مینه او خلوص بیان کړی دی:

له هېواده لرې ګرځم      زما په زړه پورې ملګری
د وطن بل څوك خو نه شته      دلته یم یوازې لرې
نه خوارہ یاران خپلوان شته      نه د دوی خوږې خبرې
یوه ته یې زما ملګرې
را سره یې له هوا ده

هم هوزی یې هم دلی یې
خدای دی تل ولره بناده..[4]

دغه شعر د سپوږمۍ تر سرلیك لاندې لوی استاد په ۱۳۳۴کال د پاکستان د لاهور په یوه بڼ کښې د پردیسۍ په حال کښې ویلی دی چې ما یې دلته یوه برخه د بېلګې په ډول وړاندې کړه.

د شعر د لیکلو سره سره استاد د نورو ژبو شعرونه هم په پښتو او فارسي ژبو ژباړلي او په دې برخه کښې یې هم لوی لاس د رلود ارواښاد د اکاډمیسن کاندید صدیق روهي لیکي

"... د ارواښاد پوهاند حبیبي د آثارو څخه د یوه فهرست جوړول هم اسان کارنه دی... څوك چې د افغانستان په تاریخ او ادب باندې کار کوي زه فکر کوم چې هېڅکله دده دآثارونه بې نیازه کېدای نه شي. دده آثار یو سلو دوه د پرشو ته رسېږي او تحقیقي مقالې یې اته سوو ته رسېږي. استاد په خپل ټول ژوند کښې په کار بوخت و اوریدلي مې دي چې ده د مرګ په ورځ هم د عربي یو شعر په دري ترجمه کاوه."[5]

فاضل استاد اکاډمیسن عبدالشکور رشاد د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي له غمجنې مړینې وروسته داستاد د څو اړخیزه شخصیت او علمیت په باب وایي

"... د لوی استاد ځای تش دی قرنونه قرنونه، عمرونه عمرونه په کار دي چې دا ځای ډك شي. د استاد ځای یوازې زموږ نه دی د هغه د علم د سرچیتې څخه یوازې د افغانستان خلکو یا افغانانو فیض نه دی موندلی بلکه د هغه فیض په منطقي کښې عام واود ټولې منطقي خلك غالباً دده له فیض څخه مستفید سوي او له ده څخه یې فایده وړې ده..."[6]

دا ډول د لوی استاد حبیبي د هر اړخیز شخصیت په هکله زموږ د هېواد د دري ژبې نامتو شاعر استاد واصف باختري لیکي:

"... استاد حبیبی شاعر بود، نویسنده بود، محقق بود، مؤرخ بود، فضل نویس بود و باید کارشناسان و متخصصان رشته های معین فرهنگي در باره کارهای استاد حبیبي به صورت مشخص صحبت کنند."[7]

په دې توګه وینو چې لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي زموږ د هېواد د معاصر ادبي بهیر د اسمان هغه ځلېدونکی او نه فنا کېدونکی ستوری دی چې رڼا به یې پېړۍ پېړۍ او قرنونه قرنونه دهېواد پر ګوټ ګوټ خپره وي او راتلونکي نسلونه به د هغه د تلپاتې آثارو نه ګټه اخلي. تر کومه ځایه چې د استاد د شاعرۍ په هکله خبرې کوو. نو سره له دې چې دلته دهغه د شعرونو بېلګې او د هغه د شعري آثارو موجودیت هم نه شته خو دومره په زغرده ویلی شو چې لوی استاد نه یوازې د خپل وخت یو لوی شاعر و بلکې د راتلونکي زماني هم یو مخکښ او تلپاتې شاعر یې ګڼلی شو. زه د خپلو خبرو د پځلي له پاره د خپلو خبرو په پای کښې د هغه د یوه خواږه شعر یوه برخه وړاندې کوم او روح ته یې د مغفرت لاسونه پورته کوم. د استاد ددې شعر سرلیك دی "زوړ عظمت":

| | |
|---|---|
| زه له وروره سره کښېنم | لاس تر غاړه یې خواله کړم |
| بیا نو وړاندې و دنیا ته | د لوړتیا زړه نقشه کړم |
| د شېرشاه قدر شي نوی | چې رایاده بنګاله کړم |
| د اېشیا په منځ کښې بل وار | د احمد په دود ناره کړم |

د غوري داستان شي نوی، د غزني دوران شي نوی
مړی ایرې مې بېر ته اور شي، زما څراغ روښان شي نوی

## لمن لیک:

۱ - بېنوا، عبدالروؤف: اوسني لیکوال ۱۳۴۰المریز کال کابل چاپ لومړی ټوک ۲۲۴-۲۲۵مخونه.
۲ - پورتنی اثر ۲۲۷مخ.
۳ - پوهنمله رحیمه، علامه حبیبي او د هغه تاریخي آثار ۱۹۹۱ع کال، په هند کښې د افغانستان سفارت فرهنګي اړیکو له خوا چاپ ٦مخ.
۴ -اوسني لیکوال یا د شوی اثر، ۳۰مخ.
۵ - پوهنمله رحیمه یاد شوی اثر، ۷مخ.
٦ - همدا اثر ۸ مخ.
۷ - همدا اثر ۹مخ.

پوهنوال باوري

# د علامه حبيبي

## د "تاريخ مختصر افغانستان" ځيني ځانګړتياوې

### د حبيبي د تاريخ ليکنې ميتود:

د تاريخ علم يو تفصيلي نوم د "زمان" او "مکان" د يووالي بيان دى. دا دوه مفاهيم په حقيقت کښې ددې علم بنسټ او هم يې د علمي شته والي اساسي فکتورونه ګڼل شوي دي. تاريخ د خپل اوږد ژوندانه په بهير کښې بېلا بېل موقفونه درلودلي او يا ورکول شوي دي. د يوې سپېرې کيسې او ساده نکل څخه بيا تر يو عقيدتي مضمون، د پېښو د ساده بيان څخه بيا تر فلسفي يون پورې يې ټولي مرحلي لرلي دي، خو هغه وخت چې د زمان او مکان مفاهيم د تاريخ په تدوين کښې بنسټيز رول ولوباوه بيا نو د يو منل شوي دسپلين په څېر معرفي او خپله لاره يې روښانه کړله.

د نولسمې پېړۍ په لومړيو کالونو کښې د مؤرخينو تر مينځ دوو محوري طرحو پراختيا وموندله، چې په حقيقت کښې دا د مؤرخينو



دوه ستر فکري جريانونه تمثيلوي. يو شمېر مؤرخين په دې عقيده دي چې بشري تمدن واحده منشا لري او د يوې لرغوني مدني حوزې څخه راپيل شوى دى. اليوت سمېت Elliot Smith ګوردن چايلد Gordon Chaild اورنالد تاينبي Arnold Tainbe او مورګان Margan د همدې فکري لوري په سر سر کښې پېژندل شوي دي.

د "خپرېدنې" يا (Diffiusion) يو نامتو پلوي ګوردن چايلد، د دې نظريې ملاتړ تر هغه سرحده وکړ چې د نړۍ پر تاريخي افکارو تر لسګونو کالونو پورې حاکم او بريالى وځلېده نومورې د مصر. بين النهرين او سند مدنيتونه تر ځېړنې لاندې ونيول او د دې مدنيتونو تر منځ يې ورته او مشابه ټکي رابرسېره کړل او په نتيجه کښې يې د ټولو مدنيتونو منشا د مصر څخه راپيل شوى اعلان کړه چايلد د خپل نامتواثر "سير تاريخ" تر عنوان لاندې خپله رايه برملا کړه او په خاصه توګه د "ښار اوښتون" تر سر ليك لاندې يې ددې نظريې د پوره ثبوت هڅه وکړه. په دې ترتيب د چايلد او د هغه د نورو ملګرو نظريه چې د تاريخ د يوه مهم فکتور "مکان" په اړه مطرح وه تر زياتو زمانو يې حاکميت درلود.

ښخوا تر دې چې د "خپرېدنې" تر نوم لاندې يوه ټاکلې تاريخي تيوري تدوين شي په ختيځ کښې زيات شمېر مؤرخينو او ليکوالانو د مذهبي تمايلاتو تر تاثير لاندې په يوه يا بل ډول د همدې تيورۍ (خپرېدنې) په محدوده کښې عملي ګامونه پورته کړي دي.

دا حقيقت د اسلامي نړۍ په منځنيو پېړيو کښې پوره جوت دى، په زيات شمېر آثارو کښې د يوې واحدې منشا ځرك شته، خاصتاً د پخواني افغانستان زيات شمېر مؤرخينو د خپل تاريخ لومړى باب د انبياء (عليهم) څخه راپيل کړى دى، چې د بېلګې په توګه اخبار الطوال (د ينوري)، زين الاخبار (عبدالحى بن ضحاك ګردېزي) تاريخ ګزيده احمد الله مستوفي)، تارخ مرصع (افضل خان خټك)، روضه الصفا (مير خواند) تاريخ طبري (جرير طبري)، تاريخ ګلستانه (احمد

گلستانه)، تاریخ فرشته، مطالع الانوار او زیات شمېر نور د همدې ډول آثارو څخه شمېرلای شو چې په حقیقت کښې د مدنیت د واحدې منشا مانا څنې اخیستل کېدای شي.

د مؤرخینو دوهمه ډله هغه شمېر پوهان دي چې د چاپېریال په اصالت او د محیطي امکاناتو په رول متکي نظریه یې خپله کړې ده. د دوی په نظر د مدنیتونو منشا یوه نه ده او د یوه مدنیت څخه یې نشئت نه دی کړی، بلکې د هرې سیمې د چاپېریال مطابق او د محیطي امکاناتو په حدودو کښې ځانګړی مدنیت مینځ ته راغلی او وده یې کړې، خو دا شمېر پوهان د مدنیتونو د خپلواك ایجاد تر څنګ د مدنیتونو تر منځ اړیکې هم ارزښتمنې ګڼي جولیان استوارد Julian Ostward، مېرمن بوسر آپ Aupe Buser Ms. کاسمنسکي Kazmanisky او یو شمېر نور د دې نظریې د مخکښانو څخه شمېرل شوي دي.

جولیان استوارد په خپل یو اثر کښې چې یې "د فرهنګي بدلون پروسه" تر نامه لاندې خپور کړی لیکي. د "خپرېدنې" لارویان د ټولنو پر مشابه او ورته ودې زور اچوي، دی لیکي: په داسې حال کښې چې د لومړنیو مدنیتونو د پېژندلو معیاري او معقوله لار د "کلتوري اقلیم (Cultural Ecology) څخه ګټه اخیستنه ده، چې د همدې روش په خپلولو سره د لومړنیو مدنیتونو د پیدایښت زمینې او ودې لوري په ریښتیني توګه موندلی شو. ددې ډلې یو بل نامتو پلوی کاسمنسکي دی چې په خپل "انتقاد بر فلسفهٔ ارنولد تاینبي" نومي اثر کښې لیکي: لومړني مدنیتونه په بېلا بېلو سیمو او بېلا بېلو زمانو پورې اړه لري، هر مدنیت ځانګړی او ټاکلی ممیزات لري، چې د همدې خاصو ممیزاتو د لرلو په وجه وېلای شو، دا مدنیتونه په خپل واك ډول منځ ته راغلي، وده یې کړې او پېژندل شوي دي. ددې نظریې پلویان د کلتوري، جغرافیایي او ایکولوژیکي تاثیراتو ارزښتمندي ته زیاته پاملرنه کوي.



په ختیځ کښې د دې نظریې د پلویانو شمېر د کمیت له مخې زیات نه دی، خو د کیفیت له مخې یې وزن او ورتیا په لوړه پوړۍ کښې ښوول شوې ده. ابن خلدون، البیروني او یو شمېر نورو مؤرخینو بې له دې چې د تاریخي روش ډول ته یې پام اړولی وي، د تاریخي پېښو تصویر یې په یوه یا بل ډول د مدنیتونو پر خپلواکۍ متکې وو، خو د تاریخ لیکنې دا تیوري چې پخوانیو مدنیتونو د خپل چاپېریال مطابق وده کړې، د منځنۍ آسیا په هېوادونو کښې ډېر لږ پلویان درلودل یوازې د شلمې پېړۍ په پیل کښې یو شمېر مؤرخینو د مدنیتونو د خپلواك منځ ته راتللو او ودې کولو ته پام وکړ. په افغانستان کښې ددې ډلې مؤرخینو په سر کښې علامه حبیبي او د تاریخ ټولنې دوه تنه نور مؤرخین خدای بخښلی استاد احمد علي کهزاد او خدای بخښلی میر غلام محمد غبار وو. په هندوستان کښې هـ. ش. ډانګې، ب. ن. پوری، په ایران کښې حسن پیرنیا او عبدالحسین زرین کوب او په تاجکستان کښې هم بابا جان غفوروف له دې ډلې مؤرخینو څخه شمېرل کېږي.

د منځنۍ آسیا په هېوادونو کښې دیادو شویو مؤرخینو له خوا لیکل شوي او خپاره شوي آثار د شهرت لوړو پوړیو ته رسېدلي دي، "تاریخ قدیم ایران" د حسن پیرنیا لیکنه او "تاریخ در ترازو" د عبدالحسین زرین کوب لیکنه هغه آثار دي چې په ایران کښې دننه او بهر د پاملرنې وړ ځای لري په هندوستان کښې د "تمدن هند"، "هند تحت تسلط کوشانیان" او "هند د لومړي کمونیزم څخه بیا تر مرئیتوب پورې" چې په پر له پسې توګه د هندي مؤرخینو شري واستو. ب. ن. پور او هـ. ش ډانګې له خوا لیکل شوي چې په هند او ګاونډیو هېوادونو کښې د زیاتې پاملرنې وړ ګرځېدلي دي او په تاجکستان کښې د "تاریخ تاجکان" اثر چې د بابا جان غفوروف له خوا لیکل شوی هم د همدې ډلې آثارو څخه شمېرل کېږي، په افغانستان کښې د علامه حبیبي د زیات شمېره آثارو تر څنګ د

"تاریخ قدیم افغانستان" او "افغانستان در مسیر تاریخ" آثار چې د استاد احمد علي کهزاد او مرحوم میر غلام محمد غبار له خوا لیکل شوي د شهرت لوړو پوړیو ته رسېدلي دي.

د علامه حبیبي د افغانستان لنډ تاریخ، افغانستان بعد از اسلام، د پښتو ادبیاتو تاریخ، مادر زبان دری، سنګ نبشته ها و خطوط کهن افغانستان، تاریخ مشروطیت در افغانستان، کابل شاهان، صفاریان او تر ۱۳۵ زیات څېړنیز، بدیع تالیفات نه یوازې د افغانستان بلکې د ټولې سیمې د تاریخ او دود د بیا پېژندلو په برخه کښې ارزښتمن او د شهرت لوړې پوړۍ ته رسېدلي اثار شمېرل شوي دي. حبیبي د یو مبتکر او خلاق مورخ په توګه داسې تاریخي اثار تالیف او خپاره کړل چې عملا یې د مدنیتونو پر خپلواک مینځ ته راتللو او د محیطي امکانا توپر ارزښتمن تاثیر، د تائید او ترجیح اسناد ګټلای شو. په دې برخه کښې د "تاریخ مختصر افغانستان" څخه د بېلګو په توګه، د دې ادعا د ثبوت په نیت د څو سندنو یادول غواړم.

پوهاند عبدالحی حبیبي د تاریخ مختصر افغانستان په "لومړی ټوک کښې د ویدی مدنیت په اړه لیکي: "در حدود ۱۴۰۰ق. م. مدنیت با شکوه تحت عنوان ویدی در سرزمین افغانستان باستان حاکم بود، که از کتب چهار گانه ویدا، میتوان به وجوه گونه گون ان مدنیت پی برد. نامهای بعضی از اما کن، قبایل و در یاها در این سر ودها امده و تاکنون باقی مانده است. کلمه پکتها (پښتون) الینا (مردم شمال لغمان و نورستان) سندو (سند) کوبها (کابل) هېره وتي دهرات) وغیره را میتوان یاد کرد.

ددې متن څخه په ډاګه کېږي چې ویدي مدنیت د افغانستان د لرغونو اوسېدونکو ځانګړې لاس ته راوړنه وه چې د اړوندو سیمو یادونه یې جغرافیایي محدوده ټاکي. حبیبي د همدې مدنیت د ټولنیز او سیاسي جوړښت په اړه لیکي: خانواده ارین ها راکولا (در



زبان پښتو کهول) میگفتند و اساس زندگي اجتماعي آن جمعیتها را تشکیل میدادند که از آن عشایر به وجود می آمد و رئیسی به نام (پتی) داشت هنگامیکه چند کولا با هم جمع میشدند "گرامه یا ویسه" را تشکیل میدادند. و مسکن شاهي را پور میگفتند. این کلمات تا هنوز در اسماً و اما کن مشهود است. بگرام، میرویس، شیرپور وغیره: رئیس خانواده "پاتی یا پتی" معادل پدر کنونی، رئیس عشیره را "کوترا پتی" رئیس و یا ملك قبیله را "گرام پاتی" رئیس قریه را "ویس پاتی" و شاه را به نام "را جان" یاد مینمودند. همه آرین ها بالترتیب از مقام پدر و رئیس خانواده الی مقام شاه احترام میگذاشتند.

علامه حبیبي د ویدي او اوستایي مدنیت تر منځ هم ځانګړتیا ته پام اړولی او دا دوه مدنیتونه چې یو یې د راغلو آریایي قبیلو سره یو ځای وده کړې او بل یې څه ناڅه ۲۰۰ کاله وروسته په افغانستان او خاصتاً بلخ کښې پیل شوی داسې لیکي: در حدود ۱۲۰۰ ق. م. مدنیت اوستایي که از لحاظ محتوا با مدنیت ویدي تفاوت داشت در سرزمین افغانستان شگوفان گشت. در اوستا آمده است: "یمه به اهورا مزدا امرفرمود، یك (واره) را ساخت که طول و عرض آن به اندازه یك اسپریس (یك میدان اسپ دواني) بود و در آن حیوانات و جانوران مانند گوسفند، گاو، سگ و مرغان و غیره را نگاه داشت. و جای آب را هم به درازي یك هانه (میل) کند. و در آن واره با زار ها، گذرها و خانه ها را به ترتیب مخصوص ساخت، ولی مردم علیل، دروغ گو، بدخو و پیس و دیوانه را در آن شهر جای نداد.

هغه کلي حکم چې ټول مدنیتونه یوه ریښه لري، عملاً د علامه حبیبي په ټولو هغو آثارو کښې چې د افغانستان د تاریخ په اړه یې لیکلي، له پامه لېرې پرېښودل شوی دی. علامه حبیبي خپل نامتو اثر "تاریخ مختصر افغانستان" د منځني ختیځ څخه نه بلکې د

منډيګك څخه پيل کړ. دا پيل چې د پخواني معمولي دود څخه خلاف وُ، خو دومره موثر او ارزښتمن وُ چې په ډېره لږه موده کښي د پوره پاملرنې وړ وګرځيد او د افغانستان ټولو لوستو اونالوستو افغانانو ته د هېواد د تاريخ د پيل حد څرګند شو او د هر علمي او سياسي محفل تر ټولو منلي او وياړلي خبره د افغانستان د پنځه زره کلن تاريخ وينا وه، چې تر اوسه هم ببله شکه د يوې منل شوې تاريخي مقولې په توګه کارول کېږي.

علامه حبيبي د "تاريخ مختصر افغانستان" نومي اثر په خپرولو سره په حقيقت کښي د افغانستان د پينځه زر کلن تاريخ پرله پسې رښتنيي مسير روښانه کړ. او ددې پينځه زره کلن اوږد زماني واټن ټولې پېښې يې په ډېر خپل خلاق استعداد ګام پر ګام داسې وڅېړلې او اوډلې چې له يوې خوا يې ددې لېرې زماني واټن يو او حتى نيم کال هم پټ پرې نه ښود اوله بلې خوا يې د هرې ادعا د ثبوت له پاره مطمئن او باوري اسناد وړاندې کړل او په دې ترتيب يې د افغانستان تاريخي هويت او عظمت نړيوالو سياسي او علمي حلقو ته جوت کړ. لنډه دا چې د علامه حبيبي ځای او مقام د افغانستان په تاريخ کښي هومره اوچت دی لکه د يو شمېر سياسي نامتو څېرو چې د افغانستان په له سره جوړښت، ساتلو او وده ورکولو کښي د درنښت وړ دی. که سياسيونو د افغانستان سياسي هويت ګټلی او ساتلی دی، علامه پوهاند عبدالحی حبيبي د همدې هېواد تاريخي هويت تدوين کړی او ثابت کړی دی.

## يوه خاطره او يوه توصيه:

**• خاطره:** په ۱۳۶۱هـ ش کال د کوشاني شاهانو په اړه د څېړنې پينځم نړيوال سيمينار د يونسکو UNSCO سازمان په مرسته په کابل ښار کښي د اير شو. د سيمينار مرکزي موضوع د کوشاني امپراتورۍ سياسي حدود او ثغور څرګندول وو. د سيمينار د درې



ورځنيو علمي ناستو (جلسو) په ترڅ کښي د کوشاني شاهانو د عقيدې او مذهب په اړه د برخه والو پوهانو تر منځ مباحثه ګرمه شوه. په سيمينار کښي د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو نامتو پوهانو ګډون درلود، د بهرنيو پوهانو له ډلې څخه د نامتو هندي مؤرخ ب. ن. پوزي، جاپاني نامتو څېړونکي پروفيسر کوياما، فرانسوی نامتو افغانستان پوه فوسمين، د پخواني شوروي نامتو څېړونکي سريا نيدي، ايتالوي لزغونيوه تدی او په دې ډول د ايران، پاکستان، چين، انګلستان، المان، ترکيې او نورو هېوادونو زيات شمېر نورو پوهانو ګډون درلود چې د بېلګې په توګه د يو شمېر پوهانو يادونه وشوه.

زياتو څېړونکو او د سيمينار ګډون کوونکو د کوشاني پېر او کوشاني شاهانو د مذهب او عقيدې په اړه خپله رايه څرګنده کړه. لکه نن داسې مې ياد دي چې علامه حبيبي ته د رايې څرګندولو نوبت ورسېد، علامه حبيبي ددې سره سره چې د سپين ږيريتوب بېلګې يې په اواز او څېره کښي ښکارېدې، د کوشاني دورې د مذهبي او عقيدتي نظام او روش په اړه يې د خاص فصاحت او بلاغت د لرلو په وجه او هم د هر اړخيزو معلوماتو په وړاندې کولو سره د سيمينار د برخه والو دومره پاملرنه ځان ته وګرځوله، چې د حبيبي د بحث وروسته سمدلاسه ټولو برخوالو په يوه ږغ وړانديز وکړ چې د کوشاني څېړنو د راتلونکي نړيوال سيمينار عنوان دې د کوشاني شاهانو د مذهب او عقيدې جوتولو ته بېل شي. همداسې وشول د سيمينار پرېکړه ليك، يونسکو ته د برخه والو وړانديز څرګند کړ او د يونسکو د مرکزي دفتر له خوا هم ومنل شو.

د کوشاني څېړنو د پينځم نړيوال سيمينار د وړانديز او د يونسکو د موافقې سره سم شپږم نړيوال سيمينار د کوشاني شاهانو د مذهب او عقيدې تر عنوان لاندې په ۱۳۶۶لمريز کال د کابل په ښار کښي داير شو، له بده مرغه علامه حبيبي رحلت کړی وُ او د

سیمینار برخه وال یې د خپل حضور څخه محرو... خو د سیمینار د علمي جلسو په جریان کښې د ټولو لوستلو شوو مقالو څخه چې د کورني او بهرني پوهانو له خوا اورول شوې وې د علامه حبیبي هغه مقاله چې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د یوه تن غړي له خوا ولوستل شوه او په ۱۳۵۹ المریز کال د کوشاني څېړنو د مجلې له خوا خپره شوې وه، تر ټولو ښه مقاله او د سیمینار تر ټولو ښه تیزس ومنل شو.

یوه توصیه: په افغانستان کښې د کیڼ اوښتون د پیل سره ځینې ځانګړي اصطلاحات رایج شول او اوښتو بیانونو زور واخیست. له هرې خوا اوله هرې خولې به د اوښتون خبره لومړۍ وه. هره وینا او خبره به د اوښتون په نوم پیل کېده، دا چې اوښتون ته یې څومره عقیده درلوده؟ او آیا دا ریښتینې وه او که د ځینو ملاحظو په بنیاد به یې د اوښتون اوښتون ویناوې کولې؟ په هر صورت د ورځې د موډ خبره اوښتون ګرځېدلې وه.

په داسې یوه فضاء کښې د علومو اکاډمۍ له خوا یو سمپوزیم د ۱۳۵۹ المریز کال په وروستیو کښې دایر شو. په دې سمپوزیم کښې د هېواد نامتو پوهان او څېړونکي برخه وال وو. د ګډون کوونکو له ډلې یو تن چې د کابل پوهنتون د تاریخ څانګې د استاد په توګه یې دنده تر سره کوله، په برېنډو ادبیاتو د "تاریخ مختصر افغانستان" نومي اثر انتقاد پیل کړ، د انتقاد منځنۍ او اصلي ټکی دا و چې دا تاریخ د طبقاتي لرلید او انقلابي ایدیالوژۍ پر بنیاد نه دی لیکل شوی ضروري ده چې یا مصادره شي او یا یې لیکوال د اصلاح له پاره کار وکړي او په دې ډول یې خپله رایه په داسې شکل څرګنده کړه چې ګویا د حاکمې فضاء حمایت هم د ځان سره لري.

علامه حبیبي د دې مسالې په اړه یو منلی او غوڅ دریځ ونیود ویې ویل چې: که د مورخ هیله د هېواد تاریخ لیکل وي باید د هېواد تاریخ ولیکي، نه دا چې د هیواد د تاریخ تر نوم لاندې د یوه



قشر، یوې ډلې اّو یا یوه سیاسي نظام تاریخ ولیکي. حبیبي زیاته کړه: مهمه خبره داده چې د لومړنیو مدنیتونو د پیل څخه بیا تر اوسه سیاسي واکمنانو د ټولنې عمومي چارې پر مخ بېولې، د دې سیاسي واکمنۍ د دوام له پاره به واکمنانو یو مذهب او یا بل مذهب، یو دین او یا بل دین ځان ته غوره کاوه او هغه به یې د خپل حاکمیت د دوام له پاره وسیله ګرځاوه، خو په دې تفاوت چې په اوسنیو پرمختللو ټولنو کښې د ایزم خبره ده. زما رایه دا ده چې ټول خلك خاصتاً مؤرخین باید تر هر څه وړاندې خپل هیواد ته ښتیني وي ځکه چې منحرف مؤرخ د خپلې ټولنې او هیواد له پاره د وبا اپیدمي ده.

## یادونه:

*د دې لیکنې ښاغلي لوستونکي د زیاتو معلوماتو له پاره دلاندې لیکل شوو آثارو لوستلو ته په دې بهانه چې د دې لیکنې اخځونه هم دي، رابولم. دا آثار د لیکوالو د وروستي نوم (تخلص) د الفبا په ترتیب لیکل شوي دي.*


۱ *باوري، محمد رسول. مدنیتهای اولیه افغانستان، (کابل پوهنتون کال)* **۱۳۷۵**

۲ *پیرنیا، محمد حسن، تاریخ قدیم ایران، د تهران پوهنتون، تهران* **۱۳۳۴**

۳ *پوری ب. ن. هند تحت تسلط کوشانیان. مترجم: ضمیر صافی، کابل: اکاډمي علوم،* **۱۳۵۷**

۴ *حبیبي، عبدالحی. تاریخ مختصر افغانستان. دوه جلده (کابل: انجمن تاریخ)* **۱۳۴۶**.

۵ *حبیبي، عبدالحی. "برخی ایزدان کوشاني" تحقیقات کوشاني. (کابل: اکاډمي علوم)* **۱۳۵۹**

۶ *چایلد، ګوردن. سیر تاریخ، مترجم، احمد شاه بهمنش، د تهران پوهنتون، تهران،* **۱۳۴۶**

۷ ضمیر صافی، محمد حسن. تاریخ قدیم افغانستان، د کابل پوهنتون، کابل ۱۳۶۳.

۸ د کوشاني څېړنو د شپږم نړیوال سیمینار د مقالو مجموعه. (کابل. د علومو اکاډمي) ۱۳۶۶



ح. رفیع

## یو نوی کتاب:

# "علامه حبیبي او د هغه تاریخي آثار"

"علامه حبیبي او د هغه تاریخي آثار" یو نوی چاپ شوی کتاب دی چې محترمې پوهنملې رحیمې په ۱۳۶۷ لمریز کال د پوهنملۍ علمي رتبې ته د لوړېدو رسالې په توګه لیکلی او تېر کال (۱۳۷۸ل/۱۹۹۹ع) په نوي ډیلي کښې د ښاغلي فضل الرحمن فاضل له خوا په ۱۸×۲۲ سانتي متر کچه په ۹۸ مخونو کښې خپور شوی دی.

کتاب د ناشر پر سریزه سربېره د پوهاند میرحسین شاه خان چې هغه وخت د کابل پوهنتون د تاریخ د دیپارتمنټ آمر و، یوه لنډه خو ګټوره دري سریزه هم لري چې پکښې لیکي:

"یکی از دانشمندان متاخر که در رشته های مختلف علوم ادبی و تاریخ و امثال آن به مطالعه و تحقیق پرداخت و آثار متعدد بر جا گذاشت، استاد مرحوم عبدالحی حبیبي بود. این استاد ارجمند به فراوانی تالیف و توانایی در تحقیق و وسعت معلومات از نخبگان

زمان خویش بوده و آن چه از او باقی مانده است در رشته های مختلف و متعدد می باشد."

دی ددې رسالې د اهمیت په اړه لیکي:

"من از سه جهت می خواهم بر این رساله اظهار نظر کنم:

**اول**: ارزش **مطالعه و تحقیق** در آثار حبیبي: پوهاند از رجال علمي بود که در زمان خویش نه تنها در داخل کشور بلکه در کشور های دیگر او را از جملهٔ دانشمندان بزرگ می شناختند و به نوشته های او ارج می گذاشتند، بنا بر آن تحقیق و معرفی آثار وی در خور ارزش و قابل توجه می باشد

**ثانیاً**: نویسنده آنچه از آثار وی را که یافته به دقت مطالعه و به درستی معرفی نموده و در پایان هر فصل نظر خویش را در بارهٔ روش کار علمی استاد بیان داشته است.

**ثالثاً**: رساله نتیجه گیري عمومي در بارهٔ آثار تاریخی استاد و در پایان تتمه دارد از این جهات این رساله را با معاییر تحقیق و تالیف رسایل علمی برای نیل به درجهٔ ماستری کافی می دانم..."

دا کتاب یوه سریزه، څلور څېرکي او یوه عمومي نتیجه لري: په سریزه کښې یې د استاد لنډ ژوند لیك، دده پر مړینه د پوهانو تاثرات او دده پر تاریخ لیکنه او د تاریخ لیکنې پر میتود خبرې شوې دي.

د کتاب لومړی څېرکی د "علامه حبیبي او د هغه عصر" تر سرلیك لاندې د شلمې پېړۍ له پیل بیا د کتاب د لیك تر وخته د علامه حبیبي د عصر سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او فکري اړخونه په لنډیز څېړي، ددې عصر د فرهنګي فعالینو خدمتونه یادوي او په دې بهیر کښې د استاد حبیبي په ونډه داسې رڼا اچوي:

"په دغو کسانو کښې یو هم علامه حبیبي ؤ چې د افغانستان د پوهې او فرهنګ په هڅونه او پالنه کښې نه یوازې دا چې په هېواد کښې دننه د منني وړ فرهنګي څېره شو، بلکه په نړۍ او سیمه کښې



یې شخصیت او اثار د نړیوالو له خوا د تایید او منني وړ شول. علامه حبیبي سره له دې چې د هېواد د ملي برخلیك په وړاندې بې توپیره پاتې نه شو، دی لومړنی افغان روښانفکر و چې د شاهي نظام په پیاوړتیا کښې یې د "جمهوریت غوښتنې" غږ اوچت کړ او په دغه ګناه نژدې لس کاله له هېواد څخه دباندې پاتې شو. مګر دده دا غوښتنه دده د ملت او ملي احساس او ملي دریځ څرګندویه وه. هغه جمهوریت خپل ملت ته د خپل ملت په غوښتنه او د هغوی د ملي ایډیال سره سم غوښت نه دا چې دا جمهوریت دې د ملت په تباهی او بربادۍ سره او د پردي پالي ایډیال تر سیوري لاندې دده د ملت نصیب شي. په هر حال روانه پېړۍ د علامه حبیبي د عصر او پېړۍ په توګه د افغانستان له پاره داسې پېړۍ شوه چې له یوې خوا یې د عصر د پرمختګ پر لور ورمخه شوه او له بلې خوا د خپل مهم موقعیت له مخې د وروستیو کلونو پر له پسې بدلونونو او دباندینو ملکو لاسوهنو له ډېرو سختو او ناوړو پېښو سره مخامخ کړ...."

په دوهم څېرکي کښې د استاد حبیبي هغه تاریخي اثار معرفي شوي چې په کتابي بڼه خپاره شوي دي لکه: افغانستان بعد از اسلام، پښتو ولویکان غزنه، تاریخ مختصر افغانستان، تاج کابلشاه در کعبه، هفت کتیبه قدیم، تاریخ خط و نوشته های کهن افغانستان، د بوعلي سینا بلخي ژوند لیك، اصل خلجیان افغاني، تاریخ افغانستان در عصر کورګانی هند، ظهیر الدین محمدبابر شاه، بابر په افغانستان کښې، نومورکي مورخین، د افغانستان پېښلیك، نسب و زادګاه سید جمال الدین الافغاني، جنبش مشروطیت در افغانستان، هنر عهد تیموریان، پنجاه مقاله، رهنمای تاریخ افغانستان.

په دریم څېرکي کښې د هغو تاریخي متونو پېژندنه ده چې لوی استاد پرې سریزې، لمن لیکونه او سپړنې کښلې لکه: د منشي عطا محمد تازه نوای معارك، د عبدالله محمد بلخي فضایل بلخ، د

عبدالحی ګردیزي زین الاخبار، د خواجه عبدالله انصاري طبقات الصوفیه، د قاضي منهاج سراج جوزجاني طبقات ناصري.

ځلورم څپرکی د استاد هغه تاریخي آثار راپېژني چې د مقالو په بڼه لیکل شوي، په دې څپرکي کښې د استاد ۱۰۲ هغه مقالې چې په آریانا، آزاد افغانستان، ادب، افغان، خراسان، ژوندون. طلوع افغان، عرفان، کابل، وږمه، هرات باستان مجلو او جریدو او آسماني نغمې او لاهوتي سرودونه، امیر علي شېر نوایي، افغان یاد، د امیر کروړ یاد او د امیر خسرو دهلوي د سیمینار په کتابونو کښې خپرې شوې دي یادې شوې او ددې مقالو په باب یې لیکلي.

"زما په نظر دا ځو ساده مقالې نه دي بلکه دا هره یوه یې په خپل وار د خپلواک تېزیس حیثیت لري" درنې لیکوالې د هرې مقالې لنډیز او څېړنیز ارزښت ورسره راوړی دی.

په دې اثر کښې ځینې تېروتنې او نیمګړتیاوې شته او د استاد ټول تاریخي آثار او مقالې نه دي پکښې راغلي خو بیا هم د استاد د تاریخي څېړنو په باب یو ممتاز او بې جوړې اثر دی چې موږ یې درنې لیکوالې ته د لیکلو او خپرولو مبارکي ورکوو او د لوی استاد د آثارو مینه وال یې لوستلو ته رابولو.



پوهنمله رحیمه

# د استاد حبیبي زوکړه او ټاټوبی

او

# د استاد حبیبي تاریخ لیکنه

*د درنې خور پوهنملې رحیمې د "علامه حبیبي او د هغه تاریخي آثار" له درانه اثر څخه چې د هغه په سریزه کښې د لوی استاد د ژوند او تاریخي لیکنې په هکله په زړه پورې څېړنه شوې او په لنډه لیکنه کښې یې د لوی استاد په هکله ډېرې خواوې څېړلې دي، تاسو درنو لوستونکو ته په لاندې ډول وړاندې کوو.*

*اداره*

استاد حبیبي په ۱۲۷۹ش (۱۹۱۰م) کال کښې د کندهار د ښار د بامیزو په کوځه کښې زېږېدلی دی. پلار یې ملا عبدالحق اخوند زاده نومېده او د کندهار د نامتو عالم مولوي حبیب الله کاکړ چې په محقق کندهاري باندې مشهور و له پښت څخه دی. لومړنۍ زده کړې یې د وخت له دیني عالمانو څخه وکړې په ۱۲۹۹ش کال کښې هغه وخت چې غازي امان الله خان د افغانستان خپلواکۍ د

افغانستان د خلکو په متو وګټله او لږ موده یې نه وه تېره چې حبیبي د کندهار د شالیمار په لومړني ښوونځي کښې داخل شو. په ۱۳۰۴ش کښې یې دا ښوونځی پای ته ورساوه او په ۱۵ کلنی یې په اماني دوره کښې د ښوونکي په توګه په دنده پیل وکړ، چې له دغې لارې یې د هېواد د نوي نسل په روزنه کښې جوړوونکې دنده تر سره کړه.

د استاد حبیبي په روزنه او پالنه کښې په لومړي ګام کښې د هغه پلار مهمه ونډه واخیسته، د معقولو او منقولو علومو د یوې برخې زده کړه یې له هغه وکړه، د هغه بل استاد علامه مولوي ابوالوفا کندهاری وٸ. "دغه هغه ستر عالم وٸ چې وروسته یې د هند د دکن په نظامیه مدرسه کښې د دیني علومو تدریس کاوه. محمد حمیدالله حیدر آبادي چې د سیرة النبي ﷺ نامتو عالم وٸ او په پاریس کښې اوسېده هغه هم د مرحوم ابوالوفا له شاګردانو څخه وٸ"[1] له ۱۳۰۶ش کال را په دې خوا استاد د مطبوعاتو خوا ته مخه کړه. په مطبوعاتو کښې هم دده له پاره لومړنی لاربښوونه هغه اوونیزې وې چې ده ته له پلار څخه په میراث ورپاتې وې دی په خپله لیکي چې:

"ما ته له پلاره د سراج الاخبار افغانیه څو ګڼې د محمود طرزي یو لږ آثار او حبل المتین راپاتې وو"[2].

له پورتنۍ خبرې څخه هدف دا وٸ چې استاد په نوموړي کال د طلوع افغان د اوونیزې مرستیال مقرر شو او په ۱۳۱۰ش کال کښې دغه جریده په بشپړه توګه ده ته وسپارل شوه. پوره نهه کاله یې د دغې جریدې له لیارې یو زیات شمېر ادبي، تاریخي، دیني او معلوماتي مقالې په پښتو او دري ژبو خپرې کړې. استاد که له یوې خوا د طلوع افغان چارې پر مخ بېولې، خو له بلې خوا یې د یو شمیر پښتو کلاسیکو آثارو په خپرولو کښې هم فعاله ونډه واخیسته او یو شمېر آثار لکه د پښتو ژبې د نامتو شاعر خوشال خان ختك (۱۰۲۲هـ ق-۱۱۰۰هـ ق) او د ده د زوی عبدالقادر خان



ختك، شعري دېوانونه یې ددغې اداري له خوا خپاره کړل. استاد حبیبي په ۱۳۱۹ش کال کښې کابل ته راغی او له دغه کال څخه را په دې خوا یې په کابل کښې د پښتو ټولني په علمي او همدارنګه د کابل ښار په نورو فرهنګي موسسو کښې خپلې هلې ځلې ونه سپمولې او په پر له پسې توګه یې زموږ د ټولنې د مختلفو اړخونو په برخه کښې د اثارو په لیکلو پیل وکړ. کله چې په کابل پوهنتون کې د ادبیاتو پوهنځی جوړ شو، دی یې لومړنی رئیس و. د پښتو او دري ژبو په برخه کښې یې یو زیات شمېر شاګردان ټولنې ته وړاندې کړل.

استاد حبیبي یواځې یو فرهنګي شخصیت نه و، بلکې د هېواد په سیاسي او ټولنیز بهیر کښې یې هم فعاله ونډه اخیستې ده. ځکه چې د خلکو په منځ کې د اوچت دریځ او ځانګړي باور خاوند روشنفکر و. د ملي شورا د اوومې دورې د وکالت په ترځ کښې یعنی له ۱۳۳۰کال څخه تر ۱۳۴۱ کال پورې له حکومت سره د مخالفت له امله له هېواد څخه ووت او څه ناڅه یوولس کاله یې له هېواد څخه د باندې په مساپری، خو په سر لوړی سره شپې ورځې تېرې کړې. دا چې یو فعال او ژوندی پوه او لیکوال و نو هملته هم ارام نه شو او د یو لړ اثارو او اخبار لکه "ازاد افغانستان" په خپرولو یې لاس پورې کړ. په ازاد افغانستان کښې استاد حبیبي د عصر ډېر نوي او انقلابي مضمونونه خپرول. په دغه اخبار کښې استاد په دري ژبه "تاریخچهٔ بیداری سیاسی در افغانستان" غونډې مضمونونه په پر له پسې توګه خپاره کړل. د دغه اخبار له مخې زموږ معاصر پوهان اوس په دې باور دي چې استاد حبیبي زموږ د هېواد په معاصر تاریخ کښې لومړنی څېره ده چې د جمهوریت غوښتنې غږ یې د هېواد په سیاسي ژوند کښې د سلطنتي نظام پر ځای پورته کړ. دا هغه لومړنی ځریکه وه چې د سلطنتي نظام په بدن باندې د ازاد افغانستان په پانو کښې را غبرګه شوه.

په ۱۳۴۱ش کال کښې استاد بېرته هېواد ته راغی او په هېواد کښې يې دننه د آثارو په ليکلو باندې پيل وکړ.

د استاد حبيبي د علمي ژوند په برخه کې دغه عصر ځانګړی عصر ګڼل کېږي. په دې مانا چې په دغه عصر کې ده خپل فعاليتونه په پر له پسې او سيستماتيك ډول پر مخ بيولي دي.

په دغه وخت کښې له استاد څخه په علمي ډګر کښې ډېر داسې څه را پاتې شوي دي چې زموږ لپاره په تاريخي، فلسفي، ادبي او نورو برخو کښې زيات اهميت لري. استاد حبيبي زموږ د هېواد د يوه فرهنګيالي په توګه په همدغه عصر کښې نه يواځې علمي شخصيت و، بلکې د ده نوم د هېواد له پولو هغې خواته هم خپور شو له هېواد څخه دباندې د ده يو زيات شمير آثار خپاره شول. ځکه نو ده په اروپا، آسيا او امريکې او همدارنګه په اسلامي نړۍ کښې د يوه وتلي عالم نوم وګاټه او په نوموړيو هېوادونو کښې يې آثار په انګريزي، عربي،اردو، فرانسوي او نورو ژبو باندې خپاره شول.استاد د خپل ژوند تر پايه ۱۳۶۳ لمريز کال پورې په زياتو نړيوالو علمي ټولنو کښې د يوه عالم، اديب او مؤرخ په توګه ګډون وکړ او خپلې علمي تجربې يې له نورو سره تبادله کړې.

استاد حبيبي د۱۳۶۳ کال د ثور په مياشت کښې د ۷۴ کلونو په عمر له نړۍ څخه سترګې پټې کړې. د هېواد فرهنګي ټولنو او فرهنګي کسانو د ده په مړينه باندې خپله خواشيني ونبوده .د دې له پاره چې د استاد په ژوند ليك باندې نه پوهېدلي وو نو د هغو پوهانو ويناوې دلته راوړم چې د ده له مړينې وروسته يې د ده په ياد کړې دي.

د هېواد نامتو ليکوال او فاضل عالم اکاديمسن پوهاند عبدالشکور رشاد د لوی استاد په باب ويلي.

"علامه حبيبي ډېر صفات، مزايا او خاصې درلودې، خو زما په نظر دا دوې برخې زه غواړم وخيړم. يو دده د سياست برخه، يو دده



د علم برخه. دا ځکه چې دا دواړه برخې ده ته د کورنۍ څخه په ميراث وررسېدلې وې. علم ده ته له نيکه څخه وررسېدلی و. د ده غور نيکه حبيب الله اخوند زاده کندهاری چې په محقق کندهاري سره مشهور و او دېرش کتابه يې ليکلي دي. په عربي، فارسي، پښتو. چې د لسو کتابو ضخامت يې زرو صفحو، پنځو سوو صفحو او اته سوه صفحو ته رسېده. او سياست يې له نيکه څخه وررسېدلی و. دده نيکه عبدالرحيم اخوند زاده نومېده او هغه څوك و چې سيد جمال الدين په خپلو آثارو کښې ليکلی دی چې زه کندهار ته ورغلم د کندهار له نخبه علماؤ څخه ما له پلانې او پلانې سره وليدل چې يو يې له هغو څخه د ده نوم اخيستی دی. د عبدالرحيم اخوند زاده وژل د امير عبدالرحمن خان په لاس پر توره وهل او د هغه سر غوڅول دا د هغه د سياسي رشادت پس منظر دی دا رشادت يې شاهد دی...

د لوی استاد ځای تش دی، قرنونه قرنونه عمرونه عمرونه په کار دي چې دا ځای ډك شي. د استاد ځای يواځې زموږ نه دی، د هغه د علم له سرچينو څخه يواځې د افغانستان خلکو يا افغانانو فيض نه دی موندلی بلکې د هغه فيض په منطقې کښې عام و او د ټولې منطقې خلك غالباً دده له فيض څخه مستفيد شوی او له ده څخه يې فايده وړې ده، دده له آثارو څخه يې زده کړه کړې ده...

دغه لوی معلم، دغه ستر محقق چې نن زموږ په منځ کښې نشته موږ يې فنا او غياب د ځان له پاره يوه جبران ناپذيره ضايعه بولو. زه باور لرم چې د منطقې خلك پرې خبر شوي وي هغه به هم زموږ سره په دې غم کښې شريك وي، ځکه دده د فيض چينه د نبعه ولوېده او نور موږ او د منطقې خلك د ده له آثارو څخه دده له فکره څخه د ده له تتبع څخه محروم شوو. زه خپله وينا فقط په دې بيت پای ته رسوم چې:

دریغـه نـن د شـلم قـرن بـیروني ولاړ
د پښتـون ولـس لـه تولـه حبیبـي ولاړ

زموږ د هېواد پیاوړی لیکوال او عالم اکاډمیسن پوهاند دوکتور جاوید د لوی استاد له مړینې وروسته د هغه د شخصیت په باب وایي چې:

"در گذشت استاد گرانمایه استاد پوهاند حبیبی که بنده مدتی افتخار شاگردی مستقیم اش را داشتم ضایعهٔ واقعاً جبران ناپذیر است. برای جامعهٔ افغانی. استاد حبیبی از دانشمندان بینظیر افغانستان بودند، اطلاعات عمیق و دقیق او در مسایل تاریخ و زمینه های فرهنگی همچنین آثار وزینی که از او باقی مانده او را یك مقام عالی از مقام هایی را که ما می گوییم به او عنوان حجت بخشیده به این معنی که او خود حالت ماخذ و منبع را پیدا کرده. تعداد آثارش که بیشتر از سنین عمرش است، نشانهٔ پشتکار و دقت نظر اوست. هر چند در ظاهر با مانیستند ولی تا زمانی که آثارش چون ورق زر دست بدست ما می گردد زنده و جاوید خواهند بود. خدمات علمی او کار های با ارزش است. در زمینه ادب دری از قبیل چاپ و نشر متون جلیلهٔ فارسی، نظیر زین الاخبار، طبقات الصوفیه. طبقات ناصري، فضایل بلخ و امثال این، از کار های بسیار ارزنده و برازنده استاد مرحوم است. هر چند استاد کمتر شعر می گفت و به قول بیهقي کمترین هنرش شعر بود. اما باز هم اشعار استوار و دل انگیز به زبان دری دارد."

د پښتو ژبې نامتو شاعر او انقلابي مبارز اجمل خټك د خپلې وینا په ترخ کښې د استاد حبیبي پر هغو کړو وړو باندې رڼا اچوي، چې ده له هېواد څخه دباندې په تبعید کښې یعنې له ۱۳۳۰ کال څخه تر ۱۳۴۱ کال پورې په پاکستان کښې تر سره کړي دي هغه د خپلې وینا په یوه برخه کښې وایي: "... فکر وکړئ د افغانستان له حکمرانانو نه خپه راغلی ؤ د پاکستان حکمرانانو ورته د سرو او



سپینو فرشونه جوړول، د ده په ویاړ یې جشن جوړ کړ لېکن تاریخ ګواه دی، د پېښور مدد خان جومات ګواه دی، د پېښور محب وطن ولسونه ګواه دي چې حکومت زور وکړ چې ده په خوله یو لفظ د افغانستان خلاف وباسي. ده د افغانستان پر ضد یو لفظ هم د خولې نه ونه یوست. زه یې ګواه یم، زه ورسره سکرتر وم د حکومت له خوا ورسره وم. د هغه حکومت له خوا زه ورسره موظف وم ده ویلي وو چې ما سره دی ولېږی نو هم هلته یې ده ته هر څه ورکول. خو ده د خپلې خاورې او خپل قوم ملت خلاف یوه خبره ونه کړه. دا یو بېل باب دی. پر دې بندي شو، په دې ووهل شو، په دې ورټل شو خو هغه یې ونه کړه."

د دري ژبې وتلی شاعر او زموږ د عصر یوه واصف باختري د لوی استاد د ادبي، تاریخي او علمي شخصیت په باب نظر لري؛ هغه وایي:

"استاد عبدالحی حبیبي، سیمرغ قاف فرهنگ ما چشم از جهان پوشید، سخن راندن در بارهٔ استاد حبیبي کاریست بس دشوار استاد حبیبي نظیر یك عده از دانشمندان گذشتهٔ ما چون فارابي، ابن سینا و جامی انسان کثیرالابعاد بود. استاد حبیبي شاعر بود، نویسنده بود، محقق بود، مؤرخ بود، فضل نویس بود و باید کار شناسان و متخصصان رشته های معین فرهنگ در باره کارهای استاد حبیبي به صورت مشخصی صحبت کنند.

من که شاگرد مستقیم استاد بودم و گذشته از شاگردی رسمی، بارها بارها از محضر پر برکت استاد استفاده کرده ام، به خدمت شما می توانم عرض کنم که استاد نه تنها در کشور ما، بل در سطح منطقه از دانشمندان عدیم المثال شناخته می شود. تا آنجا که همین حالا به خدمت شما عرض کنم. استاد در چندین عرصه تحقیق و پژوهش، کار های بس بزرگ به انجام رسانده... کار هایی که استاد در زمینهٔ تاریخ انجام داده اند، آن گونه هویداست که حاجت

به بیان آن نیست، مثلا تاریخ افغانستان در دو جلد، تاریخ مختصر افغانستان، تحقیقات استاد درباره ظهیرالدین محمد بابر، در باره بایزید روشان در حلقه های علمی سایر خاور شناسان بدین گونه نظریات استاد سخت احترام و توجه وجود دارد. و انچه ما در اخیر می توانیم برای شما بگوییم استاد با داشتن این همه فضایل این همه بزرگواری ها از یك خصلت بسیار انسانی برخوردار بودند. ان بود که هیچگونه عجب و تکبر در استاد بزرگوار ما وجود نداشت. اثار خود را از نظر کوچکترین شاگردان خود می گذشتاند و کوچکترین شاگرد اگر نظری در باره نوشته استاد ابراز می کرد، در صورت درست بودن و منطقی بودن، می پذیرفت."

د پښتو معاصر ادب په روان بهير کښې د يادولو وړ څېره محمد صديق روهي دی چې د لوی استاد پوهاند حبيبي په باب وايي:

"رښتيا خبره دا ده د اروابناد پوهاند حبيبي د اثارو څخه حتی د يوه فهرست جوړول هم اسانه کار نه دی... څوك چې د افغانستان په تاريخ او ادب باندې کار کوي، زه فکر کوم چې هېڅکله دده له اثارو څخه بې نياز کېدای نشي. دده اثار يو سلو دوه دېرشو ته رسېږي او تحقيقي مقالې يې هم اته سوو ته رسېږي. استاد حبيبي په خپل ټول ژوند کښې په کار باندې ډېر بوخت و حتی اوربدلي مې دي چې ده د مرګ په ورځ هم د عربي يو شعر په دري ترجمه کاوه."

ښاغلی دستګير پنجشيري چې د استاد د مړينې په وخت کښې د ليکوالو د اتحاديې رئيس و، د يوه فرهنګيالي په توګه د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي په باب وايي:

"هفته پيش مردم افغانستان، مغز بزرګ، قلب پر تلاش، فرزند نامدار علم وادب و دانش خود را از دست داد.

اين مرد يکی از مورخان، ادبيات شناسان، دانشمندان، محققان زبان پشتو، دري و فرهنګ تاريخ معاصر افغانستان



بودند. درست است که معادن طلا زمرد و لاجورد، آب های مست و خروشان، کوه پایه های بلند، دشت های تشنه لب، تاکستانها، علفچرها، آسمان نیلگون همه ثروت های مردم افغانستان است. اما آنچه که بالاتر از آن ارزش دارد، انسان آن است. در بین انسان ها، انسان آگاه، انسان با شعور، انسان روشنگر، انسانی که زندگی و حیات خود را وقف ترقی، خوشبختی، بیداری و رشد تکامل جامعه کرده باشد، از همه ارزش های جامعه ما با ارزشتر است.

شاد روان استاد حبیبي که عمری به تدوین و نگارش تاریخ افغانستان در بیداری سیاسی مردم افغانستان نقش خلاق و آفریننده و بیدار کننده خود را ایفا کردند، یکی از شخصیت های نامور فرهنگي ما، عضو هیات رئیسه اتحادیه نویسنده گان ما. ستاره درخشان کانون های فرهنگي افغانستان قرن بیستم بود"

د هېواد معاصر شاعر، سليمان لايق د هېواد د پياوړی ليکوال او مؤرخ لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي د مړينې په باب وايي:

"... مګر دغسې خلك لکه استاد حبيبي چې ۱۳۲ اثره يې په ژوندون کښې ليکلي او هغه د ده د جسمي وزن څوچنده او څو چنده کېږي. داسې لوی سړی چې په تاريخ کښې، په فلسفه کښې، په ژبه کښې، په ګرامر کښې د ژوند په مختلفو استقامتونو کښې د خپلو خلکو علمي غنا راپياوړې کړې ده. داسې خلك لکه ستوري داسې دي چې په ټولنه کښې يو نيم راځي ځي. او واقعاً استاد حبيبي له هغو شخصيتونو څخه نه دی چې زموږ آينده تاريخ به دی هېر کړي. بلکه د هغو ستورو په څېر دی چې محدود راځي او بيرته اخستل کېږي. تر هغه ځايه پورې چې د افغانستان پر ملي تاريخ او د افغانستان د خلکو په ګټو پورې اړه لري، استاد حبيبي يو باشرفه، وطن پرسته او په افغانستان مين او بشر خواه، دلوی او وسيع

مشرب د خاوند په حیث خپل ژوند په عفت کښې، په شرف کښې، په خدمت کښې، په هلو ځلو کښې تېر کړ..."[3]

علامه حبیبي په رښتیا هم زموږ د هیواد هغه فرهنګیالی وُ چې د ده ځای‌به زموږ د لرغوني فرهنګ په اوسني بهیر کښې خالي وي. د هغه شهرت زموږله هیواد څخه ووت. په نړی کی اوس داسې علمي ټولنه نشته چې د ده له علمي هلو ځلو څخه دې کار وانخلي.استاد د خپل علمي ژوند په اوږدو کښې د ځلوېښتو ملي او نړیوالو سیمینارونو او علمي غونډو د ګډون ویاړ لري چې هلته یې زموږ د هیواد د فرهنګ په بېلا بېلو برخو کښې علمي مقالې لوستي او علمي خبرې یې کړې دي.

## د استاد حبیبي تاریخ لیکنه:

د استاد حبیبي د آثارو زیاته برخه تاریخي آثار دي په دی مانا چې ده د افغانستان د تاریخ په باره کښې زیات تاریخي آثار رامنځ ته کړي دي.ځکه نو کولای شو چې د استاد په تاریخي آثارو او د تاریخ لیکنې په میتود باندې هم اوږدې خبرې وکړو . کله چې موږ د استاد ژوند لیک لولو په هغه کښې دا ټکی تر ټولو د مخه زموږ مخې ته راځي چې ده له ډېر پخوا.څخه را په دی خوا په تاریخ لیکنې پیل کړی او له هغې سره یې ځانګړې مینه درلوده. د دغې خبرې له پاره موږ دوه سندونه لرو یو دا چې د ده تاریخي آثار د پاملرنې وړ دي او بل دا چې دی په خپله هم دا خبره کوي چې:"د تاریخي څېړنې او پلټنې تګلاره مې له ( کمبریج هستري آف انډیا) له هندي او مصري پوهانو لکه جرجي زیدان، شبلي نعماني، سید سلیمان ندوي، د برلین دکاوه جریدې له مقالو او د علامه محمد قزویني له ارزښتناکو آثارو څخه زده کړې ده..."[4]

له نوموړي خبرې څخه موږ دا اخیستنه کولای شو چې استاد په تاریخي ډګر کښې په علمي لحاظ لوړ او د یادولو ځای لري. ده



وکولای شول چې د پورتنیو ټکو په نظر کښې نیولو سره په خپله تاریخ لیکنه کښې هغه میتود په نظر کښې ونیسي چې نوموړو ختیزو او نورو پوهانو په خپلو لیکنو کښې د پېښو او حوادثو د تحلیل او تجزیې په برخه کښې غوره کړی وُ. ده په خپله تاریخ لیکنه کښې واقعاً د شبلي نعماني، محمد قزویني او نورو ختیزو تاریخ لیکونکو تګلاره له نظره نه ده غورځولې بلکې په دغه لاره کښې یې اوچت ګامونه په خپل عصر کښې اوچت کړي دي په دې مانا چې ده د ختیزو پوهانو د تاریخ لیکنې له میتود څخه د خپلې ختیزې ټولنې د تاریخي پېښو او کړو وړو په علمي تحلیل کښې ګټه اخیستې ده او د خپلو خلکو د ژوند تاریخي فاکتونه او نور ټولنیز حالات یې د تاریخ حافظې ته په ریښتینې توګه سپارلي دي.

کله چې موږ غواړو د استاد د تاریخ لیکنې میتود د عصر د عمومي تاریخ لیکنې د عمومي او عملي میتود په څنګ کښې وڅېړو نو دا خبره په عامه توګه زموږ سترګو ته راجوتېږي چې د عصر عمومي میتود همهغه میتود وُ چې اوس د تذکرې لیکنې د میتود په نامه باندې یادېږي. دغه عمومي میتود زموږ او د زیاترو ختیزو ټولنو د تاریخي تشریح تر ټولو مهم او دودیز میتود وُ چې تر اوسه هم زموږ په تاریخ لیکنه کښې کارول کېږي. زموږ د هېواد پخواني مشهور تاریخي آثار لکه تاریخ سیستان، احیاء الملوك د شاه حسین سیستاني تالیف، زین الاخبار، طبقات ناصري، تاریخ مرصع او نور یه همدغه میتود باندې لیکلي شوي او تر موږ پورې را رسېدلي دی.په همدې توګه له نوموړي میتود څخه د معاصر تاریخ پوهانو او تاریخ لیکونکو هم ګټه اخیستې او په معاصر وخت کښې یې تاریخي آثار لیکلي دی.زموږد هیواد د نامتو معاصر و مورخینو لکه استاد کهزاد او غبار تاریخي لیکنې همدغه ځانګړتیاوې لري.

استاد حبیبي هم د دغي لاري کلك پیرو و. ده خپل ټول اثار د تذکري لیکني په بڼه زموږ د تاریخ په برخه کښي لیکلي دي. یو ټکی باید له یاده ونه باسو هغه دا چي د ده په تاریخي اثارو کښي که څه هم په نوموړي میتود باندي لیکلي شو دي خو د معاصریت ځانګړني یي هېڅکله له یاده نه دي ایستلي یعني د معاصر عصر د تاریخي پېښو د تحلیل اصل یي په میتودیکه بڼه د پخوانیو تاریخ لیکونکو په انډول ډېر پیاوړی دی. کېدای شي موږ په پخوانیو تذکرو کښي ډېري داسي پېښي او حوادث پیدا کړو چي د هغو له پاره هېڅ ډول اسناد په همغه اثر کښي نه وي وړاندي شوي مګر د استاد د تاریخ لیکني مهمه ځانګړتیا دا ده چي له یوي خوا یي تحلیل منطقي دی او له بلي خوا یي هره پېښه او هره تاریخي موضوع دومره مستنده را وړاندي کړي چي په نوموړي برخه کښي یي دځانګړي مورخ نوم ګټلی دی. هغه تاریخي اثار او تاریخي لیکني چي له استاد څخه زموږ د هېواد تاریخ ته پاتي دي دومره مستندي او مغتنمي دي چي د خپل عصر په تاریخي لیکنو کښي یي ساری ډېر لږ لیدل کېږي. د استاد په تاریخي اثارو کښي د علمي پرنسیپ دا لاندي طرحه په نظر کښي نیول شوي چي:

"د تاریخ نوي تیوري تاریخي مسایل په هر اړخیز او نړیوال مقیاس تر تحلیل او تجزیي لاندي نیسي. هغه نیمګړتیاوي او کمزورتیاوي چي د تاریخ په یو اړخیزه پوهه کښي وي له منځه وړي. تاریخ د یوه داسي علم په توګه رامنځ ته او په دي برلاسی شو چي د تاریخي پېښو اصلي ریښي او ټولنیز بدلونونه وښیي د ټولنیزو طبقو ونډه په ګوته او همدارنګه د تکامل بهیر په هر اړخیزه توګه روښانه اولاره د راتلونکي پرمختګ او ودي له پاره اوارو وي..."[5]

پورتنی میتودیکه خبره تر زیاتي اندازي د استاد حبیبي په تاریخ لیکنه باندي تطبیق کېدای شي په دي مانا چي ده هم په خپل



میتود کښي نه یواځي فاکتونه او حوادث په ګوته کړي بلکي تحلیلي اړخ یي هم په نظر کښي نیولی دی. دا ځکه چي:

"مورخ نشي کولای له ټولنیز چاپېریال او هغو افکارو څخه چي پر هغه محیط باندي برلاسي وي ځان بېل کړي. ځکه نو یو او بل ډول برداشت له تاریخي پدیدو او بشپړونو یعني له هغو څخه د ارزیابي ډول پرته د لیکوال له ازادي او غوښتني څخه د تاریخ په ټولو څېړنو کښي موجود دی..."[6]

په نوموړو ځانګړتیاوو برسېره د استاد په تاریخ لیکنه کښي یو ټکی بل هم په علمي لحاظ د تاریخ د علم د پوهانو پاملرنه ځان ته ور اړوي او هغه دا چي استاد حبیبي د یوه وتلي او عالم مورخ په توګه د تاریخ د پېښو، حوادثو او په ځانګړو تاریخي شېبو کښي حقایق په داسي مستندو او تاریخي اثارو کښي ټولني او خلکو ته وړاندي کړي چي په علمي توګه زیات ارزښت لري، ده د یوي تاریخي پېښي د هر اړخیزي څرګندوني په خاطر په سلګونو منابعو او ماخذونو ته مراجعه کړي ده په دي مانا چي دی په دغه برخه کښي د خپل وخت د تاریخ لیکونکو په منځ کښي ځانګړی برجسته مقام لري.

دلته یو مثال راوړو هغه دا چي د استاد په مشهورو تاریخي اثارو کښي یو هم "د افغانستان لنډ تاریخ" دی. په دغه اثر کښي د افغانستان د پخواني، منځني او معاصر تاریخ په باب تاریخي معلومات وړاندي شوي دي د دغه اثر په لیکلو کښي استاد حبیبي له "۲۴۰" معتبرو تاریخي اسنادو څخه ګټه اخیستي ده. لنډه دا چي استاد حبیبي په خپل تاریخي میتود کښي د ټولني او خلکو تاریخي او ملي ارزښتونه هم په پخواني هم په منځني او هم په اوسني وخت کښي په نظر کښي نیولي دي. ځکه استاد په دي باور درلود چي:

"مور په ډېرو جالبو شپو ورځو کښې ژوند کوو چې له سترو تاریخي پېښو ځخه ډکې دي. دغه پېښې هغه ځه راسپړي او روښانه کوي چې د راتلونکو نسلونو په واك کښې به ورکړه شي."[7]

## اخځونه او ځرګندونې

[1] - ډار مستېر او نور، تاریخ و صرف پښتو، (د روان فرهادي ژباړه) ۲ټوک، کابل ۱۳۵٦ (۳۱۷) مخ.

[2] - ژوندون مجله، (۳) ګڼه، کابل: ۱۳٦۱، ۹۲مخ

[3] - دغه خبرې او ځرګندونې د هغې خپرونې یوه برخه ده چې د (۱۳٦۳) کال د ثور په میاشت کښې د افغانستان راډیو له خوا د علامه حبیبي د مړینې په مناسبت جوړه شوې وه.

[4] - ژوندون مجله، کابل: ۱۳٦۱، (۹۱) مخ.

[5] - اکارډن، تاریخ جهان باستان، ج، ۱، تهران، ۱۳۵۳ (۱۰)مخ.

[6] - ای، ژوکوف. میتودولوژي تاریخ، کابل، د علومو اکادمي، ۱۳٦۳، (۴۰) مخ.

[7] - همدا اثر، (۱۹۱) مخ.



سید خلیل، کاناډا

# لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي

# "د ملت ښوونکی"

درنو لوستونکو دا ځرګنده ده چې د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي په هکله لیکل ډېره ستره پوهه او جرئت غواړي خو د لوی استاد افکارو او لیکنو زه دې ته وهڅولم چې په ډېره درناوي د خپل هېواد د ستر او درانه ملي مشر لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي یادون وکړم.

زما په خیال د هېواد د هر نسل د وتلیو او نامتو شخصیتو یادون او د داسې مشرانو چې د ملت، هېواد او سیمې د پوهې ستوري دي نه یوازې د نوي نسل بلکې د ټولنې د ټولو منورینو فرض ګڼل کېږي، په تېره بیا د لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي یادون، چې د دوی لیکنې او کړنې زموږ د ملت او هېواد د

راتلونکي سمسورتیا مثال دي او د ملت لارښوونه کوي، خو بیا هم مخکښې له دې چې د لوی استاد په اړه د خپلو خیالاتو نړۍ د قلم په خوله پرانیزم او د لوی استاد یادون د درنښت په پاڼه ولیکم، نو له ټولو درنو لیکوالو څخه ددې هیله کوم چې که چېرې زما په لیکنه کښې څه نیمګړتیاوې وي نو ما دې په خپله مشرۍ وبخښي.

ښکاره ده چې هر انسان د خپل ژوند له پیله او د هغه په بهیر کښې تر مړینې پورې هرومرو ډېر ښوونکي لري، خو ځینې ښوونکي د انسان د شخصیت په جوړونه کښې ستر رول لوبوي او ځینې د ملت ښوونکي ګرځي.

د ژوندون له لومړۍ شېبې یعنې د زیږېدنې له شېبې څخه انسان خپل نظر د لومړي ځل له پاره د مور په نوراني مخ اچوي. مور هغه انسان دی چې نوی انسان د نهو میاشتو په ترځ کښې په خپله مینه او وینه روزي او د زیږولو په بهیر کښې یې د سترتیا او ځورېدنې لیکي پر مخ پرېوځي، خو بیا هم د نوي انسان په پیدا ایښت موسکه شي چې دا موسکا د کوچني انسان په ذهنیت کښې د ژندانه تر پایه پورې تلپاتې شي او دا لومړۍ موسکا د روزنې او ښوونې لومړی مثال دی چې وروسته له دې شېبې کوچنی انسان د مور د پیو د رودلو په بهیر کښې د مور ښایسته مخ ته ګوري او د مور د مخ د غم او خوښۍ لیکې لولي او ددې پر بنسټ کوچنی انسان د احساساتو د نړۍ ظاهري بڼه انځوروي.

کوچنی انسان خاپوړې د مور په لور پیلوي، لومړي ګامونه د مور په ښوونه اخلي او لومړۍ خبره یې "ادې" او یا "مور" ده او د ژوندانه د ورځنې ژوندون د بهیر هلې ځلې او هڅې د مور په غېږ کښې او د پلار د ښوونې او روزنې تر سیوري لاندې زده کوي، لنډه دا چې مور او پلار له کوچني انسان څخه تر پنځه کلن پورې یو ټولنیز شخصیت جوړوي او ټولنې ته یې په ویاړ سپاري.



څرګنده ده چې په ټولنه کښې د انسان په ژوندانه کښې نور ښوونکي هم ورډېرېږي چې هغه د ښوونځیو او پوهنځیو ښوونکي دي چې وروسته له مور او پلار څخه د انسان په روزنه کښې بنسټیز رول لوبوي او انسان ته لیکل، لوستل او له بېلابېلو خلکو سره یو ځای د ټولنیز ژوندانه معاشرت او آداب ورښیي او له ښوونکي څخه د روزنې په بهیر کښې د ساینس او ټولنیزو علومو پوهه تر لاسه کوي، نو ځکه وایي چې د ښوونکي پر سیوري پل ایښودل ګناه ده خو د یادونې وړ ده چې ځینې میندې، پلرونه او ښوونکي دومره مشران شي چې د ټولنې د پرمختګ او هېواد پالنې تلپاتې ځلانده ستوري وګرځي، نو ځکه د هغوی یادون پر نوي نسل فرض شي.

هو! ښکاره ده چې مور د اولاد په زیږولو نه بلکې د اولاد په روزنه مور کېږي او ښوونکي یو سپېڅلی نوم دی چې هر څوک یې نه شي تر لاسه کولای، خو ځینې میندې، پلرونه او ښوونکي نه یوازې د کورنۍ، ټولګي، ښوونځي، پوهنځي ښوونکي دي بلکې د ملت او هېواد د ښوونې او روزنې مثال دي چې نه یوازې خپل چاپېریال او سیمه مګر ټوله نړۍ پرې نازېږي او د ټولنې د تلپاتې ځلانده ستوري نوم تر لاسه کوي.

لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي زموږ د هېواد او د نړۍ هغه ځلانده ستوری دی چې د ادب، تاریخ، ژورنالیزم او سیاست په ډګر کښې یې دومره هلې ځلې کړې چې موږ هر څومره پرې ولیکو بیا هم لږ دي، خو له نېکه مرغه استاد علامه حبیبي هغه روښانه لمر دی چې هره تیاره رڼا کوي، سوړ زړه تودوي او په هر منور انسان کښې د هېواد پالنې احساسات راپاروي.

څرګنده ده چې د ټولنې روح ژبه ده او د مور روح پخپله ژبه کښېږي خوندي دی. اروابناد لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي زموږ د ټولنې د ادب له بنسټ ایښودونکو څخه دی او د ملت د ژبې اساسات یې د قلم په څوکه د هېواد پالنې پر پاڼه کښلي او د ژبې

مزي يې په ټولنه کښې غځولي او د استاد هغو د ټولنې روح د ادب په سیند کښې تلپاتې کړی دی او د دغه سیند څپې دي چې زموږ په لیکنو او روحیاتو کښې اوړي او رااوړي او موږ دې ته چمتو کوي چې په دې ستونزمن ژوند کښې پیاوړي او د خپل کور، ټاټوبي او هېواد په ساتنه او پالنه کښې چمتو او غښتلي اوسو.

د استاد علامه حبیبي په هکله دا بس ده چې یوازې ووایو چې استاد له ۱۳۳ څخه ډېر آثار او د زرو په شاوخوا کښې مقالې په څو ژبو لیکلي او د استاد د لیکنو جوك او لوړوالی د استاد تر وزن اووني ډېر وي.

د استاد علامه عبدالحی حبیبي هره لیکنه چې د ژوندون په هر اړخ پورې اړه لري یو ستر بشري ارزښت دی، یو لوی ښوونځی او د علم لوی سیند دی چې په هر څاڅکي یې د انسان ادبي او معنوي تنده ماتېږي او د پوهې د برېښنا سیالي د هر هېوادپال انسان په روح کښې پیاوړي کوي.

د لوی استاد وینا وي د مرغلرو امېل دی او هغه د سیمې هغه ځلانده ستوری دی چې هر کوټ پرې روښانه او ښایسته کېږي نو په پای کښې غواړم ولیکم چې که زموږ د ژوندانه د بهیر بلابلو پړاوونو ته ځیر شو نو دا څرګندېږي چې لوی استاد علامه عبدالحی حبیبي د بشریت ځلانده ستوری او د ملت ښوونکی دی



الحاج نثار احمد پوپل

# لوی استاد علامه پوهاند حبیبي

## د افغانستان لومړی جمهوریت غوښتونکی

که موږ د ګران هېواد افغانستان تاریخ ته ځیر شو دا ټاټوبی د غښتلو فاتحینو او مبارزینو زانګو وه چې د خینو تر قلم به یې داسې مرغلرې څڅېدلې چې د ظالمو واکمنانو سترګې پرې برېښېدلې، چې یو له دغو نومیالیو لیکوالو او سیاسي شخصیتونو څخه ارواښاد لوی استاد علامه پوهاند عبدالحی حبیبي و چې نه یوازې د علم د پتنګانو له پاره د علم و تحقیق او ادب بلمه ډېوه وه بلکې د سیاسي نهضتونو هغه سرلاری و چې د هغه له ستوني د عدالت او د خلکو د واك ږغ پورته او د غه ږغ یې د هېواد او نړۍ غوږ ته ورساوه او د بې عدالتۍ او ظالمي واکمنۍ پر ضد یې د ټولنیز عدالت بیرغ جګ کړ او د هغه سیاسي سیستم له پاره یې مبارزه پیل کړه چې په هغه کښې خلك واکمنان وي پر خلکو باندې د خلکو واکمني وي او د خلکو د ښې ښېګڼې له پاره د یو جمهوري نظام جوړول وو چې د هغه د مبارزې په هکله میر محمد صدیق

فرهنگک په "افغانستان در پنج قرن اخیر" کښې داسې لیکلي "در سال ۱۹۴۹ چون موقع انتخابات شورا فرا رسید، حکومت از مداخله در آن بطوری که در عصر صدراعظم گذشته معمول بود خود داری نمود. یکتعداد از روشنفکران به وکالت رسیدند مانند گل پاچا الفت از جلال آباد، محمد کریم نزیهی از اندخوی، صلاح الدین سلجوقی از هرات، عبدالحی حبیبی از قندهار..." او میر غلام محمد غبار په "افغانستان در مسیر تاریخ" کښې داسې لیکي: "هم چنان عبدالحی خان حبیبی تا جایی تحت فشار قرار گرفت که قبل از اختتام دوره شورا از افغانستان فرار و در پاکستان پناهنده شد" او په "ظهور مشروطیت و قربانیان استبداد در افغانستان" کښې د ده په اړه داسې راغلي دي:

"پوهاند حبیبی به حیث یك شخص منور و ترقی خواه از رویه های مستبدانه حکومت به ستوه آمده در سنه ۱۹۵۰م زمانیکه به حیث وکیل قندهار در شورای ملی بود به پاکستان فرار کرده در پشاور پناهنده شد در اینجا جریده هفته وار "آزاد افغانستان" را انتشار داد و افغانستان را به حیث یك دولت جمهوری اعلان نمود" عبدالحمید مبارز په "تحلیل واقعات سیاسي افغانستان" کښې لیکي. "عبدالحی حبیبی که در دوره هفتم وکیل شهر قندهار در شورای ملی بود دوره وکالت را نا تمام گذاشته و با استفاده از رخصتی زمستانی شورا به پاکستان رفته بر نمی گردد و در آنجا حزب سیاسي آزاد افغانستان را تاسیس می نماید، وی با نشر جریده آزاد افغانستان چون ارگان نشراتی حزب سیاسی آزاد افغانستان در واقع برای بار اول در عصر ظاهر شاه در خارج کشور یك حرکت سیاسی علیه نظام شاهی را اعلام و شخص خود را به حیث رئیس این حزب و این حرکت سیاسی اعلام می نماید، نشرات شدید را بر علیه خانوادهٔ نادرشاه به راه می اندازد." او نومورې لیکوال په نومورې کتاب کښې بل ځای لیکي. "پاکستان که روی



مسئله پشتونستان با حکومت افغانستان اختلاف داشت وی را حمایت کرد تا روزی که خواستند و فکر می کردند که به نفع پاکستان تمام خواهد شد وی را مساعدت کردند ولی وقتی متوجه شدند که حبیبی علیه اهداف ملی حرکتی نه کرد چنانچه در مقاله که در شمارهٔ دوم جریده آزاد افغانستان تحت عنوان تابعیت افغانی... نوشت صرف از سیاست داخلي حکومت افغانستان انتقاد کرد نه از سیاست خارجي و بین المللی آن، از حمایت وی دست کشیدند و ساحه را به وی ضیق ساختند و حتی وی را تحت مراقبت قرار دادند... در حالیکه وضع سیاسی بین افغانستان و پاکستان روز به روز تیره تر می شد به سفارت افغانستان در کراچی داخل شده و پناه سیاسی تقاضا کرد. درست چند روز از داخل شدن حبیبی به سفارت نه گذشته بود که مناسبات افغانستان و پاکستان تیره شد ... حکومت افغانستان حبیبی را به حیث آتشهٔ مطبوعاتی در سفارت افغانستان متعین کراچی معرفی کرد و لی حکومت پاکستان سفارت افغانستان را محاصره کرده از خروج حبیبی از پاکستان جلو گیری می کرد، سردار محمد داؤد برای تمام اعضای سفارت پاکستان در کابل اجازه داد خارج شوند ولی صرف از خروج محمد اقبال سکرتر دوم سفارت پاکستان که برادر مارشال ایوب خان رئیس جمهور پاکستان بود جلو گیری کرد و شرط گذاشت تا موقعیکه حبیبی به کابل مواصلت نه کند اقبال کابل را ترک کرده نمی تواند، حکومت پاکستان که این ایستادگی داؤد خان را دید حبیبی را اجازه داد که با پاسپورت سیاسی افغانستان ذریعه طیاره کراچی را ترک گفته به کابل مواصلت نماید..."

دغه الهام داؤد خان هم دوه ویشت کاله وروسته دې ته اړ یوست چې کودتا او د جمهوریت اعلان وکړي.

# ساندي

منظومي ويرني

اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد

*د لوی استاد علامه حبیبي د مړیني سانده:*

# د فضیلت لمر ولوېدی

آ د علـم عیـار سـنجو صَرَافـانو! — آ د فضـل پـه ارز پوهـو جوهریـانو!
خبر یاست؟ چې تکـه ولـوېده لـه پاسـه — هغه کان د پوهـې وووت زمـوږ لـه لاسـه
چې په لعلـو یـې د فضـل رنګینـي وه — پـه عقیقـو یـې د علـم زیبـا یـي وه
نګینـې یـې د ادب د تنـدي ګل وُ — پېروزې یـې د تـاریخ د ګنې ښکـل وُ
الماسـونې د تحقیـق د تـاج ښایسـت وُ — یـا قوتونـې د تدقیـق د تخـت ارزښت وُ
هغـه کـان چـې د ګوهـرو مجموعـه وه — د خو رازو کمـالونو ګنجینـه وه
د اجـل پـه زلزلـه لـه مـوږه ورک سـو — د مهرونو دروند عیار یې په مرګ سپک سو

پس لـه دې د اعیـار نسته پـه سـکوکې
دا غمی به پیدا نـه سـي پـه کـانو کښې

آ پوهـانو د رصـد! د شـرف سـتوری — له خپل اوجه راخطا سـو ګـورئ، ګورئ!
موږ یې وینـو چـې جـهان د علـم تـور سـو — هغـه لمر د فضیلـت مېلمـه د ګور سـو
چـې خبرنـې د تیـارو لارو رڼا وه — چې لیکنـې د ادب د مـخ ښکـلا وه
چې په نوک یې خلاصېدې د تحقیق غوټې — چې په نقد یې زرکـېدې د خطـا لـوټې
پـه تقریـر کـښې یـې کیمیـا د سـعادت وه — په تحریر کـښې یـې توتیـا د بصیرت وه
چې یې ژاړي پـه هجـران د کتـاب تـوري — چې ګډوډ یې په بېلتون د معنـا سـتوري
چې په تله یې د عرفان بوټي خـزان سـول — چې په مرګ یې علمِ وپوهه یتیمان سـول

درېغـه، نـن دشـلم قـرن بېرونـي ولاړ
د افغـان ولـس (لـه) تولـه حبیبـي ولاړ*

د غویي ۲۰/ ۱۳٦۳المریز

* د افغان ولس لـه تولـه" تـاریخي مـاده ده، ابجـدي ارزښت یـې ۱٦۷۳ دی د "بـیروني" او "حبیبي" ابجـدي ارزښت ۳۱۰ چـې خینـې وباسـو ۱۳٦۳ پـاتېږي، پـه دې اسـتخراج کـښې د تخرجې له عملـه کـار اخیسـت سـوی دی.

رشاد



پوهاند رشاد

# انـدر رثاء علامه حبیبي

ای ربـدهٔ عزیـز تریـن دودمـان فضـل! — وی نخبـهٔ ثمین تریـن ګوهـران فضـل
ای کیمیای دانـش وای ریمیـای فـهم — ای آفتـاب بینـش وای آسـمان فضـل!
ای کـوه اسـتقامت وای ذروهٔ علـو — ای بحر بی کـران و قـوف و عمـان فضـل!
ای آن نسیم علم که از فیض صحبـت ات — می یافت رنګ و بوی ادب ګلستان فضـل
رفتی و شـد خـراب زرحـل تـو شهر علـم — بـرچیـد ایـن زمانـه بمرګت دکـان فضـل
ششدر بشد فضیلت و مبهوت ګشـت عقـل — درکـام عصـر لال شـد از غـم زبـان فضـل
پرسیدم از خرد، چو سن رحلتت بګفـت: — آن "راد" چون برفت بیامد "خزان فضـل"*
۲۰۵ ۱۵٦۸
روز چـهار شـنبه و بیسـتم زبـرج ثـور — آن تن بخاک شد، که بحق بُـدروان فضـل
درد! ره عـلاج میسـر نشـد بـه وی — و احسـر تـا بمـرد "حبیبی" جـهان فضـل

۲۲ ثور/ ۳٦۳ ه ش

* "خـزان فضـل" کـه ارزش ابجـدی ان۱۵٦۸ اسـت مـادهٔ تـاریخی میباشـد "راد" کـه ارزش ابجـدی ان ۲۰۵ اسـت بعمـل تجزیـه از ان نفـی ګردیـده ۱۳٦۳ مـی مـاند کـه بحسـاب شمسـی هجری سال وفـات علامـه حبیبـی اسـت.

# د لوی استاد حبیبي ویرنه

***دغه شعر مې د ارواښاد لوی استاد علامه پوهاند حبیبي د مړینې په ورځ د هغه په کوږ کښې ویلی او د هغه ورځې د ساندې په نوم یې خپروم.***

اې د علم او فضیلت د اسمان ستورې
چې تورتم د جهالت ته کاږه ګورې
بیا دې سترګې د ماتم اوښکو لندې کړې
په حسرت یې زموږ د ژوند پر تیاره اورې
هریو ښاخکې دی د پوهې دُر او کان دی
ناپوهي کښې د روښانه مشعل اور یې

موږ چې هم دا ستا په لور کړې لوخې متې
بېلتانه و ریخو سترګې کړې درېتې

د ادب خولګۍ دې بیا کړله ویرجنه
د هنر نازکه سترګه شوه نمجنه
د فرهنګ د شپېلۍ ستونی غریو نیولی
د تنکي احساس نرۍ دې کړه غمجنه
د هېواد پر ګرېوان اوښکې دې روانې
افغاني ټولنه بیا شوله تبجنه

چې کیمیا شولې دا ستا هدیرې بوټې
زموږ رانجه شولې دا ستا د قبر لوټې

طارق رشاد
۱۳۶۳-۳-۱۹



پېغله کوکو رشاد

# د ادب ډېوه مړه شوه

ته یو ګل وې د عرفان ورژېدلی
ته غمخور ددې اولس و کوچېدلی
تا ټول عمر وقف کړی وو اولس ته
ددې خلکو په غمو کښې ربړېدلی
ستا وه هیله چې ټول خلک فهمیده شي
شپه او ورځ د دوی له پاره کړېدلی
تا د مرګ په ساعت هم فراغت نه کړ
تا پر وخت د زکندن پاڼې لیکلي

د هېواد د علم تاج د ادب ګل وې
رنځورانو ته د جهل لوی درمل وې

ته ددې مېنې وتلی علامه وې
ددې سیمې د تیارو بله ډېوه وې

ته د علم تږي ډېر دي اوبه کړي
ــه د پوهې د بحرونو مجموعه وې
تا به علم باندې پوه ډېر ناپوهان کړل
ددې خاورې د اسمان رڼه شغله وې
توره شپه کښې دې د لمر غوندې رڼا کړه
د اېشيا د زړه منلې نابغه وې

د افغان د سيمې لوی عالم پښتون وې
پښتونخوا کښې ته سپېدې د سباوون وې

ته پوه د فضيلت وې ددې خاورې
هم سينا هم بيروني وې ټول دې واورې
ځا چې نيم قرن دې خدمت کړ ودې ملك ته
د هغه په ياد به نن لا آسمان ژاړي
ليکوالان او اديبان سره راټول دي
دې نامور او مؤرخ ته جنت غواړي
ځا د علم تاج چې نن ولاړی په ګور شو
د هغه به لوړ نامه به افغان وياړي

ستر استاد د پښتو ژبې حبيبي ولاړ
لوی ليکوال او پوخ څېړونکی د دري ولاړ

۱۳۶۳/۲/۲۰
کابل، خيرخانه مېنه



عبدالمجيد بابی

# مبتکر ليکواله څه سوې؟

تر همدغه اسمان لاندې
د افغان په کور سوې ساندې
راته سترګې اجل سرې کړې
زمور په مېنه کښې يې شپې کړې
په هستی مو راغله تکه
له اسمانه ښه په کلکه
ورسره د مرګ برېښنا وه
د قضا دا تقاضا وه
(حبيبي) يې رانه بېل کړ
مځکې خپل په غېږ کښې ښکېل کړ
دغه هسک د ادب خلی
د معنی په وړانګو ښکلی
فيض رسانه لکه لمر وُ
تاج د علم يې پر سر وُ
په ښکاره د تاريخ پلار وُ
وياړ ددې سپېره د يار وُ

یو رښتینی دانشمند وُ
اندیښمند وُ بینشمند وُ
عالمان دده زده کړیان وو
زیات دده په نور روښان وو
د (حبو) د کور ډیوه وه
د شرقي پوهې شمله وه
د پوهانو ځنګ کښې هست سو
وروسته لوی استاد د وخت سو
ژورنالست سو، ستر لیکوال سو
د نړۍ د پوهې سیال سو
کندهار کښې را پیدا سو
زموږ وُ نور هم د هر چا سو
د هېواد وُ د ایران سو
د ایران سو، د توران سو
هم د هند سو، هم د چین سو
د تاجک او اباسین سو
ترک. ازبک او عرب واړه
ده ته وو په کړه غاړه
د تیاره چاپېریال خوا کښې
د نااهلو مدعا کښې
ده د پوهې ډیوه بل کړه
ناپوهي یې ښه-دل دل کړه
د فرهنګ لویه چینه سوه
معرفت ته آئینه سوه
لوی انسان سو. لوی پوهاند سو
د پښتو ژوند ته یې هاند سو
هر اثر یې لکه ستوری



ځراغ ځوندي یې هر توری
د (پښتو) که (شاعران) وو
که (نومورکي مؤرخان) وو
ده له خاورو رابهر کړه
بې خبره یې خبر کړه
ده رالوځې زماني کړې
را پیدا یې (خزانې) کړې
علمي غوندو کښې سالار وُ
ډېر خبیر، ویښ اوهوښیار وُ
د خېړنو ستر کانون وُ
تل لګیا تل یې لتون وُ
هنرونه که ادیان وو
ده ته لمرغوندي عیان وو
د(افغان پرمداو جذر)
دده زیار دی وړ د قدر
تصوف کښې یې لاس بر وُ
با ارزښته دا اثر وُ
د (ادب تاریخ) یې غوره
پکښې سته هر څه له سره
د لیکنو شمېر یې ډېر دی
د قلم له توانه تېر دی
لوی یې شان. لوی یې تکل وُ
د علمي ډګر اتل وُ
زموږ د عصر بیروني وُ
په فکري واک کښې قوي وُ
نه یې ژبه توصیف کړای سي
نه قلم پرې چلیدای سي

دریغه تر یو ورته زمان سو
یون یې لور ته د بیابان سو
دده شپې پر هدیره سوې
تورې خاورې ترې حلقه سوې
د ادب بڼ یې تالا کړ
د تاریخ کور یې فنا کړ
هیلو وکړلې بغارې
اوښکې تلې ترې لارې لارې
د بنوال لمن سوه تشه
د چا بڼ داسې تور مه شه
هغه ګنج د افغان لوټ سو
عقل و فکر شل و شوټ سو
د تاریخ ملکه کونډه
غم یې مخ کښې تلې په منډه
هار یې و شکېدی له غاړې
د کونډتوب په ژړا ژاړې
د عالم مرګ عالمګیر وي
به دې زیان ګوټ ګوټ زهیر وي
(حبیبي) هم داسې زوی و
چې یې ویر پر ووړ او لوی و
کندهار هم په ټکان سو
چې استاد پر ګورستان سو
د (حبو) پر کور تیاره سوه
چې خپره د غم سایه سوه
! عظیم انسانه څه سوې؟
د افغان نښانه څه سوې؟
د پښتون بچیه څه سوې؟



د عرفان سپرلیه څه سوې؟
آه! مشهور (حبیبي) څه سوې؟
زموږ فاضل کندهاري څه سوې؟
مبتکر لیکواله څه سوې؟
د ادب لېواله څه سوې؟
اې نایاب ګوهره څه سوې؟
د پښتو خادمه څه سوې؟
زموږ پښتو دې کړه سرتورې
سرکړه پورته که یې ګورې
ټول هېواد که لر او بر دی
ستا په مړینه زیات اوتر دی
مرګ دی ومري ولې ولې
تا کښې ده څه وو مونډلي
زموږ وو جوړ په تا کارونه
تا په لار کړه اولسونه
د اولس د ژوند بقا وې
د پښتون د رنځ دوا وې
دغه ته وای دا اولس وای
ستا قلم وای زموږ نفس وای
ستا د پوهې تور نغری وای
باندې تود خپل او پردی وای
ستا تحقیق وای ستا څېړنه
ستا ځواب وای زموږ پوښتنه
ستا لیکنې ستا آثار وای
جګ له هر چا زموږ دستار وای
هغه شان وای علمي غونډې
ستاوېناوې وای بربنډې

اوس دې مورږ ټول يتيمان كړو
بې مخكښنه دې روان كړو
كه تقدير زورور نه واى
په يو مخ د خپل سر نه واى
مورږ به ستا نه زيات سرونه
واى خار كړى ستر پښتونه
خو نه واک سته نه اختيار سته
نه روزګار سره ټينګكار سته
نن راټول څو افغانان دي
ټول ستا ورونه عزيزان دي
يا دوو ستا د بېلتون ورځ
خپل د وخت د افلاطون ورځ
كه نه ستا حق پر مورږ زيات دى
دلتهزموم هم مغزى مات دى
پر مورږ جنګ دى پرى لنبې دي
هر څه سوى شنې ايرې دي
نه آرام سته نه كرار سته
نه چا تلل د حق پر لار سته
بده ورځ ده بدمرغى ده
د اور منځ كښې زندګې ده
نه قلم سته نه كتاب سته
نه څه چارې د ثواب سته
بد بينى دي او كينې دي
دسيسې دي او فتنې دي
څوک غلجى څوک درانى سول
څوک دځان او څوک پردى سول
څوک پنځ پا سوه څوک زيرک سوه



څوک اصيل سوه څوک ابلک سوه
قوم ته كار دى قوم ته زيار دى
ټول اولس له قوم نه خار دى
يا احزاب دي يا تنظيم دى
هېواد ټوک ټوک دى تقسيم دى
د مذهب او لسان جنګ دى
پراخ هېواد ولس ته تنګ دى
اوس نه هغه كندهار سته
نه يې تبر شان او وقار سته
ټول د اور غونډې نغرى دى
زړه يې غم باندې سورى دى
نه معارف نه كتابتون سته
نه "طلوع" نه يې مضمون سته
نه "ټولنه د پښتو" سته
نه علمي كار ته ورشو سته
نو مورږ وبخښنه بې څه يو
په ويښ سر لكه بيده يو
هر څه وشمېره دعا زمورږ
داده ستا نه تقاضا زمورږ
روح دې اوسه په جنت كښې
د لوى خداى په مرحمت كښې
د (بابي) هيله همدا ده
لوى استاده لوى استاده!

۱ شنبه
۱۳۷۲ ۲ ۱۹
چهارسو. د باميزو كوخه

محمد معصوم هوتک

# ساندې*

چې زمـان سـې پـه کينـه بـاندې راضـي
کـړي نسـکورې پخـې مبنـې تـاريخي
ډېرې ميـنـدې کـا سـر تـورې ډېر پلرونـه
پـه مـرګـي بـاندې غمجـن کـړي د. لالـي
ډېر زلمـي د تـورو خـاورو پـه غـېږ ورکـا
نيمـه خـوا تـانده لبـاندې کـړي خوانـي
ډېر پوهـان چـې دخپـل قـوم تېـر لارښود وي
پـرې نـاره کـړي د ظـالم مـرګي ايلچـي
د زمـان د دښمنـۍ وار پـر مـوږ راغـي
"لـوی اسـتاد" الـوداع وکـړه لـه فـاني
د پښتـون مينـه کـورګۍ سـوه بـاور وکـړئ
دا څه اورم؟ دا څه زوږ دی چـــــې راځي
هـا چـې پتـې خزانـې يـې کـړې څرګنـدې
هـا چـې بـرم يـې د زوږ غـور کـړ معرفـي
هـا چـې رونه يـې کـړه لار د هغـو سـتړو
چې پـر خولـه بـه لوېدلـه پـه خـواري
هـا چـې بـل يـې کـړ مشـعل د علـم و پوهـې
هــــا چـــې وې پېيلـــه دُر قيمتـــې
هـــا چـــې وې خبرې تـــاريخ د نظـــم و نـــثر
هـــا چـــې وې ليکلـــه ډېر آثـــار علمـــي

* دا مرثيه د لوی استاد علامه عبدالحی حبيبي د وفات په مناسبت ويل سوه. د ۱۳٦۳ کال د کابل مجلې په ۲ کنه، او د "استاد يادنوېي مجموعه کې چاپ سوې ده



هـا چـې درونـد و، معـزز و، محـترم و
هـا چـې علـم پـه ويـاړ لـه واقعـي
پښتنـو! پـه څان پوهـېږئ څه راوسـوه؟
پـر اوړو بـاندې مـو کـېښ د "حبيبـي"
ولـې نـه بـادوئ خـاورې پـر سـرونو
ولـې نـه تويـوئ اوښکـې سـېلابي
ولـې ولـې پـه رينـګېښ بـاندې نـه ژاړئ
تغـر تول سـو د "فـاضل کندهـاري"
د عـالِم د مـرګ مثـال فـوت العـالَم دی
د اسـتاد مـرګ ضايعـه ده جـهـاني
"سـل دې ومـره يـودې مـه مـره" پښتـون وايـي
"لـوی اسـتاده" لايـق نـه وې د مـرګي
کـه اختيـار وای د تقديـر زمـوږ پـه لاس کـښې
مـوږ بـه کـړې وای زر سـره تـرې واري
هـېر بـه نـه کـړي پښتانـه ستاسـې يادونـه
څو ژونـدي وې، څو ژونـدي وي، څو ژونـدي
ښايـي دا چـې ويـې بولـم د "غـم قـرن"
"دا حبيـب" چـې څنـې ولاړئ حقيقـي[1]

کابل
۲۴/ ۲/ ۱۳٦۳المريز

[1] - د "غم قرن" تاريخي ماده ده چې ابجدي ارزښت يې ۱۳۹۰المريز دی. د "دا حبيب" ابجدي ارزښت ۲۷ دی، د (ولاړئ) د قرينې پـه اساس چې لـه تاريخي مادې څخه تفريق سي ۱۳٦۳المريز خنې راوځي لوی استاد د ۱۳٦۳المريز کال د ثور پـه ۲۰ د چارشنبې پـه ورځ وفات سو جـت دې ځای سي

(م. ه)

شاهي سعادت

# د اروابناد علامه عبدالحی حبيبي په ياد

ګيلــه مــه کــوه هيڅکلــه د نــن ورځې لــه پښتـــو نـــه
مايوسـي مـې پـه زړه جوړ کـړل د ناسـور سـوي زخمونـه
خپلــو وينــو کــښې لمبـېږي خــو پښتــون نــه راويـــښېږي
زه پـــه حـــال د دوی ژړېږم کـــړم آهونـــه فريادونـــه
عنعنـــات او خپلـــه ژبـــه هـــر څه واړه دوی هـــير کـــړي
چې خندا پـر خپـل بابا کـړی بيا شـي بـل پـر مـا اورونـه
نــه پوهـــېږم نــه پوهـــېږم بـــې ننـــګي لاڅه تـــه وايـــې
چې پښتـون د بـل پښتـون پـه وينـو سره کـړي دېوالونـه
لکـــه ګډې پـــه هـــر لـــور چـــې چـــا روان کـــړل
بيـــا دوی نـــه ګوري دا لـــوی لـــوی ګړنګونـــه
څوك تـــري اخلـــي د اســـلام پـــه نامـــه ګټه
غوړولـــی پـــير، مرشـــد ورتـــه جالونـــه
خپلـــه خـــاوره، آزادي هـــر څه تـــري لاړل
پښېمـــان نـــه دي د غفلـــت کـــوي خوبونـــه

# # #

حبيبـــي صـــاحب نـــن ورځ د طوفـــانونو سلســـلې دي
وينـو مځکـه ده رنـګ کـړې د اورونـو سـرې لمبـې دي
ځنکندن مو دی په خوله کښې موږ خو ستا يـو قدردانـه
شـاهي وايـي تـا ادب د پښتـو هسـك کـړو تـر اسـمانه